# لومړی څپرکی

## برزخ

سترګې مې درنې وې، لکه سره ګنډلې چې وي. یو څه زور مې وکړ. سترګې مې نیم کښې سوې. له چپ لوري تته رڼا راښکاره سوه. سر ته مې یو شی لکه سیوری چورلېده. سترګې مې پټې کړې، سترغلو باندې مې زور وکړ. بېرته مې سترګې وغړولې. دا ځل مې په چت پورې ځړېدلې پکه سهي کړه چې څرخېدله؛ خو داسې ښکارېدله لکه د پلاستیک له شا څخه چې ورته وګورې. د کوم شي ږغ مې اورېده چې چونګ، چونګ یې کاوه. ورسره مې د چا خرهار او د بل کرار زګیروي هم واورېدل. ځان رانه هېر و. زه څوک یم؟ دا کوم ځای دی؟ لکه سړی چې له درانه خوبه راویښ سي، په هېڅ نه پوهېدم. ستړی وم. بدن مې شخ پخ و. ما وې یو څه کښېنوونه (غځونه) به وکړم. لاسونه مې درانه وو. زور مې وکړ. پر مړوندو مې درد سو. سر مې نوکی پورته کړ. د څنګل په رګ پورې مې یو نری پیپ بند و. د سیروم له کڅوړې څخه یو یو څاڅکی پیپ ته راتېرېده. مړوندونه مې په سپینو ریتاړو باندې په چپرکټ پورې تړل سوي وو. یوه پښه مې تر بلې پورته پر یوه شي اینښوول سوې وه. ښی پونده مې نری نری خوږېده. په چپ ورانه پورې مې یو شی تړل سوی و. خوله مې ډېره وچه وه. ژبه مې تالو پورې نښتې وه. په سختۍ سره مې وویل: اوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

بېرته مې سترګې سره ورغلې. چا مې په خوله کښې په کاشوغه باندې اوبه راواچولې. دوه درې غوړپه مې وکړل. بيا مې سترګې پرانيستلې. په سپينو جامو کښې، شنه خولۍ پر سر، يوه سپينه نجلۍ، ګيلاس په لاس سر ته مې ولاړه وه. د هغې له لاسه مې په سر باندې ګيلاس پورې وواهه. چيغه مې وکړه: ځغله ! بې شرمې !

کړنګ سو، ګيلاس ولوېد. هغه په تلوار سره دوه ګامه شاته سوه. په سختۍ سره مې پر ژبې باندې يو څه نارې راټولې کړې، بيا مې د هغې خوا ته ورتو کړې.

په رډو سترګو يې راوکتل. هېڅ يې ونه ويل. په منډه له کوټې څخه ووته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم څپرکی

### د جنت خوبونه

هر وخت چې به مې د مور په سترګو کښې اوښکې ولېدې، پلار به مې را یاد سو. ما هغه نه و لیدلی. ما ګومان کاوه چې ټول کوچنیان به یوازې مور لري؛ خو یو وخت مې ولیدل چې د ګاونډیو ماشومان پلار هم لري. له مور څخه مې پوښتنه وکړه چې زما پلار چېرته دی؟

هغې په غېږ پورې ونیولم، لاسونه یې را نه تاو کړل. هېڅ یې ونه ویل.

سر مې پورته کړ. سترګې یې له اوښکو ډکې وې.

بیا مې وپوښتله: ادې ! زما پلار ولې کور ته نه راځي؟

د ادې اوښکې روانې سوې. په ژړا یې وویل: نانیه ! پلار دې جنت ته تللی.

ـ نو ته ولې ژاړې؟

بیا یې په غېږ پورې ټینګ کړم: هېڅ .

ـ جنت چېرته دی؟

ـ په اسمان کښې.

ـ په اسمان کښې؟ نو پلار مې څنګه وروخوت؟

ـ پرښتو له ځان سره یووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

ـ کله به بېرته راسي؟

پر تندي باندې يې ښکل کړم، ويې ويل: چوچيه ! هغه بېرته نه راځي. موږ به ورسو.

ـ کله؟

ـ هر وخت چې د خدای خوښه وي.

له هماغې ورځې مې جنت ته د تلو خوبونه ليدل. مور راته ويلي وو چې جنت ډېر ښکلی ځای دی. شنه باغونه پکښې کې دي. د شېدو رودونه او د شاتو ويالې لري. هلته نه گرمي سته نه يخني. هر قسم مېوه چې وغواړې، درته رسېږي.

مور راته د جنت هر څه ويلي وو؛ خو د حورو، غلمانو او د شرابو يې څه راته نه وو ويلي. درې کاله وروسته مې بيا د جومات د ملا صاحب له خولې د جنت نورې خبرې هم واورېدې.

يوه ورځ مې د گاونډي زوی وليد. پلار يې چې راغی، ده ورمنډه کړه. ځان يې هغه ته ورساوه، په پښو پورې يې ونښت. هغه ورته ټيټ سو، سر يې ورښکل کړ، يوه دانه کېله يې په لاس کښې ورکړه. هلک کېله سپينه کړه. يو شخوند به يې وکړ، بيا به يې ما ته راوکتل. کېله يې چې خلاصه سوه، راته ويې ويل: زما پلار خو راته هره ورځ کېلې راوړي.

ما ورته وويل: څه بچيه ! زما پلار خو په جنت کښې دی. هلته هر قسم ميوه سته. ما ته به ډېرې مېوې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل: وه لیونیه، ستا پلار خو شهید سوی. هغه خو شورویانو وژلی دی.

ما وویل: دروغ ولې وایې؟ پلار خو مې پرښتو اسمان ته بولی.

هغه راته کمپ ته نژدې غونډۍ راوښوده چې پر سر یې زرغونې او شنې جنډې رپېدلې. ویې ویل: پلار دې هلته ښخ دی.

بله ورځ نیکه مې غونډۍ ته بوتلم، پر یوه قبر یې ودرولم. راته ویې ویل: هغه مو دلته ښخ کړی و؛ خو پرښتو د خدای په امر اسمان ته یوور.

یو څو میاشتې چې تېرې سوې، زمور کمپ ته نوې کډه راغله. مور د سپینو کپړدیو او ختینو کوټنیو په منځ کې په موټر پسې منډې وهلې. موټر زمور د کور له درگاه سره ودرېد. له موټره یو ځوان له تورې لونگۍ سره راکښته سو. د پیک اپ شاته، د کالیو په منځ، په توره برقه کښې یوه ښځه هم ناسته وه. ښځه راکښته سوه او ژر زمور په کور ننوته. نیکه او دغه بل سړي له موټر څخه شیان راکښته کړل، زمور کور ته یې یوړل. مور راته وویل چې دا دې اکا دی او دا یې ماینه ده. وروسته پوه سوم چې اکا دا څو کاله په کلي کښې پاته سوی و چې واده وکړي؛ خو زما پلار راغلی و چې جهاد وکړي.

څو میاشتې مې ښه ساعت تېر و. هر وخت چې اکا به مې په کمپ کښې و؛ نو مازدیگر به یې له ځان سره پر غونډیو گرځولم. د خوراک یو نیم شی به یې هم راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

رانیوه. ما به هغه نه خوړ، په کمپ کښې به مې نورو هلکانو ته ښکاره کاوه. په خوړلو کښې یې دومره خوند نه و، ټول خوند یې په همدې کښې و چې هلکانو ته یې وښییم.

خو دغه خوشحالي لنډه وه. یوه شپه د مور د ژړا ږغ راویښ کړم. هغې د کوټې په خړ دېوال پورې تکیه کړې وه. د تور پوړني په پیڅکه یې اوښکې پاکولې. په ژړغوني ږغ یې ویل: زه سر سپینومه. زه هېڅ څوک نه کوم. زه به مې زوی رالوی کم. همدا مې هر څه دي.

مخامخ د دېوال ته نیکه ډډه لګولې وه. په ګڼه سپینه ږیره کښې یې ګوتې تېرولې. څو شېبې غلی و. سترګې یې د چت په تورو او سپنیزو ګاډرونو پورې ګنډلې وې. سپینه لونګۍ یې له سره ایسته کړه، څنګ ته یې پر نیالۍ کښېښوه. د سر تار تار ویښته یې چې په پوستکي پورې سرېښ وو، وګرول. بیا یې وویل: ما همدومره درته وویل چې ته ځوانه یې چې بیا خلک راپورې خبرې ونه کي. نوره دې خوښه خپله.

له هغې ورځې وروسته به اکا چنداني زما په کیسه کښې نه و. نه یې پر غونډیو ګرځولم، نه یې شیان راته رانیول. زه نه پوهېدم چې هغه ولې بدل سوی دی؛ خو څو کاله وروسته بیا خبر سوم چې اکا غوښتل مورمې ځان ته په نکاح کړي؛ خو مور مې نه وه منلې.

د دوی له راتګه چې څو میاشتې نورې ووتې، د اکا زوی پیدا سو. تک تور لکه د خپلې مور و. نوم یې هم تورکی سو. سترګې یې وړې وړې او خوله یې لویه وه. خوله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ان په هغه اولو ورځو کښې دومره لویه وه چې ما به دوې دانې چوشکې یوځایي په خوله کښې ورمنډلې.

اکا نور بیخي زما په کیسه کې نه و ؛ خو بابا به نازولم. تورکی کرار کرار لوییده، هغه چې په خاپوړو سو، نیکه هم د هغه ملګری سو. د تورکي خندا ته به یې خندل. ځان نه به یې آس جوړ کړ، هغه به یې په شټ کې کښېناوه، د اکا ماینه به هغه ټینګ نیوه او نیکه به په کوټه کې ګرځاوه. نور نو هېچا په ما پسې سر نه ګرځاوه، د هېچا نه خوښېدم. یوازې به مور په غېږ کښې نیولم او کله کله به یې ښکلولم. تورکي ته مې سخته رخه راتله. نیکه چې به هغه په غېږ کښې ونیو، زه به کرار ورغلم، لاس به مې په کراره د تورکي کوناټي ته ورساوه، ټینګه نوکاره به مې ورولګوله. د هغه ژړا به پورته سوه. نیکه به د اکا ناوې ته ورناري کړې: خدیجې ! راسه دا ټیزن دې واخله. هر وخت زما په غېږ کښې ژاړي. خو نیکه نه و خبر چې دا کار زما و. بیا به زه د هغه پر ځای د نیکه غېږې ته ولوېدم او په زړه کښې به خوشحاله وم. څومره چې لوییدم، هماغومره مې له تورکي څخه کرکه زیاتېدله. مور چې په کوټه کې وو، د هغه درې خویندې او دوه ورونه پیدا سول؛ خو له نورو څخه مې کرکه نه کېدله، یوازې تورکی مې بد ایسېده.

له اکا څخه مې خوا بده وه. همزولو به پیغور راکاوه چې څنګه دې څو ورځې مزې کولې، که د نر زوی یې؛ نو اوس هم شیان رانیسه. اکا خو دې نور شی درته نه رانیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

کله چې د مور په باب د هغه پر نیت پوه سوم؛ نو په زړه کښې مې ورنه کرکه پيدا سوه. د هغه د لاس ښکلول راباندې ډېر غمېدل. يو دوه وارې مې د هغه لاس مچ نه کړ؛ خو مور راته په غوسه سوه چې بې ادبي مه کوه، سړی د مشرانو لاسونه ښکلوي.

تورکی چې يو څه غټ سو؛ نو ما به کله کله واهه. هغه ډېر شيطان و. زما په شيانو به يې کار لاره. ما به د ژاولو او بيسکوټو کاغذان چې هلکانو به ايسته غورځول، راټولول او په کور کښې به مې تر ليمڅي لاندې پټول. پر دې کاغذانو به ښکلي رنګه عکسونه وو. تورکي زما کاغذان څيرل او ما به ورته څپېړې ورکولې. هر ځل به د هغه مور راغله او زه به يې ووهلم. مور يې د سنډا په شان غټه وه، تکه توره. ما په زړه کښې توره بلا بلله. هغه زما د مور غوندې بې خولې نه وه، ډېره پليته ژبوره وه. يوه ورځ چې زه يې په څپېړو ووهلم، پزه مې وينې سوه. مور چې مې پزه پربوللـه، ورته ويې ويل: خديجې! له لاس سره دې لړ پام کوه. نانی دې ژوبل کړی.

هغې ورباندې چيغه کړه: نو دی ولې زما ګلالی زوی وهي. چې دومره درباندې ګران دی؛ نو له ځان سره يې ساته.

ادې وويل: دا خو مومنان (ماشومان) دي، يو سات خپه يو سات خوشاله.

تورې بلا وويل: ستا زوی خوغټ سړی دی، کوچنی خو نه دی.

ادې را ته نصيحت وکړ چې د اکا په اولادونو کار مه لره؛ خو ما به خپل کار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اووه کلنۍ غاښ مې لا نه و لوېدلی چې سبقان مې شروع کړل. بغدادي قاعده مې په میاشت کښې زده کړه. بیا ملا صاحب راته قران شریف شروع کړ. لا کال نه و پوره چې غاښ مې ولوېد. بل کال ته مې قران شریف ختم کړ. مور مې ډېره خوشحاله وه. ما به چې د هغې خوشحالي ولیده؛ نو لا زیات سبقان به مې ویل. وروسته امام صاحب راته قدوري، خلاصه، مونیه، او شروط الصلاة وویل. د تورکي هېڅ شی نه زده کېده. هغه چې لوی سو ، ان دوه غاښونه یې لوېدلي وو چې ما به په کور کې سبقان ورته ښوول؛ خو د هغه سر په څه شي نه خلاصېده. چې رښتیا سي، زه د هغه پر تمبلۍ خوشحاله وم.

دې وخت کښې مې نیکه مړ سو. یوه ورځ یې پر خپل ټټر باندې لاس کښېښوو چې ځیګر مې خوږېږي. اکا هغه په موټر کښې واچاوه چې هسپتال ته یې بوځي. یو دوه ساعته وروسته یې بېرته په هماغه موټر کښې مړی راوړ. د نیکه په ژوند دومره نه ځورېدم. د پلار مینه به مې په هغه ماتوله؛ خو د هغه په مرګ بیخي یوازې سوم. وروسته له مورېسره د اکا چلند لا پسې خراب سو. هغه خپلې تورې ښځې ته هېڅ نه ویل؛ خو زما مور به یې کله کله وهله. ښځې به یې هر وخت پیغور راکاوه چې تر کله به زموږ خیرات ته ناست یاست، ورسئ ځان ته کوم کسب کار وګورئ. سبقان خو ښه ویلای سئ، کار ته مو بیا ملا ماته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

مور مې غاړې رغولې. ما سبقان ويل او په کوڅو کښې مې خالي بوتلان او کاغذان راټولول او پر کباړي مې خرڅول. ما ګردې پيسې مور ته ورکولې او هغې اکا ته.

يوه ورځ يو تور سړی چې د مولويانو په شان يې سپين دستار تړلی و، له دوو نورو سره چې سپين ګرد لمني کميسونه يې تر ښنګرو پورې رسېدل او يوازې يې پر زنو باندې لنډکۍ ږيرې لرلې، زموږ د کمپ جومات ته راغلل. د دوی پر سرونو يو بل ډول دستار و چې ما پخوا نه و ليدلی. شمله يې نه لرله. د دستار درې څنډې يې پر اوږو او شا ځړېدې. له هغوی سره دوه موټره فوجيان هم راغلي او د جومات شاوخوا ته درېدلي وو. هغوی په عربي ژبه زموږ ملا صاحب ته څه وويل. ملا صاحب زه او درې نور کسان ورته وښوولو. هغوی څو شېبې نورې هم سره خبرې وکړې. بيا ملا صاحب موږ ته وويل چې شيخ صاحب په کوټه (کوېټه) کښې مدرسه لري. له جوماتو څخه تکړه طالب العلمان راټولوي او مدرسې ته يې بيايي. شيخ بيا څه وويل او ورپسې ملا صاحب د هغه خبرې موږ ته وکړې: شيخ صاحب په خپله مدرسه کښې درې وخته ډوډۍ درکوي، د شپې ځای درکوي، جيب خرڅ هم درکوي. تاسو په خپلو کورونو کښې دا خبره وکئ. شيخ صاحب بله جمعه راځي او د چا چې خوښه وي مدرسې ته به يې بيايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې سودا يې وه؛ خو ما تر بلې جمعې شپې شمېرلې چې کله به شيخ صاحب راځي او ما له ځان سره بيايي. کور راباندې غمېدلی و. د اکا او تورې بلا او د تورکي زغمل راته سخت و. زړه مې غوښتل چې ژر دې جمعه راورسېږي چې مدرسې ته لاړ سم. دغه ورځ هم راورسېدله. زه له دربو نورو هلکانو سره دارالعلوم ته ولاړم. دا مې اول ځل و چې کوټه مې ليدله. غټ غټ مارکېټونه، پاخه سړکان، رنګ رنګ موټران او ډېر نور شيان پکښې وو. زموږ مدرسه خورا لويه وه. له درګاه څخه يې رانيولې تر اخر سره پورې د مرمرو سپينې ډبرې لګېدلې وې. هورې نور طالب العلمان هم وو، له نورو کمپونو څخه يې هم هلکان راوستي وو. هلته يې له ټولو څخه امتحان واخيست، بيا يې زه او عبدالهادي په يوه جماعت کښې کښېنولو؛ خو دوه نور اندېوالان يې رانه بېل کړل.

زموږ جماعتونه چې معلوم سول، د مدرسې ناظم په ګردو ځايونو وګرځولو. د درګاه په چپ لاس کښې د استنجا ځايونه او لېټرينونه(تشنابونه) وو. د غسل کوټې هم هماغلته وې. ما پخوا داسې څيزونه نه وو لېدلي. شاور، بايلر، نل او کموډ مې اول ځل په همدې مدرسه کښې وليدل او ګومان کوم چې نورو هلکانو هم پخوا داسې شيان نه وو ليدلي. د مدرسې ناظم راته وويل چې د اودس د وچولو لپاره به لوټې نه استعمالوو که نه نو د کموډ نلونه به بند شي. ده راته تشناب کاغذ راکړ چې استعمال يې کړو. بيا يې زموږ د درس خونې راوښودلې، په دربو ديوالونو پورې لګېدلې لويې

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو كتابونو پر ليكه نړۍ

کوټې، د ګردو کوټو درګاوې غولي ته خلاصېدې. د دغو کوټو په کونج کې دويم چت ته لاره ختلې وه، موږ په ناظم پسې وختلو، په دويم چت کښې مو د خوب خونې وې، په هره خونه کې لس کټونه.

وروسته ناظم صاحب د ډوډۍ خونې ته بوتلو. په اوږده کتار يو په بل پسې ودرېدو. آشپز هرو دوو کسانو ته په يوه نکلي پتنوس کې يوه کاسه ښوروا، دوې ټوټې غوښه، دوې دانې وچه ډوډۍ، دوې دانې کيلې، ورکول. ډېره موده کېدله چې کيله مې نه وه خوړلې. وروستی ځل مې چې غوښه خوړلې وه، هغه مهال و چې نيکه مړ سوی و. اکا سخوندر حلال کړی و او جنازې ته راغلو کسانو باندې يې وخوړله. ما په هغه ورځ غوښه وخوړه خو پر خوند يې پوه نه سوم.

تر ډوډۍ وروسته ولاړو چې اودسونه وکړو. د غولي په منځ کښې د اوبو لوی ډنډ و، دومره لوی چې موږ کم زيات دوه سوه کسه طلباو په يوه وار اودسونه پکښې وکړل. د ډنډ په شنو کاشيو کښې اوبه د اسمان په شان شنې ښکارېدې. اودسونه مو چې وکړل، حوض ته مخامخ لويه جامع ته ورننوتو، دوه چتونه يې لرل. ګردی ګنبده يې دومره لوړه وه چې که شل کسان هم يو د بل پر اوږو سپاره سوي وای لا به يې هم ګنبدې ته لاس نه وررسېده. ګنبده همدومره پراخه هم وه. ښکلي رنګه ګلان پرې رسم سوي وو. د ګنبدې په منځ کښې په لس دولس ګزه اوږده طلايي رنګه زنځير پورې د څراغونو ګېډۍ ځوړنده وه چې دوی ورته قنديل ويل. څلور رکعته سنت مو وکړل، بيا د سرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غالیو پر مصلی ګانو کېناستو چې امام صاحب فرض شروع کړي. په چت پورې ځړېدلې پکې چالانې وې، خوندوره یخه هوا یې راشړله. ما سر ورته پورته نیولی و. د هر صف له پاسه دو لس دانې پکې وې.

ملا امام صاحب په منبر کې ودرېد. محراب او منبر له یشمي مرمرو جوړ وو ، له پاسه یې د مرمرو پر بله ډبره کلمهٔ طیبه په تور رنګ حک سوې وه. امام صاحب چې تکبیرونه ویل، خواږه اواز به یې په لوړه ګنبده کې انګازې کولې.

په مدرسه کې یې سمه ډوډۍ راکوله. سهار یې ملایي راکوله، د شپې به یې کله پتاتې، کله سبزي او کله لوبیا یا دال پخول. په غرمه کې یې له غوښې او ښوروا سره مېوه هم راکوله. ما به ځو ورځې د خپلې برخې مېوه سره یوځای کړه او چې کور ته به تلم، مور ته به مې وړله. په هره میاشت کښې به یو ځل کور ته تلم. د جیب خرڅ روپۍ چې په مدرسه کې یې راکولې، د هغې نیمایي به مې هم مور ته ورکوله. په مور پسې ډېر خپه کېدم؛ خو میاشت وروسته به هم چې کور ته تلم، بیا به هم د اکا او د تورې بلا چلند راسره نه و ښه. ما به چې مور ته د سبقانو کیسې کولې، د اکا ماینې به تر سترګو لاندې راته بدبد کتل. کله کله به یې طاقت نه کېده او ویل به یې چې: دا هسې خوشې خبرې دي، نر هغه دی چې پیسې وګټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

خو مور به شاباسي راکوله. یوه جمعه چې کور ته ولاړم، د ادې تر چپې سترګې لاندې شنه لیکه تاوه وه. سترګه یې سره اوښتې او پړسېدلې وه. پوښتنه مې وکړه چې دا ولې؟

هغه موسکۍ سوه، ویې ویل: هېڅ نانیه! همدا سې مې سر راباندې وګرځېد. ولوېدمه.

ما وویل: دا نو څنګه چې بل ځای دې نه دی ژوبل، یوازې دې سترګه خوږ سوې ده؟

هغې وویل: نانیه، سترګه مې په درګاه پورې ولګېده.

زه پوه سوم چې خبره رانه پټوي. توره بلا همدا سې ناسته وه، له کوټې څخه بیخي نه وتله.

ما چې مور ته د جیب خرڅ پیسې ورکولې، هغې رانه وانه خیستې. ویې ویل: نور به چې راځې، پیسې به دې اکا ته ورکوې.

- ولې؟

- نانیه! زه به په پیسو باندې څه وکم؟ اکا دې د کور خرڅ راوړي، ما ته ډوډۍ راکوي، جامې راته کوي؛ نو ته دې پیسې هغه ته ورکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکا چې راغی ما ورسره د لاس روغبړ وکړ؛ خو لاس مې یې ښکل نه کړ. هغه څو شېبې ترېو تندی کښېناست؛ خو څنګه چې پیسې مې په لاس کښې ورکړې، د تندي ګونځې یې رنګې سوې.

په مدرسه کښې خوشاله وم. زه او عبدالهادي په سبقانو کښې تکړه وو. استادان رانه خوښ وو. عربي ژبه مو زده کړه. ورسره مو د صرف و نحو، بلاغت، منطق، ترجمه، تفسیر، فقه او حدیث کتابونه هم وکتل. هره جمعه به د مجاهدینو څو کسان زموږ مدرسې ته راتلل. دوی به په افغانستان کښې د مجاهدینو د مېړانې کیسې راته کولې. د جهاد فضیلت به یې بیاناوه. د شورویانو او خلقیانو ظلمونه به یې هم یادول چې څنګه جوماتونه په بمونو الوځوي، عالمان وژني، پر کلیو بمباری کوي، نه انسان پرېږدي، نه حیوان، ټول له یوې مخې قتلوي، قران شریفونه سوځوي، ان په لېټرینونو کښې یې اچوي.

زما وینه به په جوش راغله. زړه مې غوښت چې زه هم جهاد ته ولاړ سم؛ خو دوی به یوازې هغه طالب العلمان جهاد ته بیول چې ږیرې به یې راغلې وې. ما به هره ورځ دعا کوله چې خدای دې ژر زما پر مخ ږیره راولي. په کال کښې به یې دوه ځله یوه یوه هفته نظامي درسونه هم راکول. د کلاشینکوف خلاصول او بېرته تړل مې زده کړي وو. د هفتې په پای کښې یې د ډزو میدان ته بېولو. دغه ځای ډېر لرې د غرونو په ډډه کښې و. له لرې به مو ولاړې تختې چې د انسان عکسونه وربانديې لګېدلي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ویشتلې. وسله چې به مې په لاس کښې ونېوله، ډېر به خوشاله سوم. ځان راته د زمري غوندي مېړنی ښکارېده. اکا مې په دې هم بد ابسېده چې غټ سړی و؛ خو جهاد ته نه ته. هغه د ښځو په شان و، کرار یې په کور کښې اړولي وو. په کمپ کښې یې یو دوکانګی جوړ و. تورکی یې هم له ځان سره په دوکان کښې کښېناوه. د دین او د جهاد غم ورسره نه و، بس د دنیا ګټې ته یې سترګې نیولې وې، آخرت ځنې هېر و.

په مدرسه کښې مې ځلورم کال و چې افغانستان ازاد سو. مجاهدین کامیاب سول. اکا کډه بار کړه او کلي ته روان سو. زه او ادې هم هلمند ته ورسره ولاړو؛ خو کلي خوند رانه کړ. هره خوا ړنګ کورونه، کند وکپرې لارې او ښارې ځمکې وې. په لاره کې د سړک په غاړو کې وران ټانکونه، سوځېدلي موټرونه، د اوسپنو غټې ټوټې او د غټو مرمیو خالي نلۍ پرتې وې.

سهار وختي په تیاره کې له کوټې راروان سوي وو، کلي ته ماښام ورسېدو. کالي مو د ګاونډي په کور کې کښېنته کړل. شپه مو هماغلته وکړه. زه، اکا او تورکی د کور له نارینه وو سره په بېټک کې ناست وو، نور د ننه په سرای کې په بله کوټه کې وو. هغوی راته چرګ حلال کړی و، خوندوره ښوروا یې پخه وه. سخت وږی وم، په لاره کې مو یوازې ابشېدلې هګۍ په ډوډۍ پورې خوړلې وې. همدا چې د ماخستن لمونځونه مو وکړل، خوب راغی.

د سهار تر لمانځه وروسته اکا وویل: راځه چې خپل کور درباندې ووینم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د کور بامونه نړېدلي وو ، د ختو د بوالونه يې نيم روغ او نيم ړنګ وو. د کور په انګړ او شاوخوا کې يو زنګون وابنه ولاړ وو او ځای ځای د بمونو غتې او وړې اوسپنې پرتې وې. د ځاه د بوالونه نړېدلي وو. په ژړه کې يې ودرېدم، سر مې وروړاندې کړ. زما تر بوټ لاندې وړې ډبرې وښويېدې او په ځاه کې ولوېدې؛ خو له اوبو سره د لګېدو ږغ يې رانه غی.

اکا راباندې ږغ وکړ: پام چې ونه لوېږې. لږ لرې ودرېږه.

د ځاه دايره ارته سوې وه، په دبوالونو پورې يې ګڼ بوټي راشنه سوي وو. د کړکيو او دروازو ځايونه وو؛ خو خپله کړکۍ او دروازې يې ورکې وې.

په يوه کوټه ورننوتم، دوه درې چوغکې والوتې، ولاړې او د توت پر ونې کښېناستې. د کوټو په دېوالونو کې مارغانو ځالې جوړې کړې وې.

د کلي کاربزونه وچ وو. زموږ د ځاه په شان د کاريزونو دېوالونه هم نړېدلي وو.

يوه مياشت مې په کلي کښې تېره کړه. له اکا سره مې د کور په جوړولو کښې يو څه مرسته وکړه؛ خو ډېر کار مې نسو کولای، ژر ستړی کېدم.

زه چې هلته وم، زموږ د کلي او د شاوخوا کليو شپږ کسان پر ماينونو وختل. دوه يې شهيدان سول او د څلورو پښې غوڅې سوې. مالونه خو به هره ورځ پرې ختل. يو ځايګی هم امن نه و. سړي ته بيخي نه معلومېدل چې په کوم ځای کښې خطره سته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

او چېرته نسته. مياشت چې پوره سوه، نور مې گوزاره نه کېده. بېرته له يوه کليوال سره کوټې ته ولاړم، مدرسې ته مې ځان ورساوه. د عبدالهادي دوی کور لا په کمپ کښې و. هغه به چې کور ته ته، کله کله به يې زه هم له ځان سره بېولم. دوی د کندهار وو. پلار يې ويل چې په کليو کښې لا گوزاره کېږي؛ خو په ښار کښې نه. د وطن حالات سم نه رامالومېږي.

عبدالهادی مې نو د راز ملگری او پوخ انډيوال و. هر وخت به مې له هغه سره خواله کوله. هغه د اکا او تورکي دوی په هر څه خبر و. عبدالهادي خورا غيرتي ځوان و. په تقوا کښې يې هم جوړه نه وه. اکثره وخت به يې د تهجد لمونځونه کول، په دوو روژو کښې يې اعتکاف هم وکړ. همدا يې ارمان و چې فلسطين او مقبوضه کشمير دې ازاد سي.

دوه کاله نور مې هم سبقان وويل. په وطن کښې حالات خراب وو. د تنظيمونو تر منځ جنگ روان و. ما په دې دوو کلونو د کور کلي احوال نه درلود؛ خو يوه ورځ چا خبر راوړ چې مور دې ناجوړه ده، ته يې غوښتی يې.

پر سبا يې د کلي خوا ته وخوځېدم. همدا چې له بولدکه واوښتم، د ټوپکيانو ظلم شروع سو. چې گورم هر يو ــ دوه ميله لرې، يو يو پاټک جوړ دی. پر ځينو پاټکونو د رباني، پر نورو د گلبدين او پر يو نيم د نورو جهادي ليډرانو عکسونه منښتي وو؛ خو نور شيان يې سره ورته وو. په هر پاټک کښې لس دولس کسه ببر سري او يو دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغړزني هلکان ناست، څوک مسخرې کوي، څوک غبږه باسي. د چا په لاس کښې تر لستونې لاندې کرک پټ دی، چا د کوځه ډبه سپي په غاړه کښې پـــړی تـــړلی، دې خوا ها خوا ته یې څکوي او سات پرې تېروي. په هر پاټک کښې به یې موټر دراوه او له موټروان څخه به یې پیسې غوښتې. بیا به دعوې دنګلې وې. موټروان به زاری او رنګارنګې پلمې کولې:

_کومندان صایب ! والله که یې لرم. موټر مې خراب سوی و. ټولې پیسې په موټر باندې ولاړې، _اوله پېره مې ده. والله که مې اوغانۍ لا ګټلې وي. د سپرلیو کرایې مې په تیلو ورکړې، _صایبه له هغې خوا تش روان سوی یم.

خو دغو پلمو به په یو نیم ځای کښې کار وکړ. په نورو ځایو کښې به چې څو پورې یې پیسې نه وې ورکړې، قدم یې هم نه سو اخیستی. یو څو ځایه خو موټروان غریب څپېړې هم وخوړې. د کندهار ښار ته نژدې د بولدک دوراهي ته چې ورسېدو، د حکومت پاټکونه شروع سول. په اول پاټک کښې یې سخت تلاشي کړو. زما په جیب کښې د مدرسې کارت و. بس په همدې یې ونیولم چې ته د پاکستان جاسوس یې. ما چې هرڅه ورته وویل چې زه خو په مدرسه کښې سبقان وایم، د هغه خبره یوه وه. اخر موټروان څنګ ته کړم چې وه لیونیه دا څه لانجه دې راخیستې ده. ورکه، یو څو روپۍ ورکه چې خوشې دې کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

پاټک والا مې جیب ورسره سم نیم کړ. په دویم پاټک کښې یې بیا زموږ موټر ودراوه. یوه ببر سري له خیرنو ویښتو سره خپل سر د موټر په کړکۍ ننه ایست، په لوړ اواز یې وویل: هغه مدرسې والا کوم یو دی؟

ما وویل: زه یم وروه ! خدمت ښیبه.

له موټره یې کښته کړم. هماغه د اول پاټک کانې دلته هم راباندې وسوې. خو دا ځل یې جیبونه راته بیخي تش کړل. شپه مې په ښار کښې د عبدالهادي د یوه خپلوان کره وه. یو څه پیسې مې ځنې پور کړې. پر سبا یې د کلي په لور روان سوم. له کندهاره هاخوا هم خبره هماغه وه. هرځای پاټکونه او د لارویانو شکول. د سنګین تر دوراهي پورې په کانکریټي سړک کې ځای ځای کندې جوړې وې. موټروان وویل: «پخوا به مجاهدینو دلته ماینونه ښخول چې حکومتي موټرونه والوځوي؛ خو دا نه وه معلومه چې څوک پر برابرېږي. یو ځل د هرات په مسافرو ډک بس په ماین والوت، د ټانک ضد ماین به و، موټر یې لس ګزه هاخوا ته غوځار کړی و. د سړک په غاړه، د موټر پر ټوټو باندې د مړیو غوښ اندامونه پراته وو. هاغه لښتی وینې؟ هغه له وینو ډک شوی و.»

له دوراهي چې د سنګین خوا ته وګرځېدو، ډمبر ختم سو. په خامه سړک روان وو. د سړک په څنډو کې د ټانکونو او عسکري موټرو جنازې لا هم هماغسې پرتې وې؛ خو تر پخوا لغړې ښکارېدې. لکه ټپوسان چې د مړه ښاروي پر جسد برابر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، غوښې يې خوړلې وي او هډوکي يې پرېښي وي. موټروان وويل: «کباړ والاوو هغه څه چې په اسانه غوڅېداى شول، وړي دي. په دې درنو او سپنو يې زور نه رسېږي که نه دا به يې هم بار کړي وو.»

لس نيمې بجې سنګين ته ورسېدو. غټ بازار په کې جوړ و. دوکاندارانو د خپلو دوکانونو مخې ته اوبه شيندلې وي. دلته د نورې لارې غوندې موټر دوړې نه بادولې. په ختيځو هوټلونو کې د سندرو ږغ اوچت و، دومره لوړ چې له سل ګزه لرې اورېدل کېده: «يار مې هندو زه مسلمان يم، د يار د پاره درمسال جارو کومه.»

ما سر وښوراوه، لاحول ولله مې وويل.

موټروان راته کړه: ولې، شريکه. دا خو عبيدالله جان دى. زبردسته خوږ ږغ يې دى. څومره ښې لندۍ وايي.

ومې ويل: که خوږ دى که تريخ؛ خو ناروا دى.

موټروان لکه زما خبره يې چې بيخي نه وي اورېدلي، وويل: عجبه ځواني يې وه. ناځوانو په دښته کې وواژه.

- چا؟

- مجاهدينو. د خلقيانو اول که دويم کال و.

حيران شوم چې مجاهدينو يو وخت خلک د بدعت په خاطر واژه او اوس پخپله په غلاوو او ناروااوو لګيا دي. ظالمانو خپل جهاد يې پخپله برباد کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

غرمه د کجکي بازار ته ورسېدم. د هلمند سیند مې ولید چې لکه دروند سړی کرار روان و. پر سیند باندی د لرګیو زوړ پول د موټرانو د تېرېدو پر وخت، لکه د بوډا سړي اواز لړزېده او ګړېږده. باري موټر پرې نه سو تېرېدای. د پله په دې خوا کې یوه لاري ولاړه وه، پنډیان لګیا وو بار یې کوزاوه. څو نورو بیا په لاسي ګاډیو کښې شیان د پله پورې غاړې ته ایستل. دې خوا ته بیا بله لاري درېدلې وه، نورو پنډیانو بېرته بار له لاسي ګاډیو لاری، ته خېژاوه. په بازار کې کورونه تر پخوا ډېر سوي وو. بازار هم نوکي لوی سوی و. دوه درې ش دوکانونه خو ما وګڼل. د بازار په منځ کښې د زمینداورو اډې خوا ته روان وم چې چا راباندې رږغ وکړ: عبدالستاره !

شا ته مې وکتل. اکا و. هغه په کجکي بازار کښې د پرچون دوکان جوړ کړی و. بېرته ورسره وګرځېدم. له نانوایي څخه یې درې دانې ډوډې واخیستې، د نانوایي له څنګ سبزي فروشي نه یې نیم پاو مستې واخیستې. د دوکان مخې ته تورکي غبړه راکړه. اکا د مستو کڅوړه ورته ونیوه: هه، دروایې خله، شړومبې جوړې کړه.

د دوکان په غولي پر نیالیچې کېناستم. اکا مچ شړونی واخیست، د مالونو له سره یې دوړې وڅنډلې، ویې ویل: دا دوړې دې خدای ورکړې کړي، پوزې ته یې رسولی یم.

بیا یې یوه ټوټه ټوکر واخیست، په اوبو کې خیشت کړ، اوبه یې ونښتیځې او د ویټرین شیشې یېورباندې پاکې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توركي دسترخوان وغوړاوه. د شړمبو ډکه کاسه يې په منځ کې او درې دانې ډوډۍ يې د دسترخوان په څنډو کې کېښودې. د پټاټو شکنه يې باندې کړې وه، ښه پرېمانه مرچک يې هم په کې اچولي وو. ډېره موده پسته مې د کور ډوډۍ خوړله، ډېر خوند يې راکړی و. د مازديگر لمونځونه مو وکړل. لمر لا جگ ولاړ و چې خلکو د دوکانونو په بندولو بنا وکړه. ما وويل: په کوټه کې خو دوکانونه ان تر ماخستنه خلاص وي.

توركي چې د دوكان له مخې يې شيان دوکان ته ننه ايستل، وويل: كه لمر ډوبېدو ته نژدې سي، بيا نه سو تلای. په لاره كې مو غله شكوي.

اکا د خپل او د بل دوکان تر منځ له نرۍ لارې خپل موټرسيکل راوايست. ما و توركي د دوکان لرگينه درگاه بنده کړه. اکا موټرسيکل چالان کړ. تورکی د اکا شا ته کېناست او زه ورپسې.

لا نه وو خوځېدلي چې چا ږغ وکړ: يو کس مو ما سره شئ، زه يوازې يم. دا ځوان خو مې ونه پېژاند.

اکا وويل: وراره مې دی. له کوټې راغلی. تورکيه! ورشه لالا سره کېنه.

له بازاره ووتو، په دښته کې د قبلې خوا ته روان شوو. نژدې ماښام کاريز ښار ته ورسېدو. کور مو بدل سوی و. د تېر ځل په شان اوس وانښه ورنه نه و چاپېر. دېوالونه کاه گل وو. لويه کانټېنري درگاه په کنبې لگېدلې وه. د درگاه په خوله کې لوی بېټک ودان و. د سرای په منځ کښې يوه دوکانچه جوړه وه چې شين چمن پکښې ولاړ و. مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ته يې د شپې د ګلانو پټي و. د شبيو بوی ان د سرای په درګاه کېښې د سرې په سپږمو لګېده. يوازې زموږ نه، د ټول کلي کورونه سم شوي وو.

يوه هفته مې په کلي کېښې تېره کړه. هلته هم وضع چنداني ښه نه وه. د حزب او حرکت د قومندانانو تر منځ اخ و ډب روان و. زموږ د کلي قومندان په حرکت کېښې و. هغه د اکا انډيوال و. زما له راتګه چې خبر سو، يوه شپه يې له اکا سره ميلمه کړم. د مېلمنو لويه کوټه يې په ټوپکوالو ډکه وه. د کوټې په بر سر کېښې قومندان پښې غځولې وې. په څنګ کېښې يې د پنځه لس- شپاړس کالو يو تک سپين لغړ زنی هلک ناست و. هغوی به يو د بل په غوږ کېښې سره پسېدل او بيا به يې خندل. قومندان به له خندا سره د هلک پر ورنونو ګوتې ټينګولې.

ډوډۍ چې خلاصه سوه، د ماخستن لمونځونه مو په جمع سره وکړل. وروسته هغه سپين هلک له ټو نورو کسانو سره ووت. ټو شېبې وروسته په سره کميس کېښې يوه نجلۍ کوټې ته را ننوته. اوږده ويښته يې تر ملا پورې خوشې کړي وو، شونډې او غومبري يې سره کړي وو، سترګې يې تورې کړې او پر تندي باندې يې شين خال وهلی و. ورسره يو سړی دوتار په لاس او بل ډول پر غاړه هم راننوتل. اکا په غوږ کېښې راته وويل: وه هلکه ګوره چې څه ونه وايې. قومندان صايب دغه بنډار ستا لپاره جوړ کړی.

زما بيخي باور نه کېده چې زموږ په کلي کېښې دې داسې بې شرمه نجلۍ پيدا سي. چې ښه مې په ځير ورته وکتل، هماغه لغړ زنی هلک و، ځان يې د نجونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ جوړ کړی و. ساز شروع او هلک میدان ته سو. عجیبه چمونه یې کول. تاو راتاو به سو. تیونه به یې وښورول. ساز به تېز سو او دی به هم ورسره تېز وڅرخېد، بیا د ساز له دربېدو سره د یوه ټوپکوال مخې ته کښېناست. هغه به له جیبه شنه لوټونه راوکښل، د هلک پر سر به یې تاو کړل او هوا ته به یې وشیندل. ما اول ورته په حیرانۍ سره کتل؛ خو وروسته مې ورنه کرکه سوه. اکا ته مې وویل: زه ستړی یم، ځم بېد بېږم.

سبا ماښام له تورکي سره د کلي جومات ته تلم. هغه پر لاره راته وویل: «دلته هر قومندان همداسې هلکان لري. یوه شپه دلته بندار، بله شپه هلته. تر نیمې شپې پورې ساز ته ناست وي بیا سهار لمانځه ته نه سي پاڅېدلی. ان غرمه نژدې وي چې راپاځي او ناولي مخونه خپلو کورونو خوا ته ورسي. بیا د جمعې په لمانځه کې په اول صف کې همدوی وي.»

لمونځ چې مو وکړ، ملا امام موعظه شروع کړه. د جهاد په باب یې څو ایتونه تلاوت کړل. بیا یې څو حدیثونه هم بیان کړل، ویې ویل چې د حزب اسلامي د یوه کس وژل، د شورویانو د درېو تنو د وژلو اجر لري؛ ځکه چې حزبیان کافران دي.

هغه ډېرې خبرې وکړې. ټول غلي ناست وو.

ما وویل: ملا صاحب حزبیان خو زموږ ستاسې مجاهد برادران دي. پر مسلمان باندې د کفر فتوا ښه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

هغه راته نبغ وکتل. تورکي مې لاس ټينګ کړ چې غلی سه. ملا وويل: هغوی باغيان دي. د اسلامي حکومت امر نه مني. د اولوالامر نه يې بغاوت کړی. ***عطيو الله و عطيو رسول و من الامر منکم.*** د باغيانو وژل روا دي.

ما نور څه ونه ويل. چې راووتو تورکي راته کيسه وکړه چې: «د حزب ملايان هم حرکت والا کافران بولي. دواړه وايي چې د بلې ډلې وژل روا دي.»

عجيبه خبرې مې اورېدلې. پلانکي قومندان د پلاني لور په زوره وکړه. بل قومندان د شپې د يوه سړي کور ته ورولوېد ، د هغه ښايسته زوی يې په زوره بوت. اکثرو خلکو به خپل تنکي زامن چې يو څه ښکلي به وو ، د نجونو په شان په پرده کښې ساتل. ځينو خو خپل زامن، تر هغو چې ږيرې يې کېدې، د خپلو هغو خپلوانو کره استول چې کورونه به يې د دوی تر کورونو يو څه امن وو. په دې يوه هفته کښې مې داسې شيان وليدل او واورېدل چې کلی کور راباندې وغمېدل. ادې هم لکه چې په ما پسې مريضه سوې وه، زما په ورتګ رکه روغه سوه. ډېر مې ورته وويل چې د کوټې ډاکترانو ته به دې بوځم. ويې ويل چې يه اوس ښه يمه.

بېرته کوټې ته لاړم. سبقانو ته مې چنداني زړه نه کېده. هر وخت به په دې چورت کې وم چې ولې زموږ مجاهدينو د خدای او رسول لاره پرې ايښې ده. ولې يې ځانونه په ګناهونو ککړ کړي دي. يو څو مياشتې چې تېرې سوې، د طالبانو تحريک جوړ سو. زموږ د مدرسې ځينې طالبان هم په تحريک کښې وو. هغوی راته کيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې چې څنګه يې د لارو د غلو پاټکان لرې کړې دي. له قومندانانو څخه يې وسلې راټولې کړې او په کندهار کښې يې شريعت جاري کړی. د هلکانو ګډول، سروذ، د کرکانو او د سپيو جنګول، قمار، ټول غير شرعي کارونه يې بند کړي دي. زه څو وارې ورغلم چې ما هم جهاد ته ولېږي چې مفسد ټوپکيان له وطنه وشړم؛ خو مشرانو ويل چې ستا ږيره لا نه ده غټه سوې. ما به تر هر او داسه وروسته په هېنداره کښې د خپلې ږيرې نوي راوتلي نري تارونه په خوند سره کتل. زړه مې غوښت چې ږيره مې ژر ګڼه سي، اوږده سي او مخ مې پټ کړي چې زه هم جهاد ته ولاړ سم او هغه بې شرمي ختمې کړم چې په خپل کلي کښې مې ليدلې وې.

هره ورځ به د طالبانو د فتوحاتو نوي خبرونه راتلل. ماشالله د زمريانو غونډې جنګېدل. لکه د رسول اکرم په وخت کې به چې ملايکو د مجاهدينو مرستې ورتلل، هماغسې له طالبانو سره هم اللهي نصرت مل و. هر چېرته به چې ولاړل، خلکو به ورته ډوډۍ کوله. خلک خوشحاله وو چې د غلو او مفسدو ټوپکيانو له شره خلاصېدل. طالبانو په څلورو مياشتو کې کندهار، هلمند، روزګان، زابل، ميدان او غزنی فتح کړل، د خوست او پکتيا مشرانو په خپله ورپسې ورغلل چې راځئ. څومره به خوشحالېدم چې دا خبرونه مې اورېدل.

دوه کاله مې بې غمه خپل سبقان وويل چې کابل هم فتح سو او اسلامي امارت قايم سو. زموږ د مدرسې ډېر طالب العلمان د تحريک انډيوالان وو. هر چا به چې د مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

نعماني صاحب خبرې وا وربدې، خامخا به جهاد ته تلل. مولوي سميع الحق نعماني صاحب زموږ استاد و، پر ما او عبدالهادي ډېر مهربان و. هغه پر ګردو مهربان و. زبردست عالم و. په تقرير کښې بيخي بې جوړه. موږ به اکثره وخت د مازديګر او ماښام د لمونځونو تر منځ په هغه راټولېدو، د هغه خبرو ته به مو غوږ نيوه. نعماني صاحب پخوا د پنجاب په يوه لويه مدرسه کښې مدرس پاتې سوی و؛ خو اوس راغلی و چې افغان طالب العلمانو ته تدريس وکړي.

هغه ويل: افغانان ډېر غيرتي خلق دي؛ د همدې د پاره خو ما د پنجاب لويه مدرسه پرېښوده، دلته کوټې ته رالم چې د افغان بچو له خدمت اوکم.

هم د هغه خبرو راته خوند راکاوه او هم يې لهجه. مولوي صاحب د سوات و. د ((نسته)) پر ځای به يې ((نيشتې)) ويل. دا يې عادت و چې د خبرو پر مهال په خپله ګنه مۍ وريجې ږېره کښې يو ځل ښۍ او بيا چپه خوا ګوتې تېرې کړي. ما نېغ ورته نه سو کتلای. شنې سترګې يې خورا اثرناکې وې. سپين پراخ تندي او سره او سپين غومبرو ته به يې چې هر چا وکتل، ويل به يې چې مولوي صاحب نوراني سړی دی. نورو استادانو بحث ورسره نه سو کولای. دی په استدلال او په خبرو کښې بې ساری و. د هغه کالي او دستار مې هېڅ کله خيرن نه وو ليدلي. غير له سپين رنګه يې بل رنګ کالي نه اغوستل. يو خوږ عطر به يې هر وخت استعمالاوه چې بوی يې د سنځلو د ګلو په څېر نرم و. ځينو نورو استادانو به هم عطرونه استعمالول؛ خو د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطرونو تېز بوی درلود او د سړي نفس یې ورتنګاوه. پر ما او عبدالهادي د نعماني صاحب خاص نظر و. کله کله به یې موږ ته اوراد او وظیفې راکولې. موږ دواړو به هم د هغه درسونه په دقت زده کول.

په دې دوو کلونو کښې افغانستان ته تګ راتګ زیات سوی و. په میاشت کښې به خامخا یو چا د کلي حال رارساوه. د طالبانو درېیم کال لا نه و شروع چې یوه کلیوال خبر راکړ چې د مور ناروغي زیاته سوې ده. بیا کلي ته ولاړم. دا ځل چې له سرحده واوښتم. د سرحدي پاټک پر سر د طالبانو سپین بیرغ رپېده. د پخوانو پاټکیانو غلا او شکول مې رایاد سول چې پر خلکو به یې څومره ظلمونه کول؛ خو دا ځل چې تلاشۍ ته یې ودرولو، یو توري لنګوټې والا ځوان موټر ته راوخوت. د سنت په طریقه یې ښه پوره سلام واچاوه: «*السلام علیکم و رحمة الله و برکاته*» بیا یې وویل: ستړي مه سئ، پر لاره خو به مو څه تکلیف نه وي لیدلی؟ تر تلاشۍ وروسته یې ښه په عزت رخصت کړو.

دې کارنو داسې خوند راکړی و چې ښواکه مې په لوړ ږغ وویل، دوا دې سه ملا عمر صاحب له دې اسلامي امارت سره. له بولدکه تر کجکي پورې مې بل پاټک ونه لید؛ خو لاره هماغسې خرابه وه.

په کندهار کې مو یو کلیوال راسره ملګری سو، هغه د اکا انډیوال و. د کلي کیسه یې وکړه چې جنګ جګړې یو مخ ورکې سوې دي. بدعتونه او ناروا وې ختمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

دي. مفسد جهادي قوماندانان ګرده تښتېدلي دي او په کلي کې شريعت جاري دی.
کجکي کلي ته چې ورسېدو ، کليوال راته وويل: راځه چې همدلته کښته سو. له سيند ه
چې پورې ووځو ، بيا کلي ته دومره لاره نه پاتېږي. ها خوا ته بيا موټر پيدا کېږي چې
تر کلي په کښې لاړ سو.

سيند ته نژدې کښته سو. د هلمند سيند مې دا سې له نژدې نه و ليدلای. تېر
ځل چې د کجکي په بازار ولاړم، د پله له سره مې سيند ليدلای و ؛ خو اوس يې په
څنډه کې ګرځېدم. سل يو نيم سل ګزه سورور سيند ، له هغې غاړې تر دې غاړې پورې
يو ټينګ کېبل دوه - دوه نيم ګزه غځېدلی و. د يوه بس په اندازه او سپنيزه بېړۍ له
پورې غاړې راروانه سوه. شل – دېرش کسان په کښې ناست وو. حيران وم چې دا څنګه
چلېږي. چې نوکي رانژدې سوه، ومې ليدل چې جاله وان په غبرګو لاسونو کېبل ټينګ
نيسي او مخې ته زور کوي، ورسره بېړۍ مخته خوځېږي. چې ښه رانژدې سوه
راښکاره سول چې د بېړۍ په منځ کې يوه لوړه متېه ولاړه ده او د متې پر سر کړۍ. کېبل
د کړۍ په منځ کې تېره سوې وه. جاله وان چې د کړۍ له دې خوا نه کېبل ټينګاوه، کړۍ
په کېبل باندې ښوېيدله او بېړۍ يې مخې ته راځکوله. د سيند په غاړه کې د ماهيانو
مړ بوی لټېده. ځوانو هلکانو د کبانو سطلونه په لاسونو کې نارې وهلې، تازه ماهيان،
تازه ماهيان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببړۍ د لرګيو تختو سره چې د سيند په غاړه کې لکه هوايي پل لګېدلې وې، ودرېده. خلک ورنه کښته سول او موږ وروختو. دا مې اول ځل و چې په ببړۍ سپرېدم. وېرېدم. د ببړۍ اوسپنې نرۍ وې. تل يې په څو ځايونو کې درزونه لرل. ببړۍ چې حرکت وکړ، له درزونو څخه يې اوبه راپورته سوې او وار په وار سره زياتېدې. پښې مې د ببړۍ په تل کې د اوسپنيز چوکاټ پر سر کېښودې چې بوټونه مې لانده نه سي. جاله وان ته مې وويل: بابا، چې ډوب مو نه کې.

وموسېد: په توکل د خدای به دې صحيح سلامت پورې باسم.

د اوبو څپو به ببړۍ کښته خوا پورې واهه؛ خو جاله وان به کېبل ټينګ کړ او ببړۍ به يې بېرته سيده کړه. هم وېرېدم او هم يې خوند راکړی و.

له ببړۍ چې کښته سو، يو يو لس زريز نوټ مو جاله وان ته ورکړ.

لمرنبغ ولاړو چې کور ته ورسېدم. ادې خورا ډنګره او بې سېکه سوې وه. رنګ يې داسې الوتی و لکه ټوکر چې ډېره موده دې لمر ته غوړولای وي. ما ته يې همدومره وويل چې زنانه تکليف لري. د سيمې پر ډاکترانو او اخوندزاده ګانو ګرځېدلې وه؛ خو علاج يې نه و سوی. چا ورته ويلي وو چې اپرېشن غواړي.

بېګاه مې اکا ته وويل چې ادې به کوټې ته بوځم.

هغه وويل: دومره پيسې به له کومه کې، پر اپرېشن خو ډېرې پيسې لګېږي.

- يو څه به ته راکې، څه به زه په کوټه کښې پورکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

- زه خو اوغانی لا ولله که لرم.

چورت مې خراب سو. بله ورځ مې د پلار د اکا زوی ته کیسه وکړه. هغه وویل چې وروره له اکا څخه دې خپل حق وغواړه. دا دومره کلونه چې دې ځمکه ورته پرېښې وه، لږه ګټه خو یې نه ده کړې. پوهېږې چې هر کال څومره تریاک کوي؟ یاره لس منه خو یې دا سږ کال ټول کړي.

د هغه خبره راته لکه د اختر زېری و. بیګاه مې اکا ته د حق خبره وکړه.

هغه راته وموسېد، ویې ویل: وراره ګله دومره سبقان دې وویل؛ خو لکه چې ملا نه سوې.

تورکي کټ کټ وخندل. د هغه د مور تور غومبري هم سره وخوځېدل، خوله یې جینګه سوه، ژېړ مردار غاښونه یې راښکاره سول.

ما تندی ورته تریو کړ. تورکي او تورې بلا ته مې وکتل. اکا ته مې وویل: په دې کښې نو د سبقانو څه کار دی. خپل حق مې دی.

هغه ولاړ سو. ځادر یې وغوړاوه. ویې ویل: ته لا کوچنی یې، پر دې خبرو دې سر نه خلاصېږي. ما سره دې حق نسته. که نې منې ورسه له حاجي مولوي څخه پوښتنه وکه. دا ته او دا شریعت.

بې له دې چې زما ځواب واوري، ژر یې لمانځه ته نیت وکړ.

ما وویل: که لوی یم، که کوچنی، خپل حق درنه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا سهار د حاجي مولوي صاحب کور ته ولاړم. هغه زموږ د کلي ملا امام و. کیسه چې مې ورته وکړه، هغه را څخه پوښتنه وکړه: ستا پلار څه مهال شهید سو؟

- زما نه یاد یږي، ما بیخي لیدلی نه دی.

- نیکه دې څه وخت مړ سو؟

- د اتو - نهو کالونو به وم چې نیکه مړ سو.

- مطلب دا چې پلار دې تر خپل پلار د مخه مړ سوی؟

ما سر وښوراوه: هو کې.

هغه په پسته ژبه وویل: ملا صاحب! اکا دې ریښتیا وایي. ستا حق نه کیږي.

- ولې؟

- بس همدا د میراث حکم دی. که زوی تر خپل پلار مخکې ومري، میراث نه ورته رسیږي.

له کلي مې تمه وختته، توکل مې پر خدای وکړ. بله ورځ مې مور کوټې ته بوتله. کمپ ته ورغلو د عبدالهادي دوی په کور کښې مو واړول. د هغه مور زما له ادې سره ډاکتر ته ولاړه. دوه زره کلداري خو پر هغه ورځ په ټستونو ولګېدې. ډاکټر وویل چې پنځلس زره روپۍ یې د اپریشن خرچه کیږي. دنیا راباندې غمبدلې وه. نه پوهېدم چې څه وکړم. مدرسې ته ولاړم. ماښام نژدې و. اودس مې وکړ. د مولوي نعماني صاحب ږغ مې واورېد: عبدالستاره په خیرونه. کله رالې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

زه ولاړ سوم. د هغه لاس مې په غبرګو لاسو ونیو او ښکل مې کړ.

هغه تر مټ ونیوم، ویې ویل: رازه ! مانزه ته لا وخت شتې سو منته به ګپ شپ سره ولګوو.

ورسره رهي سوم. مولوي صاحب وويل: هلکه سه چل دې؟ ولې خفه يې؟

- نه يم خپه.

- بچيه ما درته کتل، خې خپه دې پينزه واري وويزه. که خفه نه وې؛ نو ولې به دې داسې کول هه؟ وايه سه چل دې؟

ما ورته د مور د مريضې کيسه وکړه. هغه راتـه ځو اوراد راوښوول چې دا تـر هغې پورې تکراروه چې زړه دې مطمين سي. خدای مهربان دی هر څه به اسانه سي.

سبا سهارتر لمانځه وروسته زه په ذکر لګيا وم چې نعماني صاحب راغـی. بيا يې تر مټ ونيوم او له ځان سره يې رهي کړم. پـه يوه ګوښـه ځای کښې يې شل زره کلداري په لاس کې راکړې، ويې ويل: شابه دا واله، د مور بي بي علاج دې پې وکه.

- دومره پيسې به بيا زه له کومه پيدا کم چې ببرته يې درکم؟

- خدای لوی ذات دې. يو سبب به درله وکي. او که وم نه شو؛ نو ما دربخلي. بس په مانزه کې راله دعا ګانې کوه، همدا مې بس دي.

د مور اپريشن وسو. هغه جوړه سوه. تـر اپريشـن وروسـته يـوه هفتـه نوره هم د عبدالهادي دوی په کور کښې پاته سوو. د ادې د اپرېشـن ټکونـه چې يـې واخيستل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي ته ولاړو. دا ځل مې یوه شپه وکړه. پر سبا یې بېرته رهي سوم. زړه مې غوښتل چې ژر مولوي صاحب وګورم. اوس نو هغه تر هر چا راته ډېر خپل ښکارېده. د هغه احسان غوټې مات کړی وم.

څه موده پس ته مې له نعماني صاحب څخه پوښتنه وکړه چې دومره ډېرې پیسې یې څنګه راکړې او له کومه یې کړې؟

هغه وویل: د الله تعالی دربار ډېر لوی دی. چې سه ورنه وغواړې درکوي یې؛ خو چې په اخلاص سره یې وغواړې. هماغه اوراد چې مې تا ته خودلي وو، پخپله مې هم ورد کول. بس الله را سره مدد وکو. که نه تا له خو پته شتې چې زما دومره تنخواه نیشتې.

د هغه خبرو راته شک پیدا کړ چې دی ولې نه وي. رایاد مې سول چې یو مازدیګر ډېر خپه وم، له یوه انډیوال څخه مې نسوار واخیست. ماښام نعماني صاحب په غور ېکښې راته وویل: بچیه په نسوارو غم نه غلطیګي. د خدای ذکر وکه چې زړه له دې سکون رایشي.

زه هېڅ نه وم لیدلی چې نسوار مې واچاوه؛ نو مولوي صاحب څنګه خبر سو؟ دا خبره مې له عبدالهادي سره شریکه کړه.

هغه هم راته خپله همداسې یوه کیسه وکړه، ویې ویل: یوه شپه احتلام سوی وم. نیمه شپه پاځېدم. حمام ته ولاړم. بایلر نه و لګېدلی. ما وې که اوس بایلر ولګوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړی www.ketabton.com

ځو چې اوبه تودېږي، نور طالبان به راويښ سي، بيا به رابانديې پوه سي؛ نو په يخو اوبو باندې مې غسل وکړ. زه هم هېڅچا نه وم ليدلی؛ خو سهار مولوي صاحب راته وويل: بچيه په شرع کې څه شرم. يخو اوبو سره مه لامبه چې بيمار نه شې.

له ځينو نورو هلکانو مو هم ورته کيسې اورېدلې وې. په زړه کښې مې د هغه مينه ورځ تر بلې زياتېدله. زه او عبدالهادي به چې يوازې سو؛ نو د ده پر صفاتو به مو خبرې کولې. عبدالهادي هم هغه ته ډېر احترام درلود.

يوه ورځ زموږ د مدرسې يو طالب العلم شهيد سوی و. هغه د کوټې و خو په افغانستان کښې يې جهاد کاوه، په مزار شريف کې چا ويشتلی و. د هغه جنازه يې چې راوړه، موږ ورته ژړل. د نيکه تر مرگ وروسته دا اول ځل و چې جنازه مې لېده. د هغه مخ مې وليد. تک سپين، ان شونډې يې هم سپينې وې. ما گومان کاوه چې هغه بيده دی. زړه ته مې نه لوېده چې مړ به وي. کفن يې د ټټر په حصه کښې په وينو سور و. ما اورېدلي و چې د شهيد وينه نه درېږي. سخته مې خوا بده وه. د گردو انډيوالانو له سترگو اوښکې روانې وې.

نعماني صاحب راغی. جنازه مو د دوی کلي ته يوړه. د جنازې لمونځ مو په نعماني صاحب پسې وکړ. شهيد مو دفن کړ. مولوي صاحب موعظه وکړه. د هغه خبرې مې هېڅ نه هېرېږي. ويل يې: ما اوليدل چې بعضې طلبا ژاړي. ما هم وژړل؛ خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهید د پاره مې نه دي جړلي. ما د زان د پاره وجړل چې الله پاک ولې زه شهید نه کړم. د شهادت د غه غټه درجه يې ولې ما له رانه کړه.

هغه د دستار په شف باندې خپلې اوښکې پاکې کړې. ږغ يې ژړغونی و. ويې ویل: د اعلای کلمة الله په لاره چې سوک شهید کیګي، هغه مړ نه دې، هغه جوندی دي. که تاسو وپوېګئ چې هغه اوس سومره خوشاله دې؛ نو تول به د خدای نه شهادت وغواړئ. اوس به ملایکو د هغه په قبر کې جنت له کړکۍ جوړ کړې وي. هغه به د جنت تماشه کوي او د الله شکرانه به ادا کوي چې دغه مقام يې ورله ورکړې. د ده په شهادت مه خپه کېګئ. دا د اویا تنو شفاعت کولای شي. دا به د اقاربو او علماوو او طالب العمانو شفاعت وکي او خدای به يې د ده په شفاعت جنت له بوزي.

استاد د صحابه وو د جهاد کیسې وکړې چې څنګه به يې په اسلامي جذبه پر کفارو حملې کولې، په هره غزوه کښې به څومره ملایکو د مجاهدینو مرستې ته راتلل. په دعا کښې يې په وار وار ویل: یا الله ما له شهادت راکه. یا الله چې په بستر کې د بې غیرتۍ مرګ راله رانه کې.

ما او عبدالهادي به هروخت مولوی صاحب ته زارۍ کولې چې جهاد ته مو ولېږي؛ خو ده به ویل چې وخت به يې راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

وختونه کړندي تېرېدل. طالبانو ټول ځايونو فتح کړي وو ، خلکو ويل په شمال کې يو څو کلي د شر و فساد په ولکه کې ده نور ټول وطن کې د طالبانو امارت قايم دی. يوه ورځ نعماني صاحب راغی، ويې ويل: مبارک مو شه.

گردو ورته حيران وکتل. ده وويل: د اسلام فدايانو احمد شاه مسعود دوزخ لـه ولېږل.

دا اول ځل و چې د فدايي کلمه مې واورېدله. استاده وويل چې فدايي هغه څوک دی چې د الله او اسلام په لاره کې سر قربانوي. ځان مرگ ته ورکوي خو د الله دين له مرگه بچ کوي.

مياشت به تېره وه که به نه وه چې د امريکې جنگ شروع سو. په مدرسه کې مو خورا زيات طالب العلمان راټول سوي وو چې کفارو مقابلې ته ورسي. نعماني صاحب دا ځل مورږ ته هم اجازه راکړه چې جهاد ته ورسو. مورږ ورغلو ؛ خو طالبانو د کندهار په قول اردو کښې تم کړو. مشرانو راته وويل چې تاسې نابلده ياست، همدلته پاتې سئ. درې هفتې په کندهار کښې پاتې سو ؛ خو دوې شپې مو هم په يوه ځايگي کښې تېرې نه کړې. هره شپه به مو ځای بدلاوه چې د امريکايانو له بمبارۍ بچ سو. هماغه کور چې برايي به مو شپه په کښې تېره کړې وه ، پر سبا يې ويشتل کېده. حيران وو چې دا څه رقم سترگې لري چې مورږ د ځمکې لاندې هم ليدلای سي. زمورږ ډېر انډيوالان همدا سې په بمباريو شهيدان سول. مورږنو ارمان کاوه چې يو ځل دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکایان پر ځمکه په لاس راسي، بیا به ورسره ګورو. اخر ټول وتښتېدل. هر څوک په خپله مخه ولاړل. زه هم کلي ته ولاړم.

په کلي کښې خورا ګډوډي جوړه وه. د طالبانو مشران تښتېدلي وو. بیا هماغه حرکتیان په ولسوالۍ کښې دېره وو؛ خو دا ځل د حزب اسلامي قومندانان نه وو چې ورسره ډغرې ووهي. د حزب قومندانان ټول له طالبانو سره ولاړ وو چې اوس فراره سوي وو. د حرکت قومندانانو نوې کانې پیل کړې وې. د خلکو موټران به یې په زوره بیول چې دا موټر طالبانو درکړی. ان د خلکو ټېکټران او موټرګاټان (موټرسیکلونه) یې هم ولجه کول. زموږ د کلي له یوه سړي یې غویان هم بیولي وو. هر قومندان ځان ته بندیخانه درلوده، هر څوک یې چې بد ابسېدل، پکښې وابه یې چول. زیات کسان یې په ډېرو ډبولو معیوبان کړل. ډېر خلک یې بې پوښتنې، بې محکمې شهیدان کړل. په هېڅ شي یې صرفه نه کوله. څوک نه وو چې پوښتنه وکړي. په دې څو کلونو چې زه کلي ته نه وم تللی، ډېر شیان بدل سوي وو. کاریزونه اکثره وچ سوي وو. ډېرو کسانو خپل د انارو او انګورو باغونه نړولي وو چې تریاک پکښې وکري. د اوبو لپاره یې برمې وهلې وې. دوی ورته بوړۍ ویله. څو ورځې چې تېرې سوې، بیا د هلکانو ګډول او د کرکانو ساتل او جنګول پیل سول.

په کلي کښې یوازې په دې باندې خوښ وم چې له مور سره وم. که نه خو هره ورځ یې راباندې کال تېرېده. د خلکو ناروا وې او بدعتونه د زغملو نه وو. نور خو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

پربېږده چې د توري بلا پيغورونو بيخي په تنګ کړی وم. يوه ورځ چې کور ته ورغلم، زما له ادې سره يې هسې کيسه پيل کړه: ها د شيرينو په زوی خبره سوې؟

مور مې وويل: نه څه پې سوي دي؟

په ملنډو يې وويل: نور نو څه وسي؟ مدرسې ته تللی و چې مولوی ځنې جوړ سي؛ خو اوس لنډغر ګرځي. د يوې اوغانۍ پيدا م نه لري.

مور مې غلې وه.

هغې بيا وويل: د طالبانو هغه امربالمعروف والا نه و چې د کرکانو په سر يې د توركي وريښتان خرييلي وو، هغه چارواکو نيولی. تورکی وايي مام زړه ورباندې يخ کړ. ښه مې وډباوه.

بيا يې کټ کټ وخندل.

هغه پوهېدله چې دغه کيسې پر ما بدې لګېږي؛ خو له کسته به يې هر وخت همدا سې کيسې کولې. ته وا دا به د بي بي سي راډيو وه. له هرځايه، له هرڅه خبره وه. په کور کښې د هغې له لاسه وخت راباندې نه تېرېده او د باندې د خلکو چلند راباندې غمبده.

د ژمي دوې مياشتې چې تېرې سوې، د پوجيو (للون) وخت راورسېد. ترياک دې ورک سي له دومره خوارۍ سره. پوجي نو دا سې کېږي چې د ترياکو د بوټو له منځه نور وا ښه للون کېږي. چېرته چې د ترياکو بوټي ګڼ وي، کوچني او کمزوري دا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښل کېږي او غټان يې پرېښوول کېږي. له هغه وخته چې د ترياکو بوټي د گوتې د يوه بند په برابر سي، تر څو چې له لوښتنه اوړي، پنځه- شپږ واري پوجي کېږي. پوجيگر د سهار تر لمانځه وروسته پر دوو پښو ورته کښېني، ان تر غرمې پورې همدا سې اخته وي. بيا چې د غرمې ډوډۍ يې وخوړه ببد بږي، پر دريو بجو راکښېني. تر چايو او د ماسپښين تر لمانځه وروسته بيا تر ماښامه کار کوي. ياره خلک خپل اولاد دومره نه نازوي، څومره چې ترياک نازوي. په يو حساب خو دوی هم نه دي ملامت. که نور هر څه وکري، د واټرپمپ د تېلو پيسې نه باسي. يوازې ترياک دي چې د دوی گوزاره پرې جوړه ده. د پوجيو په موسم کښې گرده خلک خپل زامن له مکتبو څخه اوباسي او پوجي ورباندي کوي. استادان هم ورته خوشاله وي، دوی هم ببغمه پر خپلو ځمکو کار کوي.

اکا مې هم خپله ځمکه کرلې وه او هم يې د بل سړي ځمکه په نيمايي نيولې وه. هغه سړي بوړۍ نه درلوده. اکا به له خپلې بوړۍ د هغه ځمکه اوبوله. د تېلو او موبلينو پيسې، تخم، کود هرڅه يې په نيمايي سره پرې کول او د ترياکو حاصل به هم نيم يوه او نيم بل اخيسته. اکا پخپله په کجکي بازار کښې خپل دوکان ته ته، تورکی يې هم ببوه؛ نو ماته يې وويل چې پر پوجيگرو وگرځم او د چايو او ډوډۍ غم يې وکړم. د پوجيو له غمه چې خلاص سو، د نبش وهلو وار راورسېد. دا نو د ثور د منځ شپې وې. گرمۍ بېخي بلا کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

وروستی نښ چې خلاص سو، یو دوې هفتې وروسته د نښ وهلو وار راورسېد. دا کار تر پوجیو هم سخت و. په مدرسه کې چې مونږ ته یې نظامي ټرینینګ راکاوه، یو رقم یې داسې و چې وسلې به مو په غاړه کې اچولې وې، په یوه لاس به مو د مېل له لرګین پوښه نیولی او بل لاس به پر ماشه ایښی و، د نورو اندیوالانو سره به ځنګه په ځنګ په یوه صف کې مخ ته روان وو او د غره په ډډه کې ایښې تختې به مو ویشتلې. دلته په پټیو کې نښګر هماغسې تلل خو د وسلې پر ځای یې په لاسونو کې نښونه وو. اته، نهه کسه نښګر به سره خوا په خوا ودرېدل او د پټي له یوه سره به یې تر بل سره په تلو تلو کښې د تریاکو پر غوزو نښونه وهل. د نښ او سپنیز کوچنیو غاښونو به د تریاک د غوزو په ډډو کې ځلور پنځه موازې کرښې وایستې. شپه چې به تېره سوه، پر سبا یې بیا د همدې تریاکو شېدې په تریاکیو کښې راټولولې. د تریاکو شیدې لکه موم ټینګې او په رنګ کې نسواري وي. د غوزې له هر نښه د یوې یا دوو چڼو په اندازه شیده راټوکېږي. تریاکۍ د کجکي پښان (اهنګران) جوړوي، دا کاشوغ ډوله او سپنیزې آلې دي چې یوه شونډه یې مقعره ده او د تریاکو د غوزې له محدبیت سره داسې جوخت برابرېږي چې د تریاکو شیده ضایع نه شي او ټوله په تریاکۍ کې ولوېږي. د تریاکۍ کوچنی لاستی د لرګیو وي. د نښګرو په ملا پورې پلاستیکي ټیمونه تړلي او لکه بټوه (**wallet**) یې په خوا پورې ځړېدلي وي. نښګر هر یو د پټي له یوه سره تر بل سره پورې همداسې مستقیم مخ په وړاندې روان وي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې مخې له غوزو څخه شیده راټولوي. تریاکی چې ډکه سوه، هغه په ټیمګي کې خالي کوي او له سره یې ډکوي. غرمه چې د ډوډۍ لپاره راځي، زه د ټولو نېشګرو ټیمونه په یوه غټه پلاستیکي ډبکه کې خالي کوم.

د تریاکو ترخه وږم له لاندې او سوځنده لمر له پاسه، د سرې سر داسې ګنګسوي، لکه نېشه چې یې کړې وي. ځوانان له نورو ولایتونو، ان له کابل او لغمانه هم د نېش په موسم کې زموږ سیمو ته راتلل. دوې ته مو په مزدورۍ کښې پیسې نه ورکولې. هغوې به هم په حاصل کښې پینځمه یا شپږمه برخه شریکان وو. عجیبه خلک وو، ټوله ورځ ستومانه کار او د شپې تر یوولس - دولسو بجو پورې ورقې. دوی هم زموږ د کلیوالو چمونه زده کړي وو. حسابي توره د هر یوه زده وه. دا نو خورا سخته لوبه ده. د ګردو دوه پینځوس ورقو حساب به نیسې چې د کوم رنګ کومه ورقه تللې ده او کومه یې له چا سره پاته ده، که دې حساب غلط کړ؛ نو تاوان درځي. د پتاسو غابونه وو چې خالي کېدل به، د شنو چایو ترموزونه به یو په بل پسې تشېدل. زه حیران وم چې دوی ولې خپل وخت پر دې عبثو کارونو تېروي. د دوی حافظه دومره ښه وه چې د ګردو ورقو حساب یې په ذهن کښې ساتلی سو؛ نو که سبقان یې ویلي وای، هرڅه به یې څومره ښه زده سوي وو.

تریاکو یو بل غم جوړ کړی و. مقتدیانو به خپلو امامانو ته په زکات او سرسایه کښې تریاک ورکول؛ نو ځکه امامتې خورا ډېرې سوې وې. پخوا به که په یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

لوی کلي کنبې يو جومات و ، اوس پينځو شپږو ته رسېدلي وو. ورسره نشه يان هم زيات سوي وو. د چرسو څکول خو نوره معمولي کيسه وه. هر مازيګر د دوکانو مخې ته چرسيان راټولېدل او سګرټيان به يې لګول. په هر کور کنبې د ترياکو کڅوړې هر ځای پرتې وې. کله خو به ځينو هلکانو چې له مور او پلار سره به يې لانجه کړې وه، د ځان وژلو په نيت به يې دومره ترياک وخوړل چې بېسده به کلينيکو ته وړل کېدل. يوه ورځ د ده بابا کلينيک ته ورغلی وم، هورې يو کابلي ډاکتر کار کاوه. دغسې يو خام هلک يې له موټره راکښته کړ او دوو کسانو په لاسونو باندې غځولی، ډاکتر ته يې وړ. ګرمي ډېره وه، ډاکتر په برنډه کې ناست و. هلک يې په برنډه کې پر کټ باندې واچاوه. هغه لکه مړی بې دمه و. ما وې بيخي ساه په کې نسته.

ډاکتر يې سترګې وکتلې. پوښتنه يې وکړه چې څه ورپښه ده؟ د هلک پلار وويل: دې پدرنالت، ترياک خوړلي دي.

ډاکتر ورته د سيروم کڅوړه چالانه کړه. د بل لاس په رګ کې يې لس دوولس پيچکاريانې سر په سر ولګولې، ته وا پيچکارۍ نه وې، کوډې وې. بس په څو شېبو کې هلک سترګې وغړولې. په مدرسه کې مو استاد هر وخت ويل چې په دنيا کې دوه علمونه دي يو د اديان او بل د ابدان. ابدان همدغه ډاکتري ته وايي. استاد به ويل چې دا نور شيان چې دي، دا انجينيري او نور کارونه دا علوم نه دي، فنون دي. علم يوازې د دين او د طب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چاروا کو سره اکثره همدا چرسیان، پوډریان او جوارګر ولاړ وو. د دوی ګزمې به چې پر هر چا پېښې سوې؛ نو تاوان به یې خامخا وراړاوه. کله چې امریکایان به ورسره راتلل؛ نو سم د سره ي زامن به ځنې جوړ سول، څوک به یې نه ځورول؛ خو دلته بیا بل غم و. یو نه یو کس به یې خامخا امریکایانو ته په لاس ورکاوه چې دا القاعده دی. ځینې کسان خو یې ان ګوانتانامو ته استولي وو. د امریکایانو په لیدو ډېر ځورېدم. ځان راته بد ابسېد چې زه د سرکوزو په شان ورته ګورم او دوی بې غمه ګرځي.

په کلي کښې مې دویم کال هم همدا اسې تېر سو. د تریاکو راټولول چې خلاص سول، بیا وزګار سوم. نور نو بیخي وخت نه راباندې تېرېده. له خلکو سره مې هم نه وه جوړه. هر مازدیګر به د زاړه ښار غونډۍ ته تلم او د ماښام تر اذانه پورې به هورې کښېناستم. زوړ ښار زموږ د کلي په څنګ کښې و. دا د یوې لویې کلا پاتې شونې وې چې په منځ کښې یې یوه نیغه غونډۍ ولاړه وه او چارچاپېره یې نړېدلي دېوالونه. هر دېوال یې پنځه شپږ سوه ګزه به اوږد و. په هر ګوټ کښې یې د نړېدلو برجونو نخښې ښکارېدې. سپین ږیرو ویل چې دا د امیر کروړ ښار و؛ ځکه خو یې زوړ ښار باله. دوی ویل چې ډېر کلونه انزر کاله پخوا امیر کروړ یو پاچا تېر سوی. دا سې ښکارېدل چې پخوا به د دې غونډۍ پر ځای کومه کلا ولاړه وه؛ ځکه چې ځای ځای پکښې ګچ او اومې خښتې ښکارېدلې. ځینو کسانو پکښې کیندنې کړې وې. خلکو ویل چې یو نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

کس ته سره زر او زاړه لوښي په لاس ورغلي دي. یو مازدیگر پر غونډۍ ناست وم چې د کاریز موغري د کلي یو ځوان راغی، زما خوا ته کښېناست. هغه ولي محمد نومېده. پلار يې امریکایانو په گوانتانامو کښې بندي کړی و. کله کله به مې له هغه سره د زړه خواله کوله. هغه هم هرچا ته حال نه سو ویلای؛ نو ځکه به ما ته راته. ولي محمد راته وویل:

ـ شریکه دې شین سترگو ته دې پام دی؟

ما وویل: هو کې، ښه يې وینم؛ خو څه وکړو؟ څه مو له لاسه نه دي پوره.

ـ په دهراوت کښې طالبان سره راغونډ سوي دي.

ـ نو ته څه وايي چې هورې ولاړ سو؟

ـ شریکه، زما خو ورته سودا ده چې ولاړ سم.

ـ کلیوالو ته به څه وایو؟

ـ په کلي کښې به وو ایو چې مور د بلې ناوې دایرې ته ځو چې سبقان وو ایو.

بله هفته دواړه د دهراوت خوا ته وخوځېدو.

مور ته مې په پټه وویل چې زه ببرته کوټې ته خپلې مدرسې ته ځم؛ خو چې نورو ته حال ونه وايي.

د دهراوت په غرونو کښې له طالبانو سره یو ځای سو. هغوی به له ولي محمد سره له پخوا پېژندل، ځکه خو ښه ټینگ روغبړ يې ورسره وکړ. څو ورځې يې راته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکټ او ثقیل د استعمال ټرېننګ راکړ. د لاسي بمونو او د ټانک ضد ماینونو په چم یې هم بلد کړو. ما د وسلو استعمال ژر زده کړ. ولي محمد هم بد نه و؛ خو هغه یو څه ډارن و. پر دویمه هفته خبر راغی چې د امریکایانو قواوې پر دې لاره تېرېږي. موږ ورته ځانونه تیار کړل. په یوه دره کښې په کمین ورته کښېناستو. دا نو یوه تنګه دره وه چې د هسکو تورو غرونو په منځ کښې لکه لوی ښامار اوږده غځېدلې وه. درې په بر سر کښې څو لارې لرلې؛ خو دا بل سر یې یوه لاره درلوده چې د ښتې ته وتله. لاندې نرۍ لاره او په خوا کښې یې سیند و. موږ د درې په همدې سر په یوه پېچومي کښې دوه ځایه د ټانک ضد ریموټ والا ماینونه ښخ کړل. د ماین په فیوز پورې مو دوه مزي وتړل. مزي بیا په یوه ټیکلي پورې تړل سوي وو. له ټیکلي څخه دوه نور مزي یوې اویا امپیرې بټرۍ ته ورغلي وو. بټرۍ مو هم د ماین تر څنګ ښخه کړه. د ماین پر برابر د غره یوه ډبره مو په سره رنګ باندې په نښه کړه. مخامخ د درې په بله ډډه کښې یو عرب مجاهد زموږ له څو انډیوالانو سره پټ سوی و. ریموټ د عرب مجاهد په لاس کښې و. هغه زموږ انډیوالانو ته د ریموټ استعمال ورزده کاوه. موږ ته یې په ټریننګ کښې راښوولي وو چې څنګه د کفارو اول موټر، سرې ډبرې ته ورسېد، باید د ریموټ تڼۍ کښېکاږو.

د درې په دواړو خواوو کښې زموږ یو- یونیم سل مېړونه پټ وو. له ما سره راکټ و. د سهار لمونځونه چې مو وکړل، په مورچو کښې کښېناستو. لمر نوی د غره

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

پر سر ختلی و چې د امریکایانو د موټرو غرهار مو واورېد. زړه مې ټوپونه وهل. خورا خوشاله وم چې نن مې د جهاد ارمان پوره کېده. شېبه وروسته د هغوی اول ټانک زما له مخې تېر سو. زه د غره پر سر د یوې ډبرې شاته پټ وم. موږ ته مشرانو ویلي وو چې څنگه د امریکانو پر اول موټر ماین پټاو سو، تاسې به ډزې پیلوئ. د کتار په سر کښې دوه خړ امریکايي ټانکونه روان وو. ورپسې پنځه - شپږ برگ رېنجر موټران تېر سول. په دې وخت کې ماین پټاو سو.

د الله اکبر نارې پورته سوې. ما د راکټ دوربین په یوه رینجر وربرابر کړ، ډز مې وکړ. گړز سو، سرې لمبې پورته سوې. د رېنجر منځ مې ویشتلی و. ژر مې بل راکټ ورته برابر کړ. ورپسې موټر مې هم وويشت. زموږ اندیوالانو د ثقیل ضربې کولې. له لاندې د امریکایانو بوغارې پورته وې. د هغوې مرمۍ زموږ شاوخوا ته پر ډبرو مښتې. پوه نه سوم چې څونه وخت مو سره وډزول؛ خو یو وخت مو پام سو چې د هغوی له خوا مرمۍ نه راځې. د تکبیر په نارو ورشېوه سوو. له هغو موټرانو چې ما ویشتلي وو، د خړو لوگیو په منځ کښې لا د اور کوچنۍ لمبې ولاړېدې. ښه ورنژدې سوم. د اول موټر په منځ کښې پینځه کسه وطني امریکایان (افغاني عسکر) سوځېدلي وو، تک تور سکاره ځنې پاتې وو. د دویم رېنجر د مخ بانټ او انجن یو مخ وېلي سوي وو. په سیټ کښې یې یوازې د یوه کس دواړه لینگي پر سوځیدلې چوکۍ پاتې وو، نور بدن یې د موټر له خلاصې دروازې د باندې څوړند و. د موټرانو په دوړاو خواو او د سیند

(c) ketabton.com: The Digital Library

په څنډه کښې بلا ډېر مړي پراته وو. نور اندېولان مې پر مړيو ګرځېدل او وسلې يې راټولولې؛ خو ما سيل کاوه. يو چا ږغ وکړ:

هلئ دلته راسئ. دی خو لا ژوندی دی.

په منډه د کتار پای سر ته ولاړو. يو امريکايي پر اړخ پروت و. خپله پښه يې ټينګه نيولې وه، بوغارې يې وهلې. يوه پايڅه يې له ورانه تر پوندې پورې په وينو سره وه. زموږ يو مشر راورسېد. امريکايي يې پړ مخې پرې ايست. د خپل واسکټ له جيبه يې چاړه راوايسته. د هغه د وسپنيزې خولۍ تسمه يې غوڅه کړه. خولۍ يې ايسته سيند ته ګوزار کړه. د عسکر پر شا باندې يې خپله چپه پښه کښېښوه. د چپ لاس دوې ګوتې يې د امريکايي په سترګو کښې ورومنډې. د هغه چيغې پورته سوې. نورې ګوتې يې د عسکر په تندي او سر کښې ټينګې کړې او سر يې پورته خوا راقات کړ.

امريکايي ژړل. چيغې يې وهلې. په خپله ژبه يې څه ويل؛ خو موږ پرې نه پوهېدلو.

مشر مو الله اکبر وويل، د هغه پر ستوني يې چاړه تېره کړه. وينې دارې وهلې. مشر د هغه سر بيخي غوڅ کړ. بيا يې پرې شوی سر تر وېښتو ونيو. پورته يې کړ. پر مخ باندې يې نارې ورتو کړې. ما نور ورته نه سو کتلای. بوږنېدلی وم. ځای پر ځای کېناستم سر مې پر زنګنو کېښود، سترګې مې پټې کړې وې خو د مړي غوڅ سوی سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

مې هره شېبه سترګو ته درېده. یوه ورځ مې اکا په انګړ کې چرګ حلالاوه او ما ورته کتل. یوه پښه یې د چرګ پر وزرونو اېښې وه او بله یې د هغه پر پښې. چې د چرګ سر یې ورپرې کړ، خپلې پښې یې لرې کړې او چرګ یې خوشې کړ. هغه په شتهنکو پیل وکړ، پورته پورته به غورځېده او له هر وار غورځېدو سره به یې له غاړې وینې دارې کولې. ما په هغه شپه د چرګ غوښه ونه شوه خوړلای. چې غوښې ته به مې کتل، د چرګ شتهنکې به رایادېدلې. نژدې وه خوا مې وګرځي.

یوه انډیوال مو پاس له غره څخه چیغه کړه: هلئ چې طیارې راغلې. ځانونه پټ کړئ.

مخ په بره مې منډه کړه. یوې سوړې ته ورسېدم. پکښې ورننوتم. شېبه نه وه تېره چې ګړزهار سو. داسې درنې چاودنې وسوې چې غر یې له غره سره وښوراوه. د سوړې له چته څو ډبرې راخطا سوې. سوړه له دوړو ډکه سوه. ما ویل اوس به غر راباندې چپه سي. پوزه مې په لونګۍ پټه کړې وه چې له دوړو بچ سم. دوړې چې لږې کېناستې، ورو ورو د سوړې خولې ته ولاړم، په احتیاط سره مې د باندې وایستٍ چې تازه هوا تنفس کړم. د درې پر سر دوې چورلکې ګرځېدې، یو دم راباندې ډزې وسوې. د شاوخوا له ډبرو وړې ټوټې د باروتو له بوی سره په هوا شوې. ژر د ننه لاړم او د سوړې په بر سر کې پټ سوم. چې ګړزهار چوپ سو راووتم. امریکایانو خپل موټران په بمونو ویشتلي وو. له ګردو موټرانو څخه تور دودونه پورته وو. زموږ ځینې انډیولان

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په بمونو او مرميو لګېدلي وو. څوک شهيدان او څوک ټپيان سوي وو. د امريکايانو مړي تري تم سوي وو؛ خو د وطني امريکايانو جسدونه هماغسې پراته وو.

په کليو کښې د امريکايانو جاسوسان زيات وو. مشرانو راته وويل چې اوس به خامخا ډېره قوا را پسې راسي او کور په کور تلاشي به وکړي؛ نو ټول به سره خواره سو. چې بل عمليات مو کاوه، بيا به خبر درکړو.

يوه پنجابي ډاکټر زموږ د ټپيانو زخمونه وروتړل؛ خو د پېښځو کسانو ټپونه ژور وو. مشرانو ما ته وويل چې ته خو په کوټه کښې بلد يې؛ نو ته به له څو نورو انډيوالانو سره دغه ټپيان کوټې ته ورسوې. ټپيان مو په دوو ډاټسنو کښې واچول، روان سو. يو څه مزل مو کړی و چې د تور سرو ژړا و فريادونه مو واورېدل. لږ وړاندې مې پر لاره د يوه ماشوم تور پلاستيکي بوټ ولېد. موټر مو ودراوه، زه ورکښته سوم. يوه ډنګره توره ښځه په بوټ کښې وه. ښځه تر زنګانه لاندې غوڅه وه. د دوو هډوکو سپين سرونه د پلو په منځ کښې ښکارېدل. ټوله ښځه او د بوټ يوه څنډه په توربخونو سرو وينو لړلې وه. نوکي بره د غره په لمن کښې څو مېږو او وزو بوغارې کولې، ها خوا دې خوا يې ترهېدلې منډې وهلې. زه وروختم. هورې د لس دولسو کالو ماشوم ټوک ټوک پروت و. کالي يې داسې پرې پرې وو چې ته وا چا به په چړې پرې کړي وي. سر او مخ يې ګرده سوځېدلي وو. ګرد سره د پېژندلو نه و. سترګې يې راوتلې وې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

سترګو ژورغالي يې داسې ښکارېدې لکه په تناره کښې چې سرې سکروټې پرتې وي. ګرده بدن يې زخمي زخمي وو. د غوځې پښې له ټپه يې ټينګه تور بخونه وينه د ژېړو وښو پر سر نرۍ لاره جوړه کړې وه. ښايي له ماشوم سره به د خپلو مېړو د لوږې غم و ؛ ځکه خو يې تږي وا ښه په خپلو وينو اوبه کړي وو ؛ خو وا ښه خونخواره نه وو ، وينه يې نه وه ځبېښلې. څو ګامه بره ډبرې داسې سوځېدلې وې چې لا هم تاو ځنې لتېده.

شا و خوا ته د څو مېړو او وزو مړي پراته وو. د هلک مړی مو په موټر کښې واچاوه. د درې په سر کښې د لس پينځه لسو کورونو يو کوچنی کلی و. امريکايانو پر دې کلي هم بمان غورځولي وو. شپږ اوه کوره يې خچ پچ کړي وو. تور سرې، کوچنيان او سپين ږيري يې ګرد سره تر خاورو لاندې کړي وو. د کوچنيانو او تور سرو بوغارو کلی په سر اخيستی و. د نړېدلو کورونو له منځه خړ دودونه لتېدل. کليوالو د خاورو په کوټو کښې خپل عزيزان لټول. د لوښو ټوټې او د نيالیو نيم روغ نيم سوځېدلي ټوکران يې له خاورو راايستل. د کليوالو اروا هم په موږ نه وه خبره چې امريکايانو ته مو لاره نيولې ده ؛ خو دې بې غيرتانو داسې ظلم ورباندې کړی و. سخت درد راغلی و چې ډغرې موږ ورسره وهو ؛ خو کسات يې له تور سرو اخلي. پر ځمکه والله که رانه خلاص سي ؛ خو څه وکړو اسمان ته مو لاس نه رسي.

زما خوا هغه امريکايي ته بده وه چې زموږ مشر يې سر غوڅاوه ؛ خو د کليوالو حال چې مې ولېد ، پوه سوم چې پر کفارو رحمېدل غلط دي. ما په ستلايټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټېلفون کښېنې مشر ته خبر ورکړ چې د کليوالو مرستې ته دې څوک راولېږي. د هلک مړی مو راکښته کړ. څو تنه کليوال زموږ خوا ته راغلل. هر يوه له بل څخه پوښتنه کوله: څوک دی؟ ودې پېژانده؟

چا وويل: دا کالي خو يې د ګلالي دي.

بل يې هغه ته ټونګه ورکړه: غلی سه چې مور يې راغله.

شېبه نه وه تېره چې يوه په عمر پخه ښځه راورسېده. چې ښه رانژدې سوه، ويې پوښتل: دا څوک دی؟

ټول غلي وو.

هغې د خلکو په منځ کښې ځان ته لاره جوړه کړه، د مړي خوا ته کښېناسته، د هلک د خيرې لستوڼي له منځه يې د هغه مټ ته لاس يووړ. د تاويز بند يې په ګوتو راکښ کړ، تاويز يې راوايست، يو دم يې چيغه کړه: وه خدايه !

په خپل مخ باندې يې د څپېړو باران جوړ کړ، نارې سورې يې پيل کړې: وه د ګلالي پلاره ! څه سوې؟ هله چې بوره يې کړم. وه خدايه، وه سړيه چېرته يې ځان راورسوه.

درګرده يې چيغې وهلې، په غبرګو لاسونو يې پر سر خاورې بادولې، ويښته يې شکول، د مړي پر ټټر يې سر لګاوه، بيا پورته کېده. د لېونيانو په شان يې څو ګامه بره منډې وهلې، بېرته راګرځېده، بيا بلې خوا ته ځغسته، بېرته د مړي څنګ ته راتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

څو نورې تور سرې راورسېدې، هغه يې ټينګه کړه. ما نور ځان نه سو ټينګولای. اوښکې مې بې اختياره وبهېدې. مخ مې موټر خوا ته کړ. د لونګۍ په شف باندې مې اوښکې پاکې کړې. موټر ته وختم. د لاس په اشاره مې موټروان پوه کړ چې حرکت دې وکړي. تر ډېره ځنډه ټول غلي وو. په موټر کښې داسې چوپتيا وه، لکه په هديره کښې چې وي.

له انډيوالانو سره مې د غرو پر لارو دوه ورځې مزل وکړ، ايله چې کوټې ته ورسېدو. په کوټه کښې زموږ نور انډيوالان ډېره وو. هغوی ټپيان يوه هسپتال ته يوړل. زه د مدرسې پر لور رهي سوم. چې څنګه مدرسې ته ورسېدم، پر عبدالهادي مې سترګې خوږې سوې.

د مولوي صاحب پوښتنه مې ځنې وکړه. هغه وويل چې مولوي صاحب ډېر يادولې. دواړه ورغلو. ما ورته د خپلې تورې کيسه وکړه.

مولوي صاحب پر اوږه وټپولوم، ويې ويل: زه پوهېدم چې ته به د ما ارمان پوره کيې. خدای دې اجرونه درکي.

بيا مې پر کليوالو د امريکايانو د بمبارۍ کيسه ورته وکړه. د هغوی له سترګو اوښکې روانې سوې.

تر څو ورځو پورې د مدرسې د انډيوالانو د پوښتنو له لاسه په عذاب وم: امريکايان څه ډول دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خنزیر غوښه یې خوړله؟

بربنډې مېرمنې ورسره وې؟

وایي چې دوی په ولاړو بولې کېږي؟

په رښتیا امریکایان د قران په پاڼو کونه پاکیي؟

وایي امریکایان لکه شورویان مور و خور نه پېژني، له ټولو سره زنا کوي، دا رښتیا ده؟

داسې پوښتنې یې کولې چې زه یې بیخي حیران کړی وم. ما وویل چې زه خو د هغوی په منځ کښې نه وم چې په هرڅه یې خبر اوسم.

بله ورځ عبدالهادي وویل: اورېدلي مې دي چې چارواکي عیسویان سوي دي، دا رښتیا ده؟

ما وویل: نور خو مې نه دي لیدلي؛ خو زموږ د کلي قومندان لا لمونځ کاوه.

ـ وایي ټول شراب چښي؟

ـ نښخه (نه یم خبر). له شرابو یې خدای خبر؛ خو ټول چرسیان او پوډریان ورسره ولاړ دي.

څو ورځې وروسته ما غوښتل چې بېرته له اندېوالانو سره دهراوت ته ولاړ سم. د دهراوت په غزا کښې زموږ مشر یو څه پیسې په لاس راکړې وې. بیا چې کوټې ته راتلم شل زره کلداري یې د جېب خرڅ لپاره راکړې. د مولوي صاحب هغه پور مې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

و پرې کړی چې د ادې د علاج لپاره یې راکړې و ؛ نو ورغلم چې حسنه یې ورکړم او خدای پاماني ورسره وکړم. د مدرسې په انګړ کښې څو کسه طلبا تر مولوي صاحب راچاپېر وو. هغوی پوښتنې کولې او مولوي صاحب یې ځوابونه ویل. زه یې چې ولېدلم، راولاړ سو. طلباو ته یې وویل: شابه تاسې اودسونه وکئ، ماخام نیږدې دې.

پخپله له عبدالهادي سره زما خوا ته رارawan سو. ما ورته پیسې ونیولې. هغه راته حیران وکتل. موسکی سو. ویې ویل: دا چي شې دي؟

ما وویل: استاده ! دا هغه پیسې دي چې تاسو زما د مور اپرېشن ته راکړې وې.

پر اوږه یې لاس راکښېښوو. په خندا یې وویل: خه، خه. نو ته د همدې د پاره راغلې وې؟

ـ نه استاده، سبا له خیره زما انډیوالان بېرته ځي. زما نیت و چې ورسره ولاړ سم. راغلم چې رخصت واخلم.

هغه د تسبو اړول بس کړل، ویې ویل: دغه راکټ او ټوپکې خو هرسوک چلوې شي. ته او عبدالهادي بل کار له جوړ یې.

ما وویل: پوهېږم، استاده تاسې غواړاست چې په مدرسه کښې پاته سم. سبقان مې شروع کم خو

ـ نه بچیه. نن سبا د تعلیم نه جهاد ډېر اهم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ زه هم جهاد ته ځم کنه.

سترګې يې زما له سترګو لرې کړې. د مدرسې د منارې سر ته يې چې د مازديګر لمر روښانه کړی و ، وکتل. لويه ساه يې واخيسته، ويې ويل: تاسې بايد د بمونو جوړول زده کړئ. زه به مو وزيرستان له بوزم. هلته به نور مجاهدين ترېننګ درکي. دا کار هر سوک نشي کوای. ما له پته شتې چې تاسې دواړه دا کار يادولې شې.

ما ورته کړه: استاده ! عبدالهادي به درسره ولاړ سي؛ خو زه به‌ېرته ځم. مورې به نورې غزاګانې وکو.

زما خبرې يې راپرې کړې: بچيه ! جنګ له مازغه پکار دي. خو هر سوک بيا مازغه نه لري. په ګولۍ باندې به يو کس ولې؛ خو ستا په يو بم باندې به شل پينزه ويشت کسه کفار ختميګي؛ نو ته پخپله ووايه کوم کار فايده مند دې؟

د ماخستن تر لمانځه وروسته مو هم تر ډېر ناوخته پورې خبرې وکړې. مولوي صاحب د اصحابو د جهاد ډېرې کيسې وکړې. د حضرت سلمان فارس کيسه يې وکړه چې د خندق په غزوه کښې يې رسول الله (ص) ته د خندق د کيندلو مشوره ورکړې وه او د عقل په مرسته يې قوي دښمن مات کړی و.

زه يې قانع کړم چې د هغه خبره ومنم. زه او عبدالهادي چې د خوب لپاره د هغه له کوټې ځخه وتلو ، ما بيا ورته پيسې مخې ته کښېښووې. مولوي صاحب وويل: سبا د تا انډيوالان افغانستان له زي، دغسې دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ما وويل: هو استاده !

ـ نو دغه پيسې ورکه چې د تا مور بې بې ته يې ورکي.

ـ استاده ! هغه به په پيسو څه وکي. دا تاسې واخلئ خپلو بچو ته يې ولېږئ.

هغه زما سر ښکل کړ. سترګې يې داسې وځلېدې، لکه تر ژړا د مخه چې د سړي په سترګو کښې اوښکې ځلېږي.

ويې ويل: ګوره عبدالستار جانه ! ته زما د زوی په شانتې يې. قسم دې چې د زوی نه راله مخکې يې. واله دا پيسې دې مور بې بې له ولېګه. ما له د هغې دعا هر سه دي.

د بابا تر مرګ وروسته دا اول ځل و چې پلرنۍ مينه مې محسوسه کړه. پر هغه باندې رښتيا لکه اولاد ګران وم. د هغه لاسونه مې ښکل کړل. هېڅ کله مې د چا په لاسونو کښې داسې ګرمي نه وه ليدلې. ګومان مې کاوه چې زړه مې ويلېږي. زړه مې غوښتل چې چيغه وکړم، ټوپونه ووهم، والوځم. لکه يو دروند بار مې چې له اوږو څخه لرې سوی وي، همداسې ځان راته سپک ښکارېده. زړه مې ويل چې دی انسان دی که ملايک؟ له خدايه مې داسې موقع غوښته چې د استاد احسان ورادا کړم. که نور څه مې په وس کې نه وي نو تر مرګه پورې به يې هره خبره و منم، نافرماني به يې نه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا د سهار تر لمانځه وروسته د دهراوت انډيوالانو ته ورغلم. پيسې مې ورکړې. د کلي نوم او د اکا نوم مې هم وروښود چې پيسې ورورسوي. په نخښه کښې مې د جيب دسمال چې ادې پکښې ګلان ګنډلي وو، ورکړ چې زما مور ته يې ورکړي.

درېيم څپرکی

د جنت په دروازه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

په وزیرستان کې هر څه بل رقم وو. کله کله خپل وطن ته حیرانېږم. زموږ ښارونه پاخه سړکان نه لري؛ خو په میرانشاه کښې ان وړو کلیو ته هم سړکان تېر سوي وو. زموږ کلی د کجکي بند ته ډېر نژدې پروت دی؛ خو برق مو نه درلود. میرانشاه ته خدایزده له کوم ځایه راته؛ خو ان لرو درو ته هم د بجلي تارونه غځېدلي وو.

میرانشاه سخت غیرتي خلک لري؛ خو یو کار یې پر ما ښه نه لګېږي. چې کلیو ته ولاړ سې، ښځې او نارینه په ګډه په خپلو پټیو کښې کار کوي. پر ښځو باندې واښه شکوي، مال پیایي، ځیني خلک خو په ښځو باندې لو هم کوي. خو دوی بیا لکه د کوټې خلک نه دي چې خپلې ښځې بازار ته پرېږدي. په ستر کښې ښه ټینګ دي. هر څوک د ځان پاچا دی. ټوپک او برېت دوی ته د فرض و سنت حیثیت لري. هېڅوک بازار ته تش لاس نه ورځي. لکه د پخوانو خلکو کیسې چې بابا مې راته کولې، دوی هم هماغسې پر ټټر باندې د مرمیو کتار تړي. کلاشینکوف ته دوی ماشین وایي او دومره یې ښکلي جوړوي، لکه ناوې چې سینګار کړې. دوه درې دانې ججورې په شنه او سره رابرټېپ باندې سره خوا په خوا تړي. په ټوپکو پورې ځوندۍ، غمي او کوچنۍ هینداري لګوي، لکه زموږ خلک چې رخچینې (خولۍ) سینګاروي، دوی هماغسې شوقي ټوپکې جوړوي. ته وا چې مېړانه به په برېت پورې وي. څومره چې د چا برېتونه غټ وي، هماغومره د خلکو ښه ابسېږي. برېتور مېړونه خپل برېتونه د شړشمو په تېل غوړوي؛ خو دربغه چې دا خلک رېږې خریي. له ملا صاحبانو او سپین ږیرو پرته نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک ږیره نه پرېږدي. که د ځوان پر مخ دې ږیره ولیده؛ نو پوه سه چې هغه د مدرسې طالب العلم دی. سپین ږیري بیا سر او ږیره دواړه په نکریزو سره کوي.

دلته د پاکستان حکومت نه چلېږي. یو پولیټیکل اجنټ چې یې بولي هغه سته، خو خدای خبر چې څه کوي او څه نه کوي. قانون د خلکو خپل قانون دی. هماغه جرګې دي، نرخ دی او رواج دی. دوی دښمني ته بدي وایي. داسې کس به پیدا نه کړې چې له چا سره یې بدي نه وي. بس هرڅوک چې پر خپل دښمن ورپېښ سو، ولي یې. داسې ورځ به نه وي چې د میرانشاه په بازار کښې مړي ونه سي. خلک وایي چې دلته د ((کیپات)) په نوم یو خوستوال و، ۹۹ مړي یې کړي وو. خلکو له هغه څخه د مېړانې اتل جوړ کړی و. هر چا به یې په مزو مزو کیسه کوله چې پلانکی یې څنګه وواژه. وایي کله کله که څوک پر بېوزلو برید وکړي او هغوی د بدل د اخیستلو نه وي؛ نو کیپات غلیم ته خبر ورکوی چې د ده بدي زما سوه، ځان به رانه ساتې. بیا نو د هغه لاره څاري چې څنګه راګیر کړ، ځای پر ځای ختموي. اوس هر چېرته چې د غیرت خبره کېږي؛ نو د کیپات نوم ضرور ورسره یادېږي.

په بازار کښې د وسلو ډېر دوکانونه سته. له تمانچې څخه رانیولې تر راکټ او ثقیله پورې، دوربینونه، مخابرې، ان توپ او هاوان هم پکښې خرڅېږي. دلته هم خلک زموږ د مفسدو قوماندانانو په شان د هلکانو، کرکانو او د ساز شوقیان دي. کسټ ته دوی پټه وایي، د کسټونو سلامت مارکېټ لري. ځینې خدای ناترسه ځوانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

یې شراب هم څښي. خدای خبر چې له کومه یې پیدا کوي. خو ښه وو چې څو موده مخکې یو څو کسان یې د شراب په څښلو مردار سوي وو ، اوس ورسره احتیاط کوي.
د حقانیه مدرسې یوه انډیوال مې چې دا کیسه یې کوله، ویې ویل چې یو ځل مولوی صاحب د شرابو دوه کارټنونه مدرسې ته راوړي وو. دلته یې بوتلونه نیم خالي کړل او یو بل رقم د اوبو په رنګ شی یې په کې واچاوه چې د لړګیو غوندې بوی یې و. بیا یې د بوتلونو سرونه په ماشین باندې داسې ټینګ کړل چې تا ویل هېڅ نه دي خلاص سوي. وایي مولوی صاحب بوتلونه یوړل او بیا دوه درې ورځې وروسته اوازه سوه چې خلک په شرابو مردار سوي دي.

زموږ مرکز د بازار په څنډه کښې حقانیه دارالعلوم دی. دغه مدرسه زموږ د کوټې د مدرسې په څېر د مرمرو په ډبرو نه ده پوښل سوې. دېوالونه یې له سمیټي خښتو جوړ دي. پر غولي باندې یې پخې خښتې لګېدلي دي. د مدرسې ناظم پنجابی دی؛ خو پښتو یې زده ده، هغه هم داسې چې (ږ) او (ژ) یو شان تلفظ کوي او (ښ) لکه (ش) ادا کوي. په دې شپږو میاشتو کښې چې زه او عبدالهادي دلته یو ، مولوي نعماني صاحب دوه ځله زموږ پوښتنې ته راغلی دی. دا ځل چې له خیره راسي همدلته به پاته سي.

دلته هم ښه تکړه علما سته. موږ سبقان وایو او بمان جوړوو. د مدرسې شا ته بل لوی سرای دی چې د ناظم له کوټې څخه لاره ورته تللې ده. د ناظم د کوټې له درګاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره پیره دار ناست وي، یوازې هغه کسان بل سرای ته ورپرېږدي چې مخصوص کارتونه لري. دغه سرای یوه لویه درګاه د سړک خوا ته هم لري. درګاه له خورا درنې او ډبلې او سپنې جوړه ده. کمزوری سړی یې په یوازې سر نه سي پورې کولای. دغه درګاه هم پیره دار لري او یوازې زموږ خپلو موټرانو ته د ننوتو اجازه ورکوي. په سرای کښې څو لوی لوی ګودامونه سته. په هر ګودام کښې درې څلور مازدا لارۍ ځايېږي. د ټولو کوټو کونجیانې له ناظم سره وي. له مدرسې سره په لګېدلي د بوال پورې زموږ ورکشاپ پروت دی. د ورکشاپ په اوږدو کښې یو اوږد مېز ولاړ دی. شاوخوا ته په د بوالونو پورې وسپنیزې الماری لګېدلي دي. ټروټیل، سي فور (C4)، ټي ان ټي، پټن PTEN، د بېرنګانو مردکي، د ټټارۍ مېخونه، رابر ټېپ، او څو ډوله نري او ډبل مزي په الماریو کښې جلا جلا ایښوول سوي دي.

موږ څو رقم بمان جوړوو. یو ټایمر والا بم دی. د دې بم فیوز په مزو باندې یوې ګړۍ پورې تړل کېږي. ګړۍ چې پر هر وخت برابر کړې، هماغه وخت د مزو دواړه سرونه سره لګېږي او فیوز چوي. د فیوز په چولو سره ټول بم پټاوېږي. زموږ اندیوالان معمولاً ټایمر بمان د غوړو په ټیمانو یا په بخار د بګونو کښې ږدي، بیا یې د بایسېکل شاته او یا په ربړیو کښې ځای پر ځای کوي. دغه بم والا بایسېکل یا ربړۍ پر داسې لارو دروي چې د کفارو موټران پر تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

ټي ان ټي داسې باروت دي چې پټاو سي په ثانیه کښې ۹۵۰۰ متره واټن وهي. هر شی چې مخې ته یې ورسي، ټوټې ټوټې کوي یې. نورو باروتو ته که اوبه ورورسي، بیا سم کار نه کوي؛ خو پر دې باندې اوبه تاثیر نه لري.

پټن بیا تر ټي ان ټي لا نامي دي. دا په ثانیه کښې ۱۲۵۰۰ متره مزل کوي. د خپل خواوشا ټول شیان په چرو بدلوي. بیخي لکه ګرنېټ (لاسي بم) چې هره ټوټه یې د ګولۍ کار کوي، دا هم له هر شي څخه ګولۍ جوړوي. تک سپین لکه واورې دي. چې په لاس کښې یې ټینګ کړې، لکه واوره سره غونجېږي. داسې ښه بلېږي چې شنې لمبې ځنې خېژي؛ خو دود نه لري.

موږ د فدایانو په واسکټونو او موټرانو کښې له همدې موادو کار اخلو. شپږ کیلو پټن د هر واسکټ په لاند ښي وت کښې ګرد چاپېره هواروو. شاوخوا ته یې د واسکټ په بل وت کښې د بېرینګ چرې او د ټټارۍ مېخونه اچوو. یو کوچنی فیوز د پټن په منځ کښې لګوو چې له دوو سرونو یې نري تارونه راوتلي دي. دغه تارونه په یوه بټن پورې نښلوو. هر وخت چې فدایي کفارو ته ورنژدې سو، بټن کښېکاږي، سم له واره فیوز پټاو کېږي او ورسره پټن چوي. په واسکټ کښې هر مېخ لکه مرمۍ الوزي او چې پر هر چا ولګېږي؛ نو کار یې ورسموي.

په موټرانو کښې هم له PTEN څخه کار اخلو. موټران یا له افغانستانه راځي یا یې همدلته رانیسو. د افغانستان نقلي پلېټونه راسره ډېر دي. ځینې غله له

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستانه د غلا موټران دلته راولي او له دې ځايه غلا کړي موټران هلته بيايي. زموږ کسان له هغوی څخه موټر رانيسي، پلېټونه يې الېشوي او موږ يې د فدايانو د حملو لپاره برابرو. غله هم د پاکستان له مليشو سره لاره لري او هم د افغانستان له پوليسو سره، دواړه د پيسو سپي دي. غله چې يو څو روپۍ ورته ونيسي، هر څه تېروی سي. غله دغه فدايي موټران هر ځای ته چې موږ ورونېيو، بيايي؛ خو زموږ يو دوه کسه انډيوالان هم ورسره ځي چې بيا غداري ونه کړي.

موټر چې موږ ته راسي؛ نو زموږ مستري انډيوالان ورباندې لګېږي. سيټونه، سوېچبورډ، د دروازو پوښونه او ټولبکس يې خلاصوي. بيا موږ په دېو ځايونو کښې پټن ږدو. د موټروان تر سيټ لاندې، په ټولبکس کښې او تر سوېچبورډ لاندې. درې واړه ځايونه په نريو مزو له يو بل سره نښلوو. شاوخوا ته يې ټروټيل، ګرنېټ، د ((بي ام يو)) ګولۍ، د ((هاوان)) او ((ار پي جي)) مرمۍ او نور شيان هواره ږدو. د موټر د دروازو منځ هم په مېخونو ډکوو. فيوز د موټروان تر سيټ لاندې لګوو چې پخپله فدايي ټوټې ټوټې سي او پس له حملې د پېژندلو نه وي. پخوا به مو د فيوز مزي په يوه بل شي پورې نښلول چې په ريموټ باندې کار کوي؛ خو اوس امريکايان له خپلو موټرانو داسې يو شی خپروي چې ګرد چاپېره په پېنځوس مترو کښې ريموټ کار نه کوي؛ نو اوس د فيوز مزي د سوېچبورډ له يوه سويچ سره هم نښلوو. که ريموټ کار ونه کړي، فدايي به دغه سويچ کښېکاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

په وزیرستان کې مې شپږمه میاشت وه. ورځ راباندې کال تېرېده. عبدالهادي کور ته تللی و. هغه چې راسره و، ګومان مې کاوه چې ټول خپلوان راسره دي؛ خو په دې ورځو کښې پوهېدم چې یوازې یم. ادې مې ډېره یادېده. دلته له نورو مجاهدینو سره بلد سوی وم؛ خو هغسې مې له هېچا سره نه لګېده لکه له عبدالهادي سره چې لګېده.

عبدالهادي درې میاشتې مخکې کور ته ولاړ او بېرته رانغی. مولوي نعماني صاحب وویل چې هغه اوس مدرسې ته هم نه ورځي. پلار یې د کندهار په ښار کښې خپل کور جوړ کړی او کډه یې وړې ده.

عبدالهادي پخپله ښه غیرتي ځوان و؛ خو پلار یې زما د تره په شان ټول عمر پر کور تېر کړی و. یوه ورځ یې هم د الله په نامه جهاد نه و کړی.

ما ویل مولوی صاحب به له عبدالهادي خپه وي چې ولې یې جهاد پرې ایښی؛ خو داسې نه و. نعماني صاحب وویل: ((د مور و پلار خدمت هم د جهاد اجر لري))

مولوی صاحب خورا لوی زړه لري؛ خو زه له عبدالهادي پر دې خپه وم چې یو رخصت یې هم رانه وانه خیست. ان یو ټېلفون یې هم راته ونه کړ. ما څو واري له پي سي او څخه ورته زنګ وواهه؛ خو ټېلفون به یې هر ځل بند و. ګومان کوم هغه و برېده چې زه ورته ټینګ نه سم چې بېرته راسه؛ ځکه خو ټیلفون به یې هر وخت بند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې درېو میاشتو کښې چې عبد الهادي را څخه تللی و، دومره ښه وچې مولوي صاحب دلې و. هغه هره جمعه کور ته ته. دوې شپې یې تېرولې او بیا بېرته راته. کله کله کوټې ته هم ته. هورې یې د برې شپې کولې. تېر ځل چې کوټې ته تللی و، زموږ یو کلیوال یې په مدرسه کښې لیدلی و. هغه ورته ویلي وچې زموږ د سیمې ګردې ناوې طالبانو فتح کړې دي، یوازې د کجکي بازار د چارواکو په لاس کښې دی.

د نعماني صاحب په راتګ سره د طلباوو شمېر زیات سوی و. طلبا به دلته هم هماغسې پرې راټولېدل، لکه په کوټه کښې چې به راټولېدل. زما وخت اکثره په سبقانو تېرېده. په دې ورځو کښې مو فدایان بیخي لږ سوي وو؛ ځکه خو د بمانو او فدایي واسکټونو جوړولو ته دومره ضرورت نه وو.

یوه ورځ نعماني صاحب وانې ته بوتلم. دا د جنوبي وزیرستان مرکز دی. هلته یوه لویه مدرسه وه. د فدایانو ټرېننګ هم هورې کېده. موږ اکثره وخت واسکټونه دوی ته استول او یا فدایان تر ټرېننګ وروسته مېرانشاه ته راتلل او موږ به واسکټونه ورکول. د ټرېننګ خونې ته ننوتو. پنځه شپږ تنه فدایان ناست وو، ټې وي ته یې کتل. په ټې وي کښې یو سورمخی بیزو وزمه سړی چې توربخونه دریشي او سره نیکټایي یې اغوستې وه، د یوه قره قلي خولۍ والا تر څنګ ناست و. سورمخي ږیره او برېتونه خریيلي وو، سرتور سر ناست و. د هغه بل پر تن بیا سپین کالي او شنه چپنه وه، مې وریجې ږیره او برېتونه یې همدومره وو، لکه لس شپې د مخه یې چې خریيلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

وي. دوی د یوې لویې کوټې په بر سر کښې ناست وو. په دا بل سر کښې یې نور رنګ رنګ دریشۍ والا پر چوکیو ناست وو. په منځ کښې یوه د نګه غنم رنګه لغړه ښځه چې یوازې شرمګاه او تیونه یې پټ وو ، نڅېدله. نورو ورته چکچکې وهلې. د ښځې ژېړ بخوني اوږده ویښتان پر اوږو یې پراته وو او د هغې له تاوېدو سره په هوا کښې چورلېدل. په ملا پورې یې د ځلبلي ځونډیو او شرنګونو پټه تړلې وه، کونه یې چې ښوروله، د شرنګیو شرنګا به پورته سوه او د خلکو چکچکې او شور به یې پارول. هاغه هلک مې رایاد سو چې زموږ د کلي د قومندان په کور کښې نڅېده. په ټي وي کښې چې سورمخی ښکاره سو ، ټرېننګ والا په کوم بټن کښې ګوته ووهله. تصویر همداسې ولاړ پاته سو. ټرېننګ والا له رنګه پنجابیانو غوندې و ؛ خو پښتو یې ویله. له فدایانو څخه یې وپوښتل: دا سوک دی؟

ټولو په یوه ږغ وویل: دا لوی شیطان، بوش دی.

هغه بیا وپوښتل: دا بل یې سوک دی؟

بیا ټولو د تجوید د شاګردانو په شان یو ځایي وویل: مرتد کرزی.

هغه بیا پر بټنو ګوتې ووهلې. بل تصویر راغی. ویې ویل: دا چې ګډېږي دا سوک دی؟

ــ د کرزي رنډۍ لور ده.

- ښه نو دا خکلې ده که نه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ځواب ورنه کړ. ویې ویل: ولې غلي یې، ښکلې ده که نه؟

فدایانو ته یو بل ته سره وکتل خو هېڅ غږ ونه کړ.

ټرېننګ والا وویل: بالکل ښکلې ده. وګوره سومره ښکلې رنګ لري، نازک بدن یې وګوره، غټ غټ تیونه یې وګوره. خو پوهیږې چې د جنت حورې د دې نه زر واره ښکلې وي. که دا پلیته د جنت د حورې په سنګ کې ودروې، دا لکه شمع ښکاري هغه لکه افتاب.

نعماني صاحب تر لاس ونیولم، له کوټې څخه ووتو.

ما ورته کړه: استاده! دا خلک څه ناروا کارونه کیږي؟ ولې په فدایانو داسې شیان ګوري؟

ـ د دې د پاره چې پوه شي چې کافران سه سه کارونه کیږي.

ـ تاسو خو ویل چې ټي وي او سي ډي ناروا دي.

ـ ناروا دي؛ خو ګوره بچی! دلته مطلوب اهم دي. زمونګه مطلوب ګڼا نه دي. زمونګه مطلوب د ټي وي کتل نه دي. زمونګه مطلوب هغه کسان دي چې د قسې کارونه کیږي. فدایان چې د دوی کارونه په خپلو سترګو ووینې، بیا به یې باور راشي چې مونګه رښتیا ویل.

زما زړه ته نه لوېدل چې یو پښتون دې دومره بې غیرته سي چې لور یې د نورو په مخ کښې لغړه ونڅېږي؛ خو د خپل کلي قومندان را یاد سو چې هلکانو سره یې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

څه کارونه کول. په زړه کښې مې وویل: قومندان چې یې هغسې وي، پخپله به خود همداسې وي.

خو بیا مې هم باور نه کېده. نعماني صاحب ته مې وویل: دا په رښتیا د کرزي لوروه؟

هغه وویل: ته لا اوس هم شک کیې؟ تا خو په خپلو سترګو اولیدل کنه. اوس پوې شوې چې مونګه ولې فدایانو ته ټي وي چالاندوو؟

شپه مو په وانه کښې وه. تر څو پورې چې خوب یوړم، هره ګړۍ به مې سترګو ته هغه رنډۍ درېدله چې لوڅه پوڅه ګډېدله. لاحول به مې ویل، فکر به مې بلې خوا ته اړاوه خو د هغې خیال لکه سرټمبه انسان رابرسېره کېده. لکه سپی چې درپسې وي او چې هرڅومره یې وډبوې، بیا دې په پایڅو پورې ونښلي. یا لکه د مني سوړ باد چې د پورې کړې کړکۍ او دروازې له هر درز څخه ځان دررسوي. نجلۍ مې خوب ته هم راغله. نیمه شپه راویښ سوم. غسل راباندې اوښتی و. حمام ته ولاړم. که ګورم چې له دوو نورو حماونو هم د اوبو شړپا راځي. زما په ګومان په هغه شپه ټول فدایان احتلام سوي وو. تهجد لمونځونه مې وکړل، توبې وکړې او تر سهاره په عبادت لګیا وم.

سبا سهار وختي مېرانشاه ته لاړو. بله ورځ د مدرسې د ناظم کوټې ته ولاړم. نعماني صاحب په کوټه کښې چابک چابک دې خوا ها خوا ګرځېده. غومبري یې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښتي وو ، پر تندي يې ګونځې راغلې وې. خوله پرې راماته وه. د خولې په کونجونو کښې يې سپين ځګ ښکارېده. ناظم ته يې په پنجابي باندې څه ويل. ناظم چوپه خوله ولاړ و.

ما تر دې وخته نعماني صاحب داسې په غوسه نه و ليدلی. وېرېدلی وم؛ خو بيا مې زړه غټ کړ. پوښتنه مې وکړه: استاده خير خو به وي؟

له جيبه يې دسمال راوايست، د خولې ځګ يې پاک کړ، د تندي خوله يې وچه کړه. موسکی سو، ويې ويل: سه نيشتې. هسې دې بې غيرتانو له په غوسه وم.

ــ استاده څوک يادوې؟

ــ هغه په وانه کې چې مو ليدلي وو، هغه فدايانو بې غيرتي اوکړه.

ــ څنګه بې غيرتي؟

ــ ډارېدلي دي. مجاهدينو ان کابل ته بيولي وو. د کفارو ګاډو ته يې بم رسولي وو، ټول ګاډي تېر شوي دي؛ خو دا دله ګان بېرته تې راغلي دي.

وينه مې په جوش راغلې وه چې دا څه ناځوانه خلک دي. د دين لپاره دونه کار هم نه سي کولای. هغوی ته مې غاښونه چيچل؛ خو د نعماني صاحب د تسل لپاره مې وويل: استاده ! خير دی، نور فدايان به راپيدا سي. زموږ خلک خورا غيرتي خلک دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

ـ هو بچې ! فدایان به خود پیدا شي؛ خو د دوی بې غیرتي اوګوره. ګټلې جنت یې بایلودو. د جنت تر دروازې لاړل خو خدای ووهل بېرته راغلل.

ـ استاده ! که وایاست زه به ورسم.

ـ نه، نه. ته به نه ورزې.

ـ ولې استاده ! جنت دې پر ما نه لورېږي؟

ـ دا سه وایې؟ جنتونه مې درپېرزو دي.

ـ نو بیا؟

ـ بس، اوس یې وخت نه دی.

دې سره نعماني صاحب په چورت کښې ډوب سو. پر سبا یې هغه خپل کور ته ولاړ. دا ځل یې پوره دوې هفتې تېرې کړې. زړه مې ډېر تنګ سوی و. هېڅ شي خوند نه راکاوه. لمونځونه مې پوره د زړه په حضور نه وو. یو وخت به مې کتل چې لمونځ مې خلاص کړی، دعا کوم. چې هرڅه به مې فکر کاوه، نه مې رایادېدل چې کوم سورتونه او کوم ایتونه مې ویلي دي. په ذکرونو مې هم د زړه کرار نه راته. ادې مې ډېره یادېدله. په تورکي او ان په اکا پسې خپه سوی وم. ما ډېر کلونه له هغوی لرې تېر کړي وو؛ خو هېڅکله دومره نه وم خپه سوی. دا نور کلونه یو خو به عبدالهادي راسره و، د زړه حال به مو یو بل ته سره ویل او بل به اکثره وخت پر سبقانو لګیا وو؛ ځکه خو په مسافرۍ چنداني نه پوهېدم. اوس نو نه مې د راز ملګری درلود او نه مې سبقانو ته زړه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې راولاړېدم، سر راباندې ګرځېده. پر سترګو مې توره شپه راتله. تر نیمو شپو خوب نه راته. سهار بیا په وچ زور راکښېناستم، خوب مې نه سر کېده. ټول ژوند راباندې غمېدلی و.

نعماني صاحب چې راغی، لکه زما پر حال چې خبر وي، مازدیګر یې تر لاس ونیولم. د مدرسې یوې څنډې ته یې بوتلم. له دېوال سره پر سمیټي خښتو کښېناستو. مسواک یې له جیبه راوکیښ، د غاښونو په صفا کولو لګیا سو. ویې ویل: سنګه چل دي، ولې خفه یې؟

ـ استاده ! ادې مې ډېره رایادېږي. زړه مې تنګ دی.

نعماني صاحب غلی و.

ما وویل: که ستاسو اجازه وي، یو څو شپې به کلي ته یوسم.

هغه ولاړ سو. ورو ورو په ګرځېدا سو. سر یې کښته نیولی و. مسواک یې تر غاښ لاندې ټینګ کړی و.

بیا مې وویل: هسې هم زموږ سیمې ازادې سوي دي. څه خطره به راته نه وي.

هغه بیا هم غلی و. اوږده شېبه په چوپتیا کښې تېره سوه. ګومان مې وکړ چې مولوي صاحب راڅخه خپه سو. ما ځمکې ته کتل. غوښتل مې ورته ووایم، که تاسې خپه کېږئ نه به ځم. خو د هغه سونګېدا مې واورېده. پورته مې وکتل. له جیبه یې دسمال راوایست. پزه یې پاکه کړه. په سترګو کښې یې اوښکې ډنډ وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ودرېدم. د هغه لاس مې ونيو. پوښتنه مې وکړه: استاده خيريت خو به وي؟

په غريو نيولي ږغ يې وويل: بچيه نه مې درته ويل؛ خو مجبور دې کم. مور بي بي به دې اوس په جنت کې وي. هغې خپل عمر تا له دروبخل.

ـ دا څه وايې؟

ـ هو بچيه. هغه يې شهيده کړه.

ـ چا؟

ـ اميريکنز.

باور مې نه کېده. دا مې څه اورېدل. نور مې د ژړا مخه نه سوه نيولی. نعماني صاحب په غېږ کښې ټينګ کړم. په ژړغوني ږغ يې وويل: انا لله و انا اليه راجعون.

کاشکې مړ وای خو دا خبر مې نه وای اورېدلای. چا امريکايانو ته زما خبر ورکړی و چې عبدالستار بم جوړوي. هغوی يوه شپه زموږ پر کور بم غورځولی و. زما ادې، اکا او د هغه ګرده کورنۍ يې ګرد سره شهيدان کړي وو.

دا خبرې په کوټه کښې زموږ يوه کليوال نعماني صاحب ته کړې وې. د ماښام تر جماعت وروسته نعماني صاحب پر ټولو ږغ وکړ چې زما د شهيدانو لپاره دې دعا وکړي. هغه راته د شهادت فضيلتونه بيان کړل. ډېر تسل يې راکړ. د صبر د اجرونو په باب يې ډېر څه راته وويل. خو زما زړه چېرته صبرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته نعماني صاحب د امريکايانو کيسې وکړې چې دوی اصلاً د اسلام د ختمولو لپاره راغلي دي. دوی غواړي چې ټوله دونيا يهودان شي.

چې پرېوتم، سر مې تر تلتک لاندې کړی و، تر نيمې شپې پورې مې ژړل او هماغسې په ژړا خوب وړی وم. په خوب کښې مې وليدل چې ادې ناسته ده، ما يې پر زنګانه باندې سر ايښی دی. هغه زما ويښتان په ګوتو باندې ږمنځوي او د جنت د باغونو، د شېدو رودونو، د ميوو او ماڼيو کيسې راته کوي. د شهادت د فضيلت په باب څه چې نعماني صاحب ويلي وو، ادې هم هماغه خبرې کوي. بيا مې وليدل چې ادې له ما سره په مدرسه کښې ده. په لمانځه کښې هغه مخته کېږي او مونږ ټول ورپسې درېږو. زه له ځان سره وايم: دا څه کوي؟ د ښځې امامت کله روا دی.

بيا وايم: يه زه غلط سوی يم. د نارينو امامت نه دی روا. امام خو بايد چې ښځه اوسي، دا په دې چې امام بايد پر مقتديانو ډېر ورحمېږي او دا ميندې دي چې نري زړونه لري. هو، امامت بايد د ښځو کار وي، د ميندو کار وي. لمونځ چې خلاصېږي، د امريکايانو هليکوپټر راځي، د مدرسې په سرای کښې کښېني. ادې ورځي، هليکوپټر ته ورخېژي. زه پوښتنه کوم: ادې چېرته ځې؟

هغه وايي: نانيه زه ځمه. زه له دې مجاهدينو سره جنت ته ځم.

هليکوپټر پورته کېږي. خوله مې ورته وازه پاتې سي چې دا کافرانو ته مجاهدين وايي او د کفارو په هليکوپټر کې جنت ته ځي. دا څه ګډوډي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

په همدې حیرانۍ کې راویښ سوم. په ویښه کې لا حیران سوم، هېڅ د خوب په سر او بر نه پوهېدم چې دا نو څه معنا.

سهار مې نعماني صاحب ته د خوب کیسه وکړه. هغه وویل چې د دې خوب اوله نیمه رحماني ده؛ خو دویمه نیمه یې شیطاني ده.

سبا تر ما سپښینه پورې یوازې سر ناست وم. زړه مې نه غوښتل چې له چا سره خبرې وکړم. د ادې یادونه مې په ذهن کښې لړ بر کېدل. څومره سختۍ یې وګاللې. اول خو کونډه سوه، بیا د اکا ظلمونه، بیا چې زه رالوی سوم، زما مسافرۍ. هغه دوه کاله چې زه په کلي کښې ورسره وم، ایله چې یو څه ساه یې سمه وه.

دنیا څومره بې وفا ده؟ اکا مې وګوره. خوارکی په دنیا پسې یې څومره منډې ووهلې؛ خو دی ولاړ او هر څه ځنې پاتې سول. دوکان، بوړۍ، ځمکې، هر څه. ما ته یې د پلار برخه رانه کړه؛ خو نه و خبر چې د هر څه مالک الله دی، هر څه به الله ته پاتې کېږي.

تورکی مې رایادېده. په کوچنیوالي کښې چې به مې واهه. خوارکي به څومره ژړل. کاشکې مړ نه وای. د هغه په مور مې هم خوا بده وه. ګومان مې کاوه، هغه ډېره ګرمه نه وه، هسې یې د شیطان منله، که نه هغه خو هم انسان وه. کوم بني ادم غواړي چې بد واوسي؟ خدای دې پر ورحمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماسپښین تر لمانځه وروسته ورکشاپ ته ولاړم. یو واسکټ مې جوړ کړ. د شپږو پر ځای مې اته کیلو پټن پکښې کښېښوول. چرې او مېخونه مې ښه پرېمانه پکښې واچول. فیوز مې پکښې ولګاوه؛ خو مزي مې ورپورې ونه تړل. کار مې نږدې تمام و چې نعماني صاحب راغی. پر اوږه یې لاس راکښېښوو: بهادره ! سه کې؟

بې له دې چې له کاره لاس واخلم، ومې ویل: واسکټ جوړوم.

ـ چا له؟

ـ ځان ته.

ـ زان له؟ دا سه وایې؟

ـ هو استاده، ځان ته.

ـ نو ولې؟

ـ ولې؟ دا نور فدایان یې چې اغوندي، ولې یې اغوندي؟

ـ یعنې ته...

څو شېبې غلی و. بیا یې غبرګ رانه چاپېره کړه. پر اوږه یې وټپولم. ویې ویل: زه پوهېدم چې زما شېر به همدقه کار کیې.

لږه موده دې خوا ها خوا وګرځېد.

بیا یې وویل: ګوره بچی ! زه دې منع کومه نه؛ خو هر کار یو پلان غواړي. ته به پلان له انتظار کیې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

ما وویل: استاده ! زه ډېر صبر نه سم کولای. زه باید له امریکایانو بدل واخلم.

ـ اوه، نه، نه، پام چې دا خبره ونه کې. جهاد د انتقام دپاره نه وي، جهاد د خدای د رضا دپاره کېږي. بچیه ! په دې خبرو دې جهاد مه خرابوه. کفار ستا دخمنان نه دي، دا د خدای دخمنان دي، د نبي کریم دخمنان دي، د قران دخمنان دي.

سبا له نعمانی صاحب سره د وانې خوا ته روان سوم. پر لاره د پاکستاني فوجیانو تلاشي وه. زما په بېګ کښې فدایي واسکټ پروت و. زړه مې ټکان کاوه چې اوس ومو نه نیسي؛ خو ښنګه چې زموږ پېکپ یې ودراوه، مولوي صاحب ورته کوم کارت وربښکاره کړ، ویې ویل: دا د مدرسې ګاډی دي.

فوجي ورته عسکري سلام وکړ. بل فوجي ته یې په لاس اشاره وکړه چې لاره دې خوشې کړه.

نعماني صاحب ما ته وکتل، ویې ویل: زمونږه فوجیان د علماوو ډېر قدر کوي. ودې لیدل چې مونږه یې تالاشي نه کړو. دا خو الحمدالله مسلمان فوج دی.

په وانه کښې د مدرسې ناظم ویل چې ده ته باید ټرېننګ ورکړو؛ خو نعماني صاحب وویل چې ټرېننګ ته ضرورت نسته. دی پخپله په هر څه پوهېږي.

پر سبا یې د کابل پر لور روان سو. د خدای پاماني پر وخت نعماني صاحب راته وویل: ګوره بچی ! شهادت عجیبه خوند او کیف لري. چې سنګه د استشهادیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملیاتو زای له ورغلې، د جنت هوا به درباندې ولګېږي. خوشحالۍ به درله رایشي. ټول غمونه به دې هېر شي.

هغه راته یوه خاصه دعا یه هم راوښووله چې د حملې پر وخت یې ووایم.

زما واسکټ یې له نورو شیانو سره په باري موټر کښې ځای پر ځای کړل. موږ په فلاینګ کوچ موټر کښې سپاره سو. له ما سره دوه نور بلدي اندېوالان راسره سول. یو یې عبدالله نومېده، بل یې اسلام. دوی په لاره کښې ځایونه راښوول چې دا پلانکی ځای دی، دا پلانکی بازار دی؛ خو ما په دې خبرو پسې سر نه ګرځاوه. زه په خپلو چورتونو کښې ډوب وم. په انګور اډه کښې په سراچه موټر کښې کښېناستو، تر ښرنې پورې پکښې ولاړو. ټوله لاره کې تنګې درې، په شنو ونو پوښلي غرونه، او لوړ کوټلونه وو. یو نیم ځای کې به ځنګل دومره ګڼ و چې پنځه ګام هوا دې نه سول لیدلای.

ښرنه لکه کاسه غونډې وه، په منځ کې هواره او چارچاپېره یې غرونه وو. له ښرنې تر کابله په بله سراچه کښې ولاړو. تر غزنې پورې موټر په خامه لاره روان و. که مو د موټر شیشه بندوله، د ګرمۍ له لاسه مړه کېدو او که مو خلاصوله، د دوړو له لاسه. له غزنې ها خوا تر کابله سړک نوی ډمبر سوی و. د غرمې ډوډې مو په درانې کې وخوړه. د هوټل په څنګ کې ډکه ویاله بهېدله. ورکښېناستو چې اودسونه تازه کړو. داسې رڼې اوبه په کې روانې وې چې د ویالې په تل کې واړه ماهیان مې لیدلای سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

اوبه داسې يخې وې چې د سړي زړه ورسره تازه کېده. نيم ساعت مزل به کړی و چې په ارغندي چوک کښې يې تلاشي ته ودرولو. پوليس راته په ځير وکتل؛ خو څه يې ونه ويل.

کابل ته چې ننوتو، داسې بيروبار مې وليد چې په ژوند کښې مې نه و ليدلی. د کوټه سنګي په چوک او بازار کښې ښځې او نارينه د وزو او پسونو د رمې غونډې سره ګډ روان وو. يوې نيمې ښځې به برقه لرله، د نورو مازې يو کوچنی ټيکری پر سر و. سخته بې شرمي روانه وه. پيغلو نجونو چسپ پتلونونه اغوستي وو، کوناټې يې بوک بوک راوتلي وو. تيونه يې د تنګو کميسونو له لاندې نبغ نبغ راوتلي وو. تيار لکه د کرزي لور چې په فلم کښې مې ليدلې وه، هماغسې سينګارونه يې کړي وو. سرې شونډې، تورې سترګې، په سترغلو باندې چا شين، چا سور، چا نور رنګونه وهلي وو. له هر دوکان څخه د سروذ اواز پورته و.

له هغه ځايه په ټيکسي کې کېناستو او تر کوره په دوو ساعتو کښې ورسېدو. لاره ډېره نه وه خو د موټرو سخت بېروبار و. موټرونه هم په سړک کې ګرځېدل، لاروي او کراچۍ والا هم. داسې ګډوډي وه لکه د مېږيو په کور چې اوبه ننوتلې وي. له ډېرو چوکونو او بازارانو تېر سوو، رنګ رنګ کورونه او جګ جګ تعميرونه مې وليدل. په هر ځای کې د سړک په دواړو غاړو کې دوکانونه وو. ته وا د ټولې دنيا سودا په همدې دوکانو کې کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور په هود خیلو کښې و. څښتن یې زمونږ د مجاهیدنو سرې و. اکثره وخت به فدایان همدلته او سېدل. سرې ګلاب نومېده. دوه خوا په خوا سرایونه یې لرل. په یوه کښې د ده کور و، دا بل یې د مېلمنو سرای و. د سرای د بوالونه قریب څلور ګزه لوړ وو. د دواړو سرایونو په منځ کې وړه او سپنیزه درګاه وه.

ګلاب ږیره خریبلې وه؛ خو برېتونه یې وو. د پېنځوسو کالو به و. زلمي زامن یې لرل. هغوی هم د ده په شان ږیرې خریبلې وې. لا مو دمه نه وه جوړه چې ګلاب راته وویل: انډیواله ته به داسې وکې چې زما د زوی سره به د نایي دوکان ته ورشې. دا ږیره به دې یو څه لنډه کې.

ما وویل: وروره زما ږیره سوچه ده، لا مې بیاتې پکښې نه ده وهلې.

ـ که په ښار کې همداسې وګرځې، پولیس به درباندې شک وکي.

زما د لارې انډیوال، عبدالله وویل: ګوره ملا صاحب! خپه کېږې به نه. دا دی زما ږیره وګوره. ته وایې ما به په شوق داسې لنډه کړې وي؟ قسم دی چې ږیره راته ډېره ګرانه ده؛ خو د فرض د پوره کولو د پاره که ترک سنت وکو؛ نو باک نه لري.

اسلام وویل: پام دې و چې په ارغندې کې پولیس والا څنګه درته ځیر و؟

ګلاب پر مخ لاس تېر کړ، ویې ویل: ما وګوره. ځان راته لکه ښځه ایسي. که زه د سنت په طریقه ږیره پرېږدم؛ نو بیا خو فدایان په خپل کور کې نه شم پټولای. وایي ګر ضرورت بود روا باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړی

ناچاره سوم ږیره مې لنډه کړه. زما واسکټ درې ورځې وروسته را ورسېد. په دې درېو ورځو کښې عبدالله په ښار کښې وګرځولم. یو ځای یې راوښود چې ښارنو نومېده. لوړ مارکېټونه او لوکس دوکانونه پکښې وو. په منځ کښې یې یو باغ و. دوی ورته پارک وایه. په چمن کښې تر ونو لاندې نجونې او هلکان لاس په لاس سره ګرځېدل. یو نیم ځای کښې بیا تر سایه وان لاندې هلکان او نجونې جوړه جوړه سره ناست وو. ځینو پیرکي خوړل، ځینو ایس کریم.

عبدالله په ګلفروشۍ کوڅه کښې څو دوکانونه راوښوول چې په الماریو کښې یې رنګ رنګ بوتلان او ډبکې ایښې وې. عبدالله وویل چې په دې دوکانو کښې شراب خرڅېږي. چاروا کي په بنډارونو کښې شراب چښي او بیا خور و مور سره نه پېژني چې له هر چا سره یې هر څه وکړل؛ نو ویې کړل. په یو بل دوکان کښې لوی لوی مېزونه ایښي وو چې څلور سوري یې په څلورو کونجونو کښې او دوه سوري یې د اوږدو څنډو په منځ کښې لرل. پر سر یې رنګ رنګ واړه ګېنونه پراته وو. دوه کسه ورته ولاړ وو. لکه لښتې په اوږدو لرګیو باندې یې ګېنونه د سوریو خوا ته ټېل وهل.

عبدالله وویل: دا قمار بازان دي. دې ته بیلیارډ وايي، جواري وربانديې کېږي.

ټول ښار په فساد او ناروا وو کښې ډوب و. هلته په جومات کښې به اذان کېده او څنګ ته په دوکانونو کښې به سروډ چالان و. لوی لوی جوماتونه وو؛ خو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمونځ کوونکو به دوه صفونه هم نه ډکېدل. پر لمانځه به هم څوک سرتور سر ولاړ وو، د چا پر سر به سپینه خولۍ وه، دستار خو غیر له ملا امامه د بل چا پر سر نه لیدل کېده.

بله ورځ عبدالله په وزیر اکبر خان کښې راته ځینې کورونه راوښودل چې د پیټو پوزو ښایستوکو نجونو پکښې تګ راتګ کاوه. هغه وویل چې دا د چینایانو ګسټ هوزونه دي. دا ګردې چینایي رنډیانې دي. د دې کورو په خوا کښې یو نیم تورې ښیښې والا لنډکروزر او کروزین موټر ولاړ وو. عبدالله وویل چې دا د چارواکو موټرې دي، هر وخت دلته د فحاشۍ لپاره راځي.

د ایسکریم په دوکانونو کښې ټي وي ګانې چالانې وې. نیم پټې نیم بربنډې نجونې پکښې نڅېدلې. په کابلیانو کښې مې داسې شیان ولیدل چې د امریکایانو بلا دې پر وګرځي. هغوی خو کافران دي چې هرڅه وکړي باک نه لري؛ خو دا زموږ والا چې ځانونه مسلمانان ګڼي، دوی نو ولې داسې کوي؟ اوس پوه سوم چې نعماني صاحب به ولې هر وخت ویل چې د کابلیانو او امریکایانو مرګ یو شان روا دی.

پر دریمه ورځ د ګلاب زوی د امو څو غټ غټ کرېټونه کور ته راوړل. کرېټونه چې مو خلاص کړل، په اول کتار کښې یې ام‌و، لاندې زموږ شیان. ما خپل واسکټ راوایست. غوښتل مې چې فیوز یې ولګوم؛ خو ګلاب وویل چې باید تر هغې پورې صبر وکړم چې د دوی پلان معلوم سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

مازديګر د ګلاب ټيلفون ته زنګ راغی. ګلاب له چا سره خبرې وکړې. سړی سليم نومېده. هغه له امريکايانو سره ترجمان و. زموږ انډيوالانو هغه ته د هر راپور په بدل کښې پيسې ورکولې. سليم ګلاب ته ويلي وو چې سبا پر اتو بجو د امريکايانو موټران له څرخي پله څخه روانېږي، پر اتو بجو له هود خېلو تېرېږي.

موږ ټول پلان جوړ کړی و چې پر شل کمې اتو بجو به وځو، تر سړکه پينځه دقيقې لګېږي. عبدالله به تر سړکه راسره ځي. زه به هلته د هوټل پر تخت کښېنم، چای به راغواړم. پينځه دقيقې چې اتو ته پاتې سوې، زه به د سړک غاړې ته راسم، ځان به هسې په ټيلفون بوختوم. همدا چې د امريکايانو موټران راورسېدل، زه به واسکټ پټاووم.

لا له کوره نه وو وتلي چې ګلاب ته بيا زنګ راغی. زموږ مخکينی پلان پاته سو. ګلاب وويل: نن کتار نه تېرېږي. تر سبا به ورته صبر کوو. زه يې بيا د نايي دوکان ته واستولم. د ګلاب زوی هم راسره و. ږيره او برېتونه يې راباندې وخرييل. سر يې راته داسې جوړ کړ چې د څټ او ټېکونو ويښته يې راته په ماشين باندې بيخي لنډ کړل، پاتې ويښته يې د ګوتې د نيم بند په برابر پرېښودل. تيار د پاکستان فوجي يې را څخه جوړ کړ. توره دريشي او تورې عينکې يې راباندې واغوستلې. د سپين کميس له پاسه يې سره نيکټايي هم راوتړله. ډېر شرمېدم ځان راته بيخي لغړ برېښېده. دا کار يې په وچ زور راباندې وکړ. د کورتۍ لمن مې کښته خوا راکښوله چې سم مې پټ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورتۍ په ما کښې یو څه ارته وه. ګلاب وویل چې په دې توګه به څوک دربانډې شک نه کوي او واسکټ به دې هم نه ښکاربږي. نوي تور بوټونه یې راکړل چې څوکې یې لکه موچنې پورته خوا کږې وې. تر غرمې پورې یې په سرای کښې دې خوا ها خوا ګرځولم چې له دریشۍ سره روږدی سم. د ګلاب زوی هم ځان زما په رنګ جوړ کړی و. یوه مخابره یې په لاس راکړه. عبدالله وویل چې د امنیت کسان همداسې ګرځي. ته چې هلته ورسېږي، ټول به د امنیت والا ګومان دربانډې وکړي.

د غرمې ډوډۍ مو چې وخوړه، میکرویانو ته ولاړو. دا نو د شپږ چتونو بلاکونه وو چې د هوايي میدان د سړک پر غاړه جوړ سوي وو. هلته د ګلاب د یوه انډیوال کور و. تر مازدیګره هملته پاته سو. د مازیګر اذان چې وسو، ګلاب وویل: نیم ساعت وروسته به ځو.

- چېرته؟
- د حملې ځای ته.
- تا خو ویل چې تر سبا به صبر کوو.
- پلان مو بدل سو. کرزی امریکا ته روان دی، هوايي میدان ته ځي. ته به کرزی ختموې.

اودس مې تازه کړ. اول مې دوه رکعته نفل وکړ. له ټولو ګناهونو مې توبه وکړه. هره ګناه چې مې کړې وه، سترګو ته مې ودرېدله. وروسته مې د مازدیګر فرض ادا کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

ګلاب یوه توره بکسه خلاصه کړه، څو دانې پیچکارۍ په کې وې. د درملو پر امپولونو په سره رنګ انګریزي لیکل ښکارېدل. د یو امپول سر یې مات کړ، دوا یې په پیچکارۍ کې تېره کړه. ما ته یې وکتل: تا ویل چې سر دې خوږېږي.

- هو. ډوډۍ چې مې وخوړه پر سر درد پیدا شو.
- دغه پیچکاري به دې درد دفع کړي.

ستن یې راته په مټ کښې راولګوله.

له ټولو سره مې د غېږې خدای پاماني وکړه، ګلاب وویل: شهادت دې مبارک شه. ته ډېر بختور یې چې د الله رضا حاصلوې.

د ګلاب له زوی سره راووتم. د بي بي مهرو زیارت سره ودرېدلو. پر سړک موټران نه تېرېدل. د سړک دواړو خواوو ته پولیس او فوجیان ولاړ وو. زیارت ته مخامخ د سړک په پورې غاړه په یوه لوړ کانکریټي برج کښې امریکایي پېره دار ولاړ و، سړک یې څاره.

زړه مې ډېر ټکان کاوه چې راباندې پوه نه سي؛ خو د ګلاب زوی راته ډاډ راکړ چې څوک به مې ونه پېژني. زما په رنګ نور کسان هم مخابرې په لاسو کښې لر بر کېدل.

ورو ورو مې سر سپکېده. له ماسپښینه مې پر سر باندې درد و، خو اوس یې درد کرار سوی و. یو ډول خوند مې محسوساوه. د هېڅ شي سودا راسره نه وه. په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې مې د دونیا ګرده خوشالي راټوله وه. د نعماني صاحب خبره مې رایاده سوه چې ویلي یې وو ، د شهادت پر وخت به د جنت هوا دربانديې ولګېږي.

سبحان الله دا څومره لوی نعمت دی. جنت به څومره بې غمه ځای وي. دا د جنت هوا چې داسې بې غمه کړی وم، خدا یزده چې پخپله جنت به څومره له خوشالیو ډک وي. رښتیا چې په جنت کښې درد نسته، غم نسته، اندېښنې او چورتونه نسته. داسې کیف مې په ټول ژوند کې نه و محسوس کړی. داسې راته ابسېده لکه په هوا کښې چې روان اوسم. ساه چې مې اخیستله، په سږمو کښې مې د هوا په تېرېدو خوند اخیست. بدن مې تود و. زړه مې غوښت چې دا کیف ابدي واوسي. تل تر تله همداسې په خوندونو کښې ډوب واوسم.

نیم ساعت به هلته ولاړ وو چې له لرې د ټرافیکو د موټر پرله پسې هارنونه مو واورېدل. د ګلاب زوی راسره خدای پاماني وکړه او ولاړ. ډېر ژر د ټرافیکو موټر راورسېد. شېبه وروسته د موټرګاټو یوه ډله چې ټولو سپرو یې سپینې دریشۍ او سپینې خولۍ اغوستې وې، راښکاره سوه. ورپسې د تورو موټرو کتار په ډېرې چټکۍ سره روان و. زه په خولو کښې لوند خیشت وم. هماغه دعا مې تکراروله چې نعماني صاحب رازده کړې وه: ((اللهم ربنا تقبل منا شهادتنا .... ))

کتار لا سل یو نیم سل ګامه لرې و. د پتلانه جیب ته مې لاس کړ چې د فیوز بټن راپیدا کړم. که ګورم بټن نسته. اوه خدایه بټن څه سو؟ ژر مې بل جیب ولټاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

هلته هم نه و. اوف دا دریشي څومره ډېر جیبونه لري. ملا ته مې لاس یووړ چې د فیوز مزي راپیدا کړم چې ډز سو. زه په هوا سوم او بیا پر ځان پوه نه سوم.

## څلورم څپرکی

## په جنت کې

نه پوهېدم چې څو شپې بې سده وم. چا، کله او څنګه دلته راوستی وم؟ هېڅ نه پوهېدم. په کوټه کښې څلور نور چپرکټونه هم پراته وو. پر هر یوه یو یو مریض پروت و. څوک بې سده، څوک په سد، د چا په پوزه کښې پیپ تېر سوی و، د چا پر خوله او پوزه باندې پلاستیکي کڅوړه. د یوه مریض له هرې ساه سره خرهار راپورته کېده. یوه بل یې کرار کرار زګیروي کول. د ټولو پر تن د شنه رنګ جامې وې.

بیا مې ستونی وچ سو. ږغ مې وکړ: اوبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هماغه نجلۍ د درګاه په خوله کښې راښکاره سوه. ورسره يو ډاکتر هم کوټې ته رانﻨوت. د ډاکتر پر سر هم زرغونه خولۍ او پر تن يې زرغونې جامې وې. سپينه چپنه يې اغوستې وه. له خولې څخه يې زرغون ماسک لرې کړ. توره ګڼه ږيره يې وګروله. په غټو تورو سترګو يې نجلۍ ته اشاره وکړه چې اوبه ورکړه.

نجلۍ د اوبو ګېلاس هغه ته ونيو، ويې ويل: اوبه غواړې؛ خو زما له لاسه يې نه چښې.

ډاکتر ګېلاس ورواخيست. څو کاشوغه اوبه يې په خوله کښې راواچولې. لکه د څو ورځو روژه چې مې ماته کړې وي، اوبو همداسې خوند راکړ. ډاکتر نجلۍ ته وويل: کارګران راوغواړه چې مريض سرويس ته يوسي.

نجلۍ ووته. ډاکتر راڅخه وپوښتل: نوم دې څه دیه؟

ما يې سترګو ته وکتل. په رانجو تورې وې. لکه پخوا چې مې هم ليدلی وي، اشنا غوندې راښکاره سو. تر اشنا هم يو څه زيات لکه نژدې انډيوال. په کرار ږغ مې وويل: عبدالستار.

ــ ډېر ښه. زما نوم محمد بلال دیه. ته ما عمليات کړی يې. اوس څنګې يې؟

ــ سر مې درونددی.

ــ دا د انستيزي، د بېهوشي د دوا اثر دیه. ښه به شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ډاکتر بلې خوا ته مخ واړاوه، د مېز له سره يې کاغذان ورواخيستل. ما له شا څخه ورو کتل. څنې يې د سنت په طريقه برابرې وې. بيخي تبليغيانو ته ورته و.

دوه تنه کارګران راغلل. د چپرکټ لر او بر سر ته ودرېدل. چپرکټ يې روان کړ. له يوه اوږد دهليزه تېر سو، ښي لاس ته وګرځېدو، بل دهليز راغی، دواړو خواو ته يې لويې کړکۍ وې. دغه نری دهلېز لکه په هوا کښې چې ولاړ وي، له ښيښو څخه يې لاندې سړک ښکارېده.

سترګې مې پټې سوې.

شرنګا مې واورېده. چپرکټ يې له يوې خړې وسپنيزې دروازې سره درولی و. د درګاه زنګ يې وواهه. شېبه وروسته درګاه خلاصه سوه. د لرګيو کوټنۍ غوندې ځای و. چپرکټ يې دننه کړ. کارګران زما په خوا کښې ودرېدل. کوټنۍ حرکت وکړ. نه پوهېدم چې کښته تله که پورته؛ خو نېغه روانه وه. زه بيا په نورو پوه نسوم. يو وخت مې سترګې خلاصې کړې چې په يوه کوټه کښې وم. زما چپرکټ يې کړکۍ ته نژدې درولی و. کړکۍ د باندې له خوا وسپنيزه پنجره لرله.

کارګران ووتل، يوه وسله وال د کوټې درګاه پورې کړه. دلته زه يوازې وم. نور مريضان نه وو. په کوټه کښې دوې دانې چوکۍ وې. يو کوچنی ميز زما د چپرکټ په خوا کښې اېښوول سوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې وروسته دروازه خلاصه سوه. په توره دریشي کښې یو سړی راننوت. د هغه په لاس کښې خړه پلاستیکي دوسیه او توره مخابره وه. شیان یې پر مېز کښېښوول. له جیبه یې کوچنی ټېپ راوایست. د اورلګیت د دبي په اندازه یوه فیته یې په کښې واچوله.

د کوټې دروازه بیا خلاصه سوه. ډاکتر بلال و. سړي ته یې وویل: امر صایب خیریت خو به وي؟

هغه د ټېپ مزي ورسمول. په سترګو باندې یې زما خوا ته اشاره وکړه، ویې ویل: له دغه سړي تحقیق کوم.

ډاکتر وویل: دی خو همدا شېبه له انستیزي وتلی.

سړي ورته خوله جینګه کړه: نو څه؟

ـ زه اجازه نه درکوم چې اوس یې وځورې.

ـ دا یو تروریست دی.

ـ دا یو انسان دیه.

ـ ته خبر یې چې څه یې کول؟ دا مو د وطن دښمن دی.

ـ زما مسلک دوست او دښمن نه پېژني. زه د یوه ډاکتر په صفت اجازه نه درکوم چې اوس ورنه تحقیق وکې.

سړي خپل شیان ټول کړل. له کوټې ووت. دروازه یې په ځان پسې سخته ووهله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

نجلۍ راغله. ډاکتر ورته وویل: حیاتي علایم یې وګوره.

نجلۍ زما پر مټ د فشار اله وتړله. په خوله کښې یې لکه قلم یو ښیښه یي شی راکښېښوو. بیا یې زما پر نبض ګوته ټینګه کړه.

ما خپل لاس تاو کړ. زور مې وکړ؛ خو لاس مې په چپرکټ پورې تړلی و. بد بد مې ورته وکتل. رنګ یې والوت. یوګام شاته سوه.

ډاکتر پوه سو. ویې ویل: خیر دی نبض به یې زه وګورم.

څو شېبې یې خپل ساعت ته وکتل بیا یې وویل: څلور نوي.

وروسته نجلۍ څو شېبې زما په ټټر پورې سترګې وګنډلې. لکه زما ساه چې یې شمېرله. بیا یې په دوسیه کښې څه ولیکل.

درګاه خلاصه سوه. یو مشر سړی مخکې او هماغه توري دریشۍ والا ورپسې رانوتل. ډاکتر ته یې وویل: متخصص صایب! دغه سړی له تا شکایت کوي.

ډاکتر وویل: سرطبیب صایب! ما ورته وویل چې مریض همدا شېبه له انستیزۍ راوتلی، دی د تا پوښتنو ته کله ځواب ویلای شي؛ خو دی شله دیه چې نه، زه همدا اوس ورنه تحقیق کوم.

سرطبیب سړي ته مخ واړاوه، ویې ویل: تا خو ما ته داسې ونه ویل. ډاکتر رښتیا وایي. مریض خو درنه تښتي نه. ستا کسان وربانديې پیره کوي. هر وخت چې ډاکتر اجازه درکړه، بیا خپل کار وکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي وویل: سمه ده؛ خو د دې مریض، ډاکتر او نرس حتی د دې کوټې کارګر باید مالوم وي او موږ سره ثبت شي. نور ډاکتران به حق نه لري چې دې کوټې ته راشي.

ډاکتر وویل: ویې لیکه. ډاکتر یې زه یم، بلال عرفان، نرسه، مینه.

مینې ته یې وکتل: کوم کارګر دې ټاکلی دی.

ـ سالم.

ـ ولیکه کارګر، محمد سالم.

سړي وویل: زه به تاسو درې واړو ته مخصوص کارتونه جوړ کم.

دا نظامي روغتون و. چارصد بستر یې باله. هماغه ګړۍ چې ما غوښتل ځان پټ او کړم او د فیوز په بټن پسې مې جیبونه لټول، امریکایي پیره دار راباندې پوه سوی و، زه یې ویشتلی وم. مرمۍ زما د چپ ورانه په هډوکي منښتې وه. ګومان کوم چې په مرمۍ کښې به کومه دوا وه چې زه یې سم له واره بېسده کړی وم. زه د لوکس سرویس په دویم پوړ کښې بستر وم. د امنیت شعبه هم په همدې ځای کښې زما کوټې ته مخامخ وه. په پاکستان کښې چې ورته ((آی اس آی)) وايي، دوی یې امنیت بولي.

نور کسان چې ولاړل، ډاکتر راسره یوازې پاته سو. راته ویې ویل: ګوره عبدالستاره اشنا! لږه ګوزاره وکه. ته مریض یې. مینه نرسه ده. دا مې ځکه ستا د پاره ټاکلې ده چې ډېره تجربه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

ما وویل: تجربه دې یې ورکه سي، دا دې ورکه سي. دا څه دوسي ده چې نامحرمه نجلۍ دې پر سړي لاس ولګوي؟

ــ نر ډاکتر ښځو ته محرم دیه که نه؟

ــ محرم دی؛ خو چې حاذق طبیب او مسلمان وي.

ــ خلاص نو، د نر لپاره هم ښځینه نرسه همدا اسې ده. ما درته وویل چې دا ښه تجربه لري. بیا زموږ په مسلک کې انسان مهم دیه. موږ د نر او ښځې، مومن او کافر د دواړو علاج کړو. ما په سلګونو ښځې عملیات کړې دي؛ خو د معاینې یا د عملیات په وخت په والله قسم دیه که زه په ځان باندې پوهېږم چې زه نر یمه که ښځه. په خندا یې وویل: رحمان بابا فرمایي:

که په زړه کې دې څه عیب نه وي رحمانه

ښکلي مخ ته په کتو کې ګناه نشته

سخت درد راغلی و، علم ما کړی او مسالې ده کولې. ومې ویل: ته څوک یې چې ما ته نصیحت کوې؟

لنډکي برېتونه یې وګرول، په موسکا یې وویل: ستا ډاکتر.

ما وویل: یو خو دې له شهادته بې برخې کړم او بل را ته مسالې هم کوې.

هغه غلی و.

بیا مې وویل: که زه دې هماغسې پرېښې وای، اوس به شهید وم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په ارام ږغ وویل: زموږ د روغتون د وره د پاسه یو ایت لیکل شوی دیه. زه چې هر سهار روغتون ته رځم، سترګې مې په هغه باندې لګېږي. الله تعالی فرمایي: ومن احیاها فکانما احیا ناس جمیعا

مانا یې داسې ده چې: څوک چې یو کس ژغوري داسې ده لکه ټول بشریت چې یې ژغورلای وي.

ما وویل: بس بس. زه په هر څه پوهېږم. ما مدرسه ویلې ده.

ډاکتر وویل: څومره ښه. نو ته پخپله تر ما ښه پوهېږي. ژوند د الله تر ټولو لوی نعمت دیه؛ ځکه خو هېڅوک حق نه لري چې خپل ژوند ختم کي.

ما غوښتل چې ځواب یې ورکړم؛ خو هغه وویل: ته اوس ارام ته ضرورت لري. بیا به له خیره ډېرې خبرې سره وکو.

پر سبا یې د تحقیق لپاره بل سړی راغی. ذره بیني عینکې یې له سترګو لرې کړې. ټېپ یې چالان کړ، پر مېز یې کښېښود. نیم لستوڼی کمیس یې د پتلانه له سره لږ پورته کړ، تمانچه یې له پوښه راوکیښ، د ټېپ خوا ته یې پر میز کښېښود. پخپله راته مخامخ پر چوکۍ کښېناست.

یوه شېبه یې د ګوتو په سر د چوکۍ پر متهو طبله ووهله. بیا یې وویل: ګوره ملګریه! زما نوم محسن دی. زه ډېر ښه سړی یم. زه به د ورور په شان چلند درسره وکم؛ خو تر هغې پورې چې ته راته رښتیا وواېې؛ خو که کومه خبره دې رانه پټه کړه نو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

رډ يې راته وکتل، ويې ويل: خير. دا راته ووايه چې له غلام جان سره څه پېژنې؟

ما وويل: غلام جان؟

يوه شېبه يې په ځير راته وکتل، بيا موسکی سو: اوه، رښتيا ته خو هغه د ګلاب په نامه پېژنې. تا ته يې دروغ ويلي وو. اصلي نوم يې غلام جان دی.

_ زه نه ګلاب پېژنم، نه غلام جان.

_ عبدالله څنګه؟

ما غوښتل چې انکار وکړم؛ خو هغه وويل: اسلام څنګه؟ او مولوي نعماني صاحب به هم نه پېژنې؟

زه هک پک سوم. دی څنګه پر هر څه خبر سوی و؟

خپل شيان يې ټول کړل. ويې ويل: د نن د پاره همدومره بس دی. ستا د مالوماتو د پاره بايد ووايم چې نذير هغه د ګلاب زوی چې د تا سره د بريد تر ځايه راغلی و، د تېښتې په وخت زموږ ملګرو پېژندلی او هغه يې تر کوره تعقيب کړی و. د هغه پلار، د هغه ورور، عبدالله، اسلام دا ټول مو د يوه سره نيولي. دا درېيمه ورځ ده چې هغوی را سره بنديان دي. سليم، هغه خاين ترجمان چې و، هغه امريکايانو بندي کړی. زه اوس ځم. ته د پټولو د پاره ډېر څه نه لرې؛ خو بيا هم کوښښ وکه چې رښتيا راته ووايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې ولاړ، ډاکتر بلال راغی. پښه مې سخته خوږېدله. ډاکتر ته مې وویل.

هغه مینې ته وروړغ کړل. ویې پوښتله: د درد دوا دې ورلګولې ده؟

مینې وویل: هو. سهار مې یو ډیکلوفینک امپول ورکړی و، دغه یو ساعت مخکې مې بل ورولګاوه.

ډاکتر ما ته کړه: له څه وخت راهیسې خوږېږي؟

ما وویل: سهار یې چې په درد شروع کړی، تر اوسه هماغسې خوږېږي.

ډاکتر مینې ته وویل: ګومان کوم چې د نورو زور نه پې رسي، یو پنتازوسین ورولګوه.

مینې په مټ کښې راته بله ستن راولګوله. لس پینځلس دقیقې به تېرې وې چې درد مې ورک سو. ورو ورو مې سر سپک سو. زړه مې خوشاله سو. غمونه مې هېر سول. ساه چې مې اخیستله، خوند یې راکاوه. حال مې بیخي هماغه شی و چې د حملې پر وخت و. هماغه د جنت هوا چې راباندې لګېدله. حیران وم چې دا څه کیسه ده؟

کاکا سالم ته مې وویل: اکا دغه اخري ستن چې یې راولګوله، هغه ښیښه یې څه سوه.

هغه د پټې د شیانو پټنوس وکوت. د پیچکارۍ خالي ښیښه پکښې پرته وه. چې ومې کتل، ښیښه سپینه وه، په سره رنګ انګریزي لیکل یې درلودل. هغه پیچکارۍ چې ګلاب رالګولې وه، بیخي همدا شی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ډاکتر مې راوغوښت. و مې ویل: ډاکتر صاحب دغه ستن د درد ده؟

هغه وویل: هو. ولې؟

ـ هېڅ، دا سر مې دا سې سپک سوی، یو رقم خوند یې راکړی.

ـ سمه ده. دا پیچکاري شدید دردونه ختموي؛ خو نېشه هم لري.

په چورتونو کښې ډوب سوم. نو هغه چې ما د جنت هوا ګڼله، هغه خوند او کیف چې ما ویل د جنت به وي، هغه هر څه د نیشې اثر و؟ څنګه یې ومنم؟ نعماني صاحب پخپله راته ویلي وو چې د جنت هوا به دربانديې ولګېږي. که دا نېشه وه، د جنت هوا بیا کومه وه؟

ډاکتر بلال هره ورځ سهار راته. زما سترګې، خوله، ځیګر او پښه یې کتل، زما د ورانه د ټپ پټۍ یې بدلوله. مینه په ورځ کښې دوه ځله راتله، سهار او مازدیګر. هغې راته سیروم او پیچکارۍ لګولې، زما حیاتي علایم یې کتل. سالم به ټوله ورځ راسره ناست و. کوټه یې صفا کوله، زما د چپرکټ روجایانې یې بدلولې، زما سیروم به چې خلاص سو، مینه به یې راوبلله، لاس ته یې اوبه راا چولې، د ضرورت پر وخت به یې بولدانۍ راکوله.

اولې ورځې ډېرې سختې وې. څومره شرم دی چې پر ځای پروت اوسې، بولې دې په بولدانۍ کښې وکړې او بل سړي ته یې په لاس کښې ورکړې چې ایسته یې واچوي. بولې خو خیر ان د چکر (غایطو) مساله هم همدا سې وه. ما څو ورځې هېڅ شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ستوني تېر نه کړل. ما غوښتل کولمې مې تشې وي. په سیروم باندې ژوندی وم؛ خو ډاکتر بلال ډېر راته ټینګ سو. هغه راته وویل چې بدن پر موږ حق لري. په محشر کې د نفس د حق پوښتنه هم درنه کېږي. هماغه خدای چې د غه حالت یې درباندې راوستی، همغه به یې لرې هم کا.

ما غوښتل چې ځواب ورکړم؛ خو چې لږ فکر مې وکړ، خبره یې پر ځای وه. یو خو ده پر اوله ورځ زما په خاطر له هغه بل سره لانجه وکړه؛ لکه احسان چې یې راسره کړی وي او بل نه پوهېږم ولې ډاکتر راته اشنا غوندې ایسېده. لکه د ځو کلونو یار چې مې وي. عجب سړی و. و ډاکتر؛ خو دیني مسالې یې تر ما ښې زده وې. هم مې ورته رخه راتله او هم کرار کرار راباندې ښه لګېده.

لمونځونه مې په اشارې کول. هغه هم بې اوداسه. د تیمم لپاره هم نه سوم پورته کېدای. چپه پښه مې په ورانه کښې ماته وه. ډاکتر په ورانه کښې راته څو ځایه د پولادو سیخان تیر کړي وو. دغه سیخان په څو وسپنیزو کړیو پورې تړل سوي وو. دوی دغه شی اپرات باله. ویل یې چې دغه اله هډوکي پر خپل ځای ساتي ترڅو چې جوښ وکړي. بله پښه مې د ښنګر په حصه کښې ماته وه؛ ځکه خو زه مجبور وم چې تر دربو هفتو پورې له ځایه پورته نه سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

څو ورځې پس ته محسن بیا راغی. یو تور بېګ هم ورسره و. راته ویې ویل: ښه نو ګومان کوم چې ماغزه به دې سم شوي وي. اوس نو وایه چې د مولوي نعماني په باب څه مالومات لرې؟

ما فکر وکړ چې نور نو انکار مانا نه لري. ومې ویل: هغه زما استاد و. زبردست عالم دی. مجاهد دی.

هغه په خبرو کښې راولوید: او د ((آی اس آی)) جاسوس.

ـ دا دروغ دي. هغه یو سوچه مجاهد دی.

ـ د څه شي مجاهد؟ نو ولې په پاکستان کې جهاد نه کیي؟

ـ هورې خو ګرده مسلمانان دي. د چا پر ضد دې جهاد وکي؟

ـ نو افغانان کافران دي؟ موږ کافران یو؟

ـ تاسو له کفارو سره دوستي کړې ده. ما ستاسو ښار ولید چې څومره فحشا او فساد پکښې کېږي.

ـ ته په پاکستان کې ګرځېدلی یې؟ په لاهور کې د هیرا منډۍ نوم دې اورېدلی؟ ته خبر یې چې د کراچۍ په سینما ګانو کې لوڅ فلمونه چلېږي؟

یوه شېبه غلی سو. له چوکۍ پورته سو. کړکۍ خوا ته ورغی. بیا یې وویل: همدغه ((آی اس آی)) په ایډز اخته ښځې راټولوي، هندوستان ته یې د فحشا د پاره لېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: او د کرزي لور چې د بوش مخې ته لغړه نڅېږي، په هغه کې څه وایې؟

هغه راته نېغ وکتل، ویې ویل: څه شی؟

ما سترګې کښته کړې.

یو دم په خندا سو. داسې په کټ کټ یې وخندل چې ته وا کومه ټوکه یې اورېدلې ده. هغه خندل او ما ورته حیران کتل. بېرته پر چوکۍ کښېناست، ویې ویل: مړ دې کړم. ناځوانه! دا درته چا ویلي دي؟

ـ ما پخپلو سترګو لیدلي دي. په سي ډي کښې.

بیا یې لږه شېبه وخندل. ویې ویل: سخت کم عقله سړی یې ګیر کړی یې.

ما وویل: کم عقله خو تاسې یاست چې خپل دین مو پرې ایښی.

سړي یو زورور سوک پر مېز ووهه. له ځایه پاڅېد. رامنډه یې کړه. دواړه لاسونه یې زما پر ستوني کښېښوول. غاښونه یې راته وچیچل؛ خو پر ستوني یې زور راونه کړ. بېرته وګرځېد. ویې ویل: ارمان چې ته ټپي یې. که ټپي نه وای؛ نو بیا به زه درسره جوړېدم. که هغه نور خاین انډیوالان دې وګورې، بیخي به یې ونه پېژنې.

خپل لاسونه یې موټي کړل، ویې ویل: په ټول بدن کې یې زما د سوکانو نخښې پاتې دي. ته وایې هغوی به همداسې وچ په وچه اقرار کړی وي؟ نه، که ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

وګورې بيا به پوی شې. هغه نذير نومي ځان راته ډېر ټينګ ښوده، ويل يې چې مړ مې که؛ خو اقرار به ونه کم. پوهېږې چې څه مې ورسره وکړل.

ږغ يې ټيټ کړ، ويې ويل: بوتل مې پکې ومنډه، بوتل.

يوه شېبه غلی و، سترګې يې رډې راختلې وې، په ځير يې راکتل.

بيا يې وويل: ګوره! زه ټوکې درسره نه کوم. کرزی اصلاً لور نه لري. دا څو کاله د مخه يې واده کړی، تر اوسه خو بيخي اولاد لا نه لري.

د هغه خبرې مې زړه ته نه لوېدې. نعماني صاحب پخپله د کرزي د لور خبره راته کړې وه. هغه خو راته دروغ نه ويل.

سړي خپل بېګ خلاص کړ، ويې ويل: زه به په کمپيوټر کې يو شی دروښيم.

څو شېبې يې ګوتې پکښې ووهلې. بيا يې کمپيوټر زما مخې ته پر مېز کښېښود. ويې ويل: کمپيوټر ته وګوره. دغه سړی پېژنې؟

سر مې لږ پورته کړ. لاس مې تر سر لاندې تکيه کړه. د کمپيوټر ټوله ښيښه په يوه لوی کارت ډکه سوې وه. خطونه يې انګريزي وو. په عکس کښې يو شين سترګی پاکستاني فوجي ښکارېده. سرتور سر و. ږيره يې خرييلې وه. برېتونه يې هم نه وو.

سړي وپوښتل: په انګريزي پوهېږې؟

ـ يه.

ـ نو زه به يې درته ولولم. د آی اس آی کرنيل الطاف حسين.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: زه یې نه پېژنم.

ـ ته به یې خود نه پېژنې. تا هغه په بل نامه او بله څېره پېژانده.

بیا یې د کمپیوټر پر بټنو ګوتې ووهلې. د کمپیوټر پر نیمه خوا د نعماني صاحب تصویر راغی، پر بله نیمه یې د هماغه کرنیل عکس پاته سو. ویې ویل: اوس نو دا مه وایه چې نعماني صاحب نه پېژنم.

ما فکر وکړ چې هغه خو په پاکستان کښې دی، د دوی لاس نه ورته رسېږي؛ نو ومې ویل: پېژنم یې. همدا نعماني صاحب دی.

سړي بیا کوم بټن وواهه. د نعماني صاحب ږیره او پګړۍ کرار کرار لرې سوې. تصویر نوکی غټ سو. دواړه تصویرونه د یوه سړي وو. هغه پخپله و. هماغه فوجي. پر خپلو سترګو باندې مې باور نه کېده.

محسن وویل: ها بله ورځ چې مې درته وویل چې دا د ((آی اس آی)) سړی دی، پر تا بده ولګېده؛ خو دا خبره رښتیا ده.

ما فکر وکړ چې په دې کښې به خامخا کوم چل وي. دوی غواړي چې ما تېر باسي. نا څاپه مې هغه صحنه رایاده سوه چې د وانې پر لاره پاکستاني فوجیانو زموږ موټر ودراوه او نعماني صاحب خپل کارت ورښکاره کړ. فوجي چې کارت ته وکوت عسکري سلام یې وکړ. دغه کارت هم هماغسې و. بیا مې ځان سره وویل: ته نو په انګریزي څه پوهېږې؟ کېدای سي هغه بل شی وي. زه لا په دې فکر کښې وم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

محسن د لا حیرانتیا خبره وکړه. ویې پوښتل: ښه نو دا راته ووایه چې الطاف حسین، هماغه ستا نعماني صاحب، د کوم ځای دی؟

ــ د سوات.

محسن سر وښوراوه: هغه پنجابی و. درې کاله یې په سوات کې خاص د همدې د پاره تېر کړي وو چې سواتي لهجه زده کي. ته خو به دا م نه منې.

هغه د تلو پر وخت راته وویل: هغه نجلۍ چې تا ته یې د کرزي د لور په نامه ښییلې وه، هغه څه رنګه وه؟

ما د نجلۍ او د هغه ځای نخښې چې کرزی په کښې ناست و، ورته وویلې.

هغه ولاړ؛ خو زه یې په سوچونو کښې ډوب کړم.

بله ورځ سالم راته وویل: چې د غه ډاکتر عرفان چې دی، څو کافران یې مسلمانان کړي دي.

ما وویل: ډاکتر عرفان یې بیا څوک دی؟

ــ همدا زموږ ډاکتر صاحب، ډاکتر بلال یادوم، تخلص یې عرفان دی.

ــ ښه نو، تا ویل څنګه؟

- نور نه پوهېږم؛ خو بلا سړی دی. کافرانو ته یې یو څو خبرې کړي دي، بس هغوی کلمه ویلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ورځ مې د حیرانتیا یوه نوې خبره اورېدله. د نعماني صاحب او الطاف حسین خبرې تر اوسه ګنګس ساتلی وم او دا یې لا بله چې ډاکتر پر کافرانو باندې اسلام منلی. بله ورځ مې ورڅخه پوښتنه وکړه چې دا خبره رښتیا ده؟

هغه موسکی سو. ویې ویل: چا ته چې الله تعالی هدایت وکا، یوه عادي خبره ورته سبب جوړېږي. یو امریکایي پروفیسور د پلې رغلی و. هغه له خدایه منکر و. زه یې په لمانځه ولیدم.

راته ویې ویل: ته ډاکتر هم یې او لمونځ هم کوې دا څه کیسه ده؟

ما ورته وویل: «ایمان له شغل سره نه، له زړه سره تړلی وي. لکه چې زما دلیل یې خوښ شوی و. څو ورځې یې بحث را سره وکو. ما ورسره په بحث کې هماغه خبرې کړلې چې دوی پخپله د طب په کتابونو کې لیکلي. مثلاً ما د هډوکو مثال ورکو. هډوکی چې ماتېږي، لکه ستا پښه چې ماته ده، د هډوکي په منځ کې یوه خلا جوړه ده، تقریباً پېنځه سانتۍ هډوکی دې نشته. نو د مات شوي ځای له دواړو سرونو د هډوکي وده شروع کېږي؛ تر څو چې یو بل ته سره رسېږي. دغه وده منظمه نه وي. د انسان هډوکی منظم وي؛ خو دا لکه غونډارې هرې خوا ته وتلي وي. کله چې کمی پوره شو او د هډوکي سرونه یو بل ته سره ورسېدل، همدغه هډوکی بېرته خپلې راوتلې ځنډې خوري او لکه اصلي هډوکي یې هماغسې ښوی او صاف جوړوي. دا سې صاف چې ملي متر فرق هم پکې نه رځي. لکه نجار چې په رنده باندې لرګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ښویوي. نو ما ورته وویل چې ته څه فکر کوې، یوه حجره څنګه پخپل سر دا ټول کارونه په دومره نظم ترسره کولای شي؟ بل مثال مې ورکو. دا د مني حجرې چې دي، سپرم نومېږي. په یو څاڅکي مني کې بلا ډېر سپرمونه وي، ان درې څلور میلیونه. ساینسپوهانو په دو باندې تحقیق کړی. که سپرم په یوه لوښي کې واچوې، حجرې به یې حرکت کا؛ خو هرې خوا ته سرګردانه ځي رځي؛ تر څو پورې چې ختمې شي؛ خو که په همدې لوښي کې د رحم یوه ټوټه هم واچوې، د سپرم ټولې حجرې د هغې خوا ته حرکت کا. ما امریکایي ته وویل چې سپرم ته دا شعور چا ورکړی؟ سپرم د رحم ټوټه څنګه پېژني؟ ته په دې کې د خدای قدرت نه وینې؟ د غسې نور بحثونه مو هم سره وکړل. بس هماغه و چې سړی مسلمان شو.»

کیسې خوند راکړی و. سترګې مې د ډاکتر بلال خولې ته ګنډلې وې.

ډاکتر بلال بیا وویل: خبره دا ده چې هغه په دو هرڅه تر ما ښه پوهېدو؛ خو دو اړخ ته یې فکر نه و کړی. ګوره دا خو د عقل خبرې دي؛ خو د خدای سره باید د مینې رابطه ولرو. حمزه بابا څه ښه وایي:

عقلـــــه تـــــه بـــــه ســــــیال د محبــــــت نــــــه شــــــې

دنګه مناره څه وي په غره پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکتر خبرو هېښ کړی وم. په زړه کښې مې ورته مینه پیدا سوه. چې رښتیا وو ایم، ما هېڅ وخت د خدای د قدرتونو په باب فکر نه و کړی. د ((فصلت)) د سورې هغه ایت مې را یاد سو چې فرمایلي یې دي:

((ډېر ژر به د نړۍ چاپېر او د هغوی په ځان کښې خپلې نخښې نښانې وروښایو؛ تر څو ورته څرګنده شي چې هغه حق دی، ایا دا بس نه ده چې الله پر هر څه باندې شاهد او ګواه دی؟))

سبحان الله. په رښتیا چې زموږ په بدن کښې د الله د قدرتونو ډېرې نخښې سته؛ خو دا زموږ کار دی چې ورباندې فکر وکړو. ډاکتر ته مې په زړه کښې افرین وو ایه.

محسن بله ورځ بیا خپل کمپیوټر راوړ. چالان یې کړ. هماغه لغړه نجلۍ پکښې نخښېدله چې ما په وانه کښې په سي ډي کښې کتلې وه. هماغه لویه کوټه وه. په بر سر کښې د کرزي او بوش پر ځای، زه او نعماني صاحب سره خوا په خوا ناست وو. په بل سر کښې نور پګړۍ والا کسان پر چوکیو ناست وو. سخت یې حیران کړی وم. زه په خوب کښې هم داسې ځای ته نه وم تللی.

محسن وویل: څنګه دې خوله وازه پاتې شوه؟ ته خو جهاد ته راغلی وې. جهاد همدا دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

ما وويل: ايسته که، بې شرمه ! همدلته پر همدې چوکۍ کرزی ناست و. دا چلونه مو پر ما نه چلېږي.

هغه مېز ووهلو. تندی يې تريو شو. ويې ويل: له خولې سره به دې پام کوې. ها د بوتل خبره دې لکه چې هېره شوه.

ما ورته غابنونه وچيچل. په زړه کښې مې وويل: بل ځای به په لاس را نه سې؟

وروسته هغه بېرته په ارام ږغ وويل: ګوره ملګريه ! سم د سړي زوی شه. ته پخوا غولېدلی وي. زه دې نه غولوم. اوس به د آی اس آی ټول چلونه مخې ته درشي. دې ته وګوره.

د کمپيوټر په نيمه خوا کښې بل تصوير راغی. په دې کښې پر هماغه چوکۍ دوه نور کسان ناست وو. نجلۍ هماغه وه.

سړي وويل: اصلي تصوير همدا دی. دا د لبنان خلک دي. څنګه چې ما د تا او د الطاف حسين عکسونه د دوی په ځای راوستل، هماغسې آی اس آی والا د کرزي او بوش تصويرونه راوستي دي.

چورت مې ډېر خراب و. نه مې باور کولای سو، نه انکار. نه پوهېدم چې پخوا تېر ايستل سوی وم، که اوس؟ زه نعماني صاحب ته د ولايت په درجه قايل وم. اوس مې هم ګومان نه کېده چې دا خبرې دې رښتيا وي.

پر سبا يې له ډاکتر بلال څخه مې وپوښتل: دا د کرزي لور څه کار کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وويل: کرزی اولاد نه لري.

ما له ځان سره فکر کاوه چې محسن رښتيا وايي که نعماني صاحب؟ او د ډاکتر بلال خبره څنګه؟ دی راته صادق ښکارېده.

بدن مې تود و. ډاکتر چې معاينه کړم، ويې ويل: اوهو ته خو تبه لرې.

سترګې او ستونی يې راوکتل. مينې ته يې وويل: ته يې د وينې سېمپل واخله. زه به داخله سرويس ته وليکم چې د کانسولټېشن د پاره دې څوک اروليږي.

په دوسيه کښې يې څه وليکل او مينې ته يې ورکړه. څو شېبې وروسته يو ښايستوکی ځوان ډاکتر له مينې سره راغی. ډاکتر عرفان وويل: اوهو ښه شو چې ته راغلې.

ما ته يې کړه: دا دی په خپل وطندار وربښ شوې.

ډاکتر رانه وپوښت: شريکه د کوم ځای يې؟

زه يې له لهجې پوه سوم چې هلمندی دی. ومې ويل: د زميندا ورو.

ـ ښه د کومې ناوې؟

ـ د زاړه ښار.

ـ شريکه ته خو بيخي کليوال راوختې. د کوم کلي يې؟

ـ د کاريز ښار.

ـ په ((ده بابا)) کښې ذبيح الله پېژنې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

ــ هغه کلینیک والا؟

ــ بس ودې پېژاند ، هغه مې تره دی. زما نوم رفیع الله دی.

خورا خوشاله سوم. لکه خپل نژدې قریب چې مې لیدلی وي.

رفیع الله وویل: د چا زوی یې؟ زه به مې اکا ته په ټېلفون کښې ورته ووایم.

ما وویل: زه هېڅ ځوک نه لرم.

ــ څنګه؟ پلار، مور، اکا، ورور یو ځوک خو به لرې؟

دروازې ته یې اشاره وکړه. منظور به یې د امنیت شعبه وه. په خندا یې ویې ویل: بېربېره مه. دوی نه خبروم، بې غمه اوسه.

ستونی مې ډک سو. په سختۍ سره مې وویل: ټول یې شهیدان کړل.

د ډاکتر شونډې سره ټولې شوې. زما لاس یې ټینګ کړ. ویې ویل: بخښنه کوه.

په ژړغوني ږغ مې وویل: امریکایانو زموږ پر کور بمان غورځولي. ګرد سره یې شهیدان کړي دي.

څو شېبې په کوټه کښې چوپتیا وه. وروسته ډاکتر معاینه کړم. په دوسیه کښې یې څه ولیکل. ډاکتر عرفان ته یې وویل: برانشیت لري. زما له نظره دغه دوا ورته مناسبه ده. هغه په تلو تلو کښې راته وویل: خوا مه بدوه. هرڅه د خدای له طرفه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا سهار بیا ډاکتر رفیع الله راغی. خوله یې له خندا ډکه وه. راته ویې ویل: ته د عبدالجبار وراره یې که یه؟

ما وویل: هو کې.

ـ ظالمه تا خو پرون زما نفس راوایست. ستاسو پر کلي ګرد سره بمبارد لا نه دی سوی. اکا دی روغ رمټ دی. هغوی ته چا ستا د شهادت ویلي. د وختـه یې خیراتم درپسې کړی. هغوی پر ناحقه ستا ویر کوي او ته د هغوی.

زه بیخي هېښ سوی وم. دا څه لوبه راسره کېده؟ ومې ویل: دا څه وایې؟

ـ قسم دی، والله که بله خبره پکښې کې وي. پرون مې اکا ته ټېلفون وکړ. ستا خبره مې ورته وکړه چې دغسې د عبدالستار په نوم د کاریز ښار یو ځوان راسره بستر دی. هغه وویل چې دلته خو داسې کیسه ده.

ـ ډاکتر صاحب خنګه یې ومنم؟

ـ ګوره شریکه. ستاسو په کلي کښې ټېلفون کار نه کیي. اکا تـه مې ویلي دي چې نن مازدیګر دې عبدالجبار ده بابا ته وروغواړي. هلته د غونډۍ پر سر ټېلفون کار کیي.

ږغ یې ټیټ کړ: ګوره چې امنیت والا خبر نه سي. زه مازدیګر بېرته راځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

تر مازدیګره مې شېبې شمېرلې. زړه مې ټوپونه وهل. لا مې هم باور نه کېده چې دا به رښتیا وي. زه به بیا په ژوندوني خپله ادې ووینم؟ اکا، د اکا ماینه، تورکی، کلی، کور هرڅه مې رایادېدل.

مازدیګر ډاکتر رفیع الله راغی. څو شېبې راسره ناست و. ټېلفون ته یې زنګ راغی. ویې ویل پخپله دی. یو څو خبرې یې وکړې، بیا یې وویل: ښه نو ټېلفون عبدالجبار ته ورکه.

ده ټېلفون ما ته راکړ. ویې ویل: لږ به په کراره خبرې کیې.

د امنیت شعبې ته یې اشاره وکړه: چې دوی یې وانه وري.

په ټیلفون کښې رښتیا هم اکا و. هغوی په رښتیا ژوندي وو.

د هغه کیسې لا پسې حیران کړم: «تېره میاشت ښار (کندهار) ته د دوکان په سودا پسې تللی وم. هورې مې د عبدالهادي پلار ولید. هغه راته وویل چې عبدالهادي په کوټه کښې بندي دی. عبدالهادي چې له میرانشاه څخه کور ته راغلی و، پلار یې ورته ویلي وو چې نور دې میرانشاه نه ځې. هغه نعماني ته ورغلی و، ورته ویلي یې وو چې زه نور میرانشاه ته نه ځم. پر هماغه ورځ ((سي آی ډي)) والاو نیولی او په جبل کښې یې اچولی و چې دی القاعده دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د مرګ خبر هم د عبدالهادي پلار ورکړی و. هغه په عبدالهادي پسې مدرسې ته تللی و. هورې چا ورته د نعماني له خولې ویلي وو چې پر عبدالستار باندې بم پټاو سوی. د عبدالهادي دوی کورنۍ له وېرې کندهار ته تښتېدلې وه.

اکا د کلي کور نورې کیسې وکړې خو زه په چورتونو کې ډوب سوی وم. کاشکې دا هرڅه درواغ وای. ما پر نعماني صاحب تر ځان ډېر باور درلود؛ خو هغه دروغجن راوخوت. ګرد سره ژوند راته دروغ ښکارېده. دا دومره هڅه، دا دومره منډې، دا ستړیا، هرڅه په اوبو لاهو سول. لکه له ګډوډ خوبه چې راویښ سې او پوه نه سې چې اوس خوب وینم، که دا مخکې چې مې لیدل، دا خوب و؟ زه بېخي همدا سې ګنګس وم. د شپې تر ناوخته خوب نه راته. چورتونو په مخه کړی وم. دا مې نه سو منلای چې دومره لویه دوکه دې راسره سوې وي. نعماني زما له پاکې عقیدې سره لوبه کړې وه. ځنګه یې خوله نه ماتېدله چې ما ته یې د نشې اثر، د جنت هوا ښودله. زه یې د ادې د مرګ په درواغ خبر څومره وژړولم. خدا یزده چې ادې به زما د شهادت په اورېدو، څه خاورې پر سر شیندلې وي. د دهروات د کلي هغه ښځه مې رایاده سوه چې زوی یې د امریکایانو په بم شهید سوی و. هغې ځنګه خپل وینبسته شکول، ځنګه یې مخ په څپېړو واهه، ځنګه یې پر سر خاورې بادولې. زما خوارکۍ ادې به څومره ژړلي وي.

په زړه کښې مې وګرځېدل چې ښه نو دا زه تېر ایستلی. پر نعماني چې مې د ملایکو ګومان کړی و، هغه هم شیطان، بیا مې هم تاوان نه دی کړی. زړه مې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

دروغ ویلی و، سترګې او غوږونه مې دوکه سوي وو. زما باور غلط راوخوت. خیر بیا به باور وربانديې نه کوم؛ خو زه هغو کسانو ته چورت وړی وم چې باطلې عقیدې لري چې بوتانو ته سجدې کوي چې دغه نور اسماني ادیان مني چې اوس باطل سوي دي. که دوی ته یو وار حقیقت ورښکاره سي او خپلې عقیدې چې یو عمر یې په زړونو کښې ساتلې دي، باطلې وبریښي؛ نو دوی به څه وکړي؟

دا خپل تېر ژوند به څنګه وګڼي؟

لکه د چا کور چې له بیخه ونړوې او ورته ووایې چې دا کور سم نه و، اوس یې له سره جوړوه. لکه د دهقان رسېدلی فصل چې په بل مخ یې واړوې او ورته ووایې چې همدغه شی بیا له سره وکره. دا خو اسانه دي، تر دې به هم سخت کار وي لکه لوی مولوی چې ټولې دورې یې خلاصې کړې وي، ته ورته ووایې چې دا کتابونه دې ګرد سره غلط دي. هغه دې له سره شروع کړي. بله الفبې دې زده کړي، نور کتابونه دې ووایي.

دا مې په ژوند کښې اول ځل و چې پر کفارو مې خوا بده سوه. ځان سره مې فکر وکړ چې که خدای زه په مسلمانه کورنۍ کښې نه وای پیدا کړی، د یوه هندو، د یوه یهود یا د نصارا په کور کښې یې پیدا کړی وای، نو زه به هم یا هندو وم، یا یهود او یا به عیسوی وم. خدای پاک څومره لوی احسان راباندې کړی چې زه یې مسلمان پیدا کړی یم. په همدې خاطر مې دوه رکعته شکرانه نفل وکړ چې خدای مسلمان پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی یم. دوه رکعته مې هم د مور لپاره وکړل چې شکر ادې مې ژوندۍ ده. په زړه کې مې ورته تېر سول چې د هغوی نو څه ګناه ده چې مسلمان نه دي پيدا سوي؟ توبه خدايه چې په ومې نه نيسې.

سبا سهار زه لا په همدې فکرونو کښې ډوب وم چې ډاکتر عرفان کوټې ته راننوت.

ويې پوښتل: څنګه داسې اوتر غوندې يې؟

سوړ اسويلی مې وکيښ. ومې ويل: که پر يو چا خورا زيات باور ولرې، هغه غلط راوخېژي؛ نو ته به څه وکې؟

هغه وويل: زه پر داسې ذات باور لرم چې هېڅ کله نه شي غلطېدای.

ـ نه په بني ادامانو کښې؟

ـ که رښتيا درته ووايم، زه پر هېچا له حده زيات باور نه کوم. ځکه چې انسان جايزالخطا دی. زموږ باورونه زموږ د حواسو له لارې رامنځته کېږي او حواس غولونکي دي. ګوره د کوهي اوبه په ژمي کې راته تودې ښکارېږي او په اوړي کې سړې؛ خو اوبه هماغه اوبه دي. دا زموږ حواس دي چې کله يې تودې ښيي او کله سړې.

ما ورته د خپل ژوند ټوله کيسه وکړه. په اخر کښې مې وويل چې که لاس مې پر بر سو ، هغه الطاف حسين به ژوندی پرې نه ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

عرفان وویل: کرکې ته په زړه کې ځای مه ورکوه. خدای به پخپله د هر شي حساب ورسره وکا. رحمان بابا وایي:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی

د جــــمله و مخلوقاتو پلار دی دا

زړه د مینې ځای دی، نه د کرکې.

ما وویل: که پر تا همداسې لوبې وشي؛ نو ته به څه وکې؟

ـ یوازې خدای بې عیبه ذات دیه. زه به هرڅه خدای ته پرېږدم. اوس نو ته باید په دې شکر وکې چې ادې دې ژوندۍ ده.

یوه شیبه غلی و. بیا یې وویل: ګوره! تا خو پخوا هم غوښتل چې له امریکایانو غچ واخلې. تا ګومان کړی و چې په رښتیا یې ستا کورنۍ درتباه کړې ده؛ خو ودې لیدل چې خبره داسې نه وه. تا ته هغه وخت خپل نظر بالکل سم ښکارېده او اوس دغه نوی نظر هم درته سم برېښي. بیړه مه کوه. په عمل کې یوازې نیت نه، بلکې نتیجه یې هم مهمه ده.

- نو ولې وایي: ان مالاعمال بالنیات. وایي ستاسو عمل ستاسو په نیت پورې دی.

- ګوره! تاسې په دې نیت چې دین ته مو خدمت کړی وي، ځانمرګي بریدونه کړئ، د انسانانو سرونه غوڅوئ، بمونه ښخوئ؛ خو په دو کارونو مو دین ته کوم خیر رسېدلی؟ لا مو خلک له دینه بېزاره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ګوره ډاکتر صاحب ! دا د کفارو خبرې به نه راته کيې. دا ځانمرګي نه دي، دا فدايان دي.

هغه وويل: په اسلام کې ځانوژنه حرامه ده.

_ دا ځانوژنه نه ده. دا استشهاديه عمليات دي، دا شهادت غوښتنه ده او شهادت ډېر اجرونه لري.

_ يو روايت ديه. وايي يو صحابي و، په غزا کې يې ډېر کفار ووژل. اخر پخپله کاري ولګېد، سړی پوی شو چې له دې ټپه رغېدن يې نشته؛ نو د دې د پاره چې د کفارو لاس ته ونه لوېږي، توره يې لکه ودروله، ځان يې ورباندې واچاوه، توره يې په سينه کې ښخه شوه. سړی شهيد شو. وايي رسول اکرم (ص) يې جنازه ونه کړه، ويې فرمايل چې ده ځان وژلی، ځانوژنه حرامه ده.

ما وويل: نو ته څه وايې چې موږ د غسې کښېنو، بېخي جهاد ونه کو؟

ډاکتر وويل: ګوره سمه ده چې جهاد فرض ديه؛ خو دا اخري وسيله ده. لکه په طب کې چې جراحي عمليات له ناچارۍ کېږي. که يوه ناروغي په دارو درمل نه شي ښه او د علاج بله هېڅ لاره پاتې نه شي؛ نو بيا ډاکتر عمليات کا. په دين کې هم اول دعوت ديه. اول تبشير ديه، کفارو ته بشارت ورکه، زيری ورباندې وکه چې په اسلام کې دغه دغه ښېګڼې دي. بيا تنذير ديه، هغوی د دوزخ له عذابه ووېروه. د جهاد خبره بيا په اخر کې رځي. جهاد ځانته شرطونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ

ډاکتر ولاړ سو. يوه شيبه يې له کړکۍ څخه لاندې سړک ته وکتل. بيا يې وويل: دا موږ ولې انسانانو ته بني ادمان وايو ؟

ـ ځکه چې د ادم عليه سلام اولاده دي.

ـ ياني چې ټول انسانان سره وروڼه دي؟

ـ يه، کافر هېڅکله د مسلمان ورور نه سي کېدای.

ـ چې د يوه بابا زامن يو ؛ نو سره وروڼه يو کنه. نو کافر د ورور په صفت دا حق رابانديې لري چې په خوږه ژبه يې سمې لارې ته راوبولو. اوس که ما هغه امريکايي پروفيسر وژلی وای؛ نو د خلکو په ګومان به غازي وم؛ خو که په محشر کې هغه رانه پوښتلي وای چې: «ولې دې راسره استدلال نه کاوه؟ ولې دې ووژلم؟ زه و ته خو سره د يوه بابا زامن وو کنه؛ نو ولې دې بې ايمانه پرېښودم؟ پر ما دې ايمان نه لوربېده؟ که زه نه پوهېدم ته خو په هر څه پوهېدې»

نو ما به څه ځواب ورکړی و ؟ ځکه خو مې ځو ورځې ورسره بحث وکو. اول سر کې يې زما عقيدې ته په سپکه کتل، ملنډې يې رابانديې وهلې؛ خو اخر چې مې قناعت ورکو، تر ما هم کلک مسلمان ځنې جوړ شو. اوس نو ته ووايه چې دغه حق يې رابانديې و که نه و ؟

زه غلی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکتر یوه شېبه دمه وکړه، بیا یې وویل: خپه کېږې به نه؛ خو رښتیا به سره وایو. څومره کافران د رسول الله (ص) د ښه سلوک په وجه مسلمانان شوي؟ تا ته خو به ښه مالوم وي. ابو سفیان د مسلمانانو ډېر لوی دښمن نه و؟ خو رسول اکرم د مکې د فتحې په مهال د هغه کور د امن ځای اعلان کو. ویې ویل هر څوک چې د خدای په کور کې یا د ابوسفیان په کور یا په خپل کور کې پاتې شي، سر او مال به یې په امن کې وي. ولې یې دا کار وکړ، هغه خو فاتح و، لوی لښکر ورسره و. ده مبارک کولای شول ټول کفار له تېغه تېر کړي؛ خو داسې یې ونه کړل. هماغه وو چې د مسلمانانو د سر دښمنان پخپله مسلمان شول. تا خو به نبي کریم د سیرت کتابونه ویلي وي. خلکو به تیږې ویشتې، خدای ورته وفرمایل: دوی ته ښېرا وکه چې ټول درته تباه برباد کړم. خو رسول الله ښېرا ونه کړه، ویې ویل دوی خو ناپوهه دي. دعا یې وکړه چې خدای دې ورته هدایت وکړي.

ځان ته حیران وم چې ما ولې دغو خبرو ته پام نه و کړی. ولې مې یوازې د ټوپک او د جهاد په باب فکر کاوه. په رښتیا هم د نبي کریم سپېځلی سیرت له خوبیو، له احسان او له ښو اعمالو ډک دی؛ خو ما د زړه په سترګو نه و لوستی.

ډاکتر بلال خبره وغځوله: اوس په دې خپل وخت کې وګوره. ذاکر نایک په هندوستان کې د طب ډاکتر دیه. هغه لویې مناظرې جوړوي، له خلکو سره په سړه سینه بحثونه کا، په استدلال او په منطق باندې خلک د اسلام دین ته رابولي. او په خپل کار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ www.ketabton.com

کامیاب دیـه. هـر ځـل چـې دی وینـا کـا ، یـو ځـو کسـه هنـدوان او عیسـویان ضـرور مسلمانېږي.

ډاکتر ولاړ؛ خو د هغه خبرې مې په ذهن کښې تاوېدې راتاوېدې. دغـه شعر مې په ذهن کښې بیا بیا راګرځېده:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی

د جـــملـه و مـخلـوقـاتـو پـلار دی دا

د مور مینه، د نیکه محبت مې را یاد ېدل. اکا مې را یـاد سو. زمـا پـه پـام هغـه ځومره بد سړی و؛ خو همدا چې ذبیح الله ورته زما حال ویلی و چې دی ژونـدی دی، پـه منډه یې ځان ده بابا ته رسولی و چې را سره خبرې وکړي.

ما تل د خدای د غضب او قهر په باب فکر کړی و. تل د هغه له ذاته وېرېدم. مـا چې په دعا کښې د جنت غوښـتنه کولـه، هغـه هـم د دوزخ لـه وېرې و. خـو عرفـان چـې د خدای په باب خبرې کوي، لکه د مینې رابطه چې ورسره ولـري، همدا سې پـه خونـد او په شوق خبرې کوي.

پر سبا یې مینـه راغلـه چـې زمـا حیـاتي علایـم وګـوري. د نـورو ورځـو پـه څېـر وبرېدله. خو زما په زړه کښې پخوانۍ کرکه نه وه پـاتې. پـر همـدې ورځ مـا تـه پـه کوټـه کښې د ګرځېدو اجازه راکړل سوه. ښۍ پښه مې روغـه سوې وه. لکـه ماشوم چـې نـوی تګ زده کوي، همدا سې مـې پـه کـراره یـوه پښـه مختـه کولـه او بیـا بلـه. د اپراتـو کړیـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبورولم چې شوا ړ وګرځم، پښې مې سره لرې ونیسم. زه تر هرڅه پر دې خوښ وم چې نور پخپله تشناب ته تلای سوم. زه له شرمه خلاص سوم او سالم خوارکی زما له عذابه. د لامبېدلو اجازه يې هم راکړه. زما د کوټې په خوا کښې ښه لوی تشناب او حمام و. حمام ته ولاړم. قریب یو ساعت مې پکښې تېر کړ. ځان مې ښه پاک پرېوه. ایله چې د لمانځه پر خوند پوه سوم. دا دونه وخت چې مې لمونځ کاوه، خورا ځورېدم چې په ناولي بدن مې د الله عبادت کاوه.

بله ورځ ډاکتر عرفان راته تې وي او سي ډي راوړه. ما ورته وویل: زه دغه ناروا کارونه نه کوم.

هغه وپوښتلم: ګوره ! دا قلم ښه شی دیه که بد ؟

- ښه شی.

هغه په موسکا وویل: ګوره چې بیا غلط شوې. زه به په قلم باندې سپکې سپورې ولیکم یا به کفري خبرې پرې ولیکم؛ نو بیا قلم ښه شی شو که بد ؟

- دلته تا قلم غلط استعمال کړی دی، بد يې ستا ده.

ــ بس دا هم د قلم په شان یوه وسیله ده. که ښه استفاده دې ځنې وکړه، ښه شی دیه او که بده استفاده دې وکړه، بد دیه. ما درته د ذاکر نایک سي ډي راوړې ده. یو ځل يې وګوره پښېمانېږې به نه. سي ډي يې چالانه کړه. دی ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

په سي ډي کښې خورا لوی جماعت و. تر زر یونیم زرو به زیات کسان ناست وو. ډاکتر نایک راغی. دنګ نری غنمرنګی سړی. نری ږیره یې تر قبضه اوږده، خړه دریشي یې پر تن، نیکټایي یې په غاړه، سپینه خولۍ یې پر سر. خبرې یې په انګریزي کولې؛ خو په پښتو هم ترجمه سوې وې. خلکو پوښتنې کولې، ده یې ځوابونه ویل. په اکثرو خبرو کښې به یې د قران د ایتونو او سورتونو نمبر او نوم یادول چې دا خبره د قران په دغه سورت او په دغه ایت کښې راغلې ده. بیا به یې په هماغه بحث کښې د انجیل او تورات د ایتونو ذکر وکړ چې په دې باره کښې د انجیل پلانکی ایت دا سې ویلي دي او په تورات کښې دا سې راغلي دي. عجب فصاحت او بلاغت یې درلود. او حافظه خو یې نو ماشاالله.

خبرې یې ډېرې د کار خبرې وې؛ خو یوه یې بیخي نادره وه. په قران کښې خو دا خبره راغلې ده چې په انجیل او په تورات کښې د نبي کریم (ص) د راتګ بشارت ورکړل سوی دی. په انجیل کښې د ((احمد)) ذکر سوی چې منظور یې ستایل سوی یعنې ((محمد)) دی. خو نایک وویل چې د هندوانو په کتاب کښې هم د محمد (ص) د راتلو زیری سوی. هغه یې هندي نوم واخیست چې مانا یې ((محمد)) و او د مور نوم یې په هندي کښې نه پوهېږم څه شی و؛ خو مانا یې صلح یانې امن ((آمنه)) وه. دا نو بیخي نادره خبره وه. موږ خو د هندوانو کتاب په اسماني کتابونو کښې نه شمېرو؛ خو دا معجزه وګوره چې په دې کتاب کښې هم زموږ د رسول اکرم ذکر سوی. د ډاکتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرفان خبره رښتیا وه. د دې مناظرې په پای کښې د خلکو له منځه پېنځه کسان راولاړ سول چې موږ ته کلمه راوښییه. دومره خوشالي مې په ګرد عمر کښې نه وه لیدلې. نایک مې ډېر خوښ سو. له ځان سره مې وویل چې دغه سړي خو په رښتیا چې د دین حق یې ادا کړی.

پرسبا یې ما ډاکتر عرفان ته د سي ډي په باب خپل تاثر بیان کړ. ورته و مې ویل چې باور مې نه کېده چې داسې به وسي. موږ هندوانو سره په ځنګ کښې هم نه تېرېږو؛ خو نایک وګوره چې هندوان او عیسویان یې خپل مجلس ته وربللي وو. زه چې ورته ګورم اسلام ته یې ډېره ګټه ورسوله؛ ځکه چې هغوی یې مسلمانان کړل.

ډاکتر وویل: که د ګټې او تاوانه تېر شو نو بله خبره هم شته، رحمان بابا فرمایي:

وارو ته د ځــان په نظر ګــوره که دانا یې

اې عبد الرحمنه جهان ټول عبد الرحمن دی

ما ته خندا راغله. د ډاکتر بابا ګانو ته حیران وم. د رحمان بابا نوم خو مې لا اورېدلی و؛ خو ده حمزه بابا هم درلود.

ډاکتر وویل: که څوک له خدای سره مینه ولري؛ نو د خدای له مخلوقاتو سره به هم مینه وکا. هغه روایت خو به دې اورېدلی وي. وایي کومه بدکاره ښځه وه. ټول عمر یې په فحشاوو کې تېر شوی و. یوه ورځ یو سپی ویني چې له تندې ځل وهلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

په مرګي حال دیه. ښځه له لرې ځایه په خپله موزه کې ورته اوبه راوړي او سپی له مرګه ژغوري. وايي الله پاک د همدې کار په بدل کې د هغې ګناهونه ورته معاف کړل. دا خو حیوان و ؛ نو فکر وکه چې د انسان سره مینه به څومره اجر ولري.

یو بل روایت دیه چې کوم هندو په غزني کې اوسېده. مسلمانانو هغه ځوراوه. هغه بهلول ته شکایت وکړ. وايي بهلول د سلطان محمود غزنوي ورور و. هغه یو فقیر ملنګ سړی و. بهلول ورغی د سلطان محمود دربار ته. د ماښام جماعت تیار و. ټولو په ده پسې اقتدا وکړه. ده د الحمد په قرائت کې د ((رب العلمین)) پر ځای ((رب المسلمین)) وویل، چا ورته فتحه ورکړه چې ((رب العلمین)). هغه له سره شروع کړ. بیا یې ((رب المسلمین)) وویل، مقتدیانو بیا فتحه ورکړه. دا کار څو وارې تکرار شو. بهلول سلام وګرځاوه. سلطان محمود څنې پوښتنه وکړه چې ولې داسې کا؟ بهلول وویل: که خدای پاک ((رب العلمین)) دیه او د ټولو عالمیانو رب دیه؛ نو تاسې ولې هندوان ځوروئ؟ دوی هم د خدای مخلوق دي. بیا سلطان محمود امر وکړ چې نور دې څوک هندوان نه ازاروي. حمزه بابا وايي:

حمزه ډېر مسلمانان شته هم کافر شته په دنیا کې
زه اشنا د هغه کس یم چې روش یې د انســـان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل: د ذاکر نایک کار سم خو دی؛ خو ما ته د میړانې کار نه بریښي. ته اوس کښېنه خلکو ته دلیلونه ووایه چې دا دي و ها دي. دا ډېرې خبرې د ښځو زده وي.

ډاکتر وویل: نو مېړانه په څه کې ده؟

ـ په توره کښې. نر په توره باندې رږغېږي.

ـ کوم شاعر ویلي دي چې:

حباب چې لوي شي؛ نو لاهو شي په سیند

څومره نرۍ ده د مېړانې پوله

عبدالستاره اشنا ! د مېړانې پوله ډېره نرۍ ده، لکه د اوبو په سر حباب. که حباب د خپلې اندازې نه لږ غټ شي؛ نو په سیند کې ډوبېږي، چوي، د منځه ځي، ختمېږي. حباب د غټېدو تاب نه لري. مېړانه که تر حد زیات شي؛ نو د حماقت په سیند کې ډوبېږي. اوس نو د دې فرق چې یو څوک مېړنی دی که احمق، ګران دیه. ډېر خلک پخپله ګومان کا چې مېړني دي، حال دا چې د دوی په مېړانه کې نور خلک خپل مقصدونه لري. زما په ګومان مېړانه په کار کې ده. مېړانه په فکر کې ده. موږ چې کار ته او فکر ته مو ملا ماته ده، ډېر ژر تورې ته لاس اچوو. دا خپلو خلکو ته وګوره چې په یوه لوېشت ځمکه باندې یو بل سره وژني. د خبرو زغم نه لري، دوی په فکر باندې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

مشکل نه حلوی، بس په نه خبره ورور او ورور سره ولي. زموږ خلک خو دې ته هم مېړانه وايي چې خپل ورور ووژني.

تر غرمې پورې مې د ډاکتر په خبرو غور کاوه، ټولې راته سمې ايسېدې. غرمه مهال محسن راغی. پر تندي يې لاس راکښېښوو. ويې ويل: نور به له تا څخه تحقيق نه کوم. ستا د ژوند ټوله کيسه مې واورېدله.

ما ګومان وکړ چې ډاکتر عرفان به ورته ويلي وي؛ خو هغه زما د چپرکټ له پښې څخه يو کوچنی ګردی شی راوايست، ويې ويل: دغه ميکروفون مې دلته لګولی و. تا چې ډاکتر رفيع او خپل اکا سره خبرې کولې موږ اورېدلې. بيا چې دې ډاکتر عرفان ته خپله کيسه کوله، موږ ټوله واورېده. ستا خبرې مو په ټېپ هم کې ثبت کړې دي. البته دا به په محکمه کې تا ته هم ګټه درورسوي. جزا به دې يو څه سپکه شي؛ ځکه چې ته نورو تېرايستلی وې.

هغه د درګاه خوا ته روان سو. بېرته يې مخ راواړاوه. ويې ويل: يو ښه خبرم درته لرم. دې نه وروسته ته اجازه لرې چې د فاميل سره دې په ټېلفون کې خبرې وکې.

له اکا سره مې هره جمعه خبرې کولې. کله کله تورکی هم راسره ږغېده. تر دې وروسته مينه په ورځ کښې يو ځل راتله. هغه هم لکه زما پر حال چې پوهه سوې وي، راڅخه نه وېرېدله. روغبړ يې راسره کاوه. د درد پوښتنه يې کوله چې پښه خو به دې نه خوږېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم په ورين تندي ورسره خبرې کولې. د هغې يو کار راباندې خورا ښه لګېده، هغې هېڅ کله سينګار نه کاوه. همداسې به ساده ګرځېده؛ خو خدای ذاتي ښايست ورکړی و. سترګې يې نه شنې وې، نه زرغونې. د سترګو رنګ يې د دې دواړو تر منځ و. ما په دې رنګ د هېچا سترګې نه وې ليدلې. اوږده بانه يې داسې ګڼ او داسې نېغ وو، لکه د طاووس ښکې چې چجه سوې وي. مخ يې نری و. پزه يې هم د مخ په څېر نرۍ وه. شونډې او زنه يې له مخ سره ښې ښکارېدې. ما ويل چې دا دې په الماري کښې لکه نانځکه ايښې وای او ما يو ازې ورته کتلای.

کاکا سالم ښه د طبعې سړی و. هغه اکثره وخت راته کيسې کولې. د خپلو زامنو کيسې يې کولې چې مازديګر چې دی کور ته ځي، څنګه زامن يې د ده له لاسه کڅوړه تښتوي او کومه ميوه دانه چې پکښې وي، څنګه پرې حملې کوي. دغه کيسه يې داسې په خوند کوله چې هماغه صحنه زما سترګو ته درېدله، لکه په ټې وي کښې چې يې وګورې. ما خو د اولاد مينه نه وه ليدلې؛ خو د ده په کيسو کې مې دغه مينه محسوسوله. کله کله مې په زړه کښې ګرځېدل چې خدای به په ما باندې هم د اولاد مينه وګوري؟ کاکا سالم زه ډېر نازولم. د ماشومانو پوډر به يې زما پر ملا او ولو موښل چې د بستر زخم پکښې پيدا نه سي. د ډوډۍ پر وخت يې زما غاب او کاشوغه په پوډرو باندې پاک پرېولل. د چايو ترموز يې راته وار په وار سره ډک کاوه؛ موږ هلمنديان خو د شنو چايو ګوډي يو. کاکا سالم غريب و؛ خو همت يې زيات و. ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

به یې په خپلو پیسو راته اخیستلې. وایم څوک به د خپل سکه ورور داسې خدمت ونه کي، لکه هغه چې زما خدمت کاوه.

ډاکتر رفیع الله دې هم خدای ژوندی لري، هر وخت به یې پوښتنه رابانده کوله. ټیلفون خو به یې هره جمعه ما ته پرېښود چې له اکا سره خبرې وکم.

څو ورځې چې تېرې سوې ډاکتر عرفان له امنیت والاو څخه زما اجازه واخیسته چې کله کله د روغتون په باغ کښې وګرځم. ده وویل چې لمر زما د پښې لپاره ګټه لري. زه په هفته کښې درې وارې سهار او مازدیګر له سالم سره باغ ته کوزېدم. زه پوهېدم چې امنیت والا مې څاري؛ خو پروا مې نه کوله. ما هسې هم د تېښتې تابیا نه لرله. د روغتون مخې ته لوی باغ و. تر سل جریبه لوی و. د ناجو، سپېدارو او عکاسۍ درختې پکښې دومره ګڼې وې چې د ېرش ګامه ها خوا سړی پکښې نه ښکارېده. دا باغ د روغتون له تعمیر څخه یو څه لرې و. روغتون پر لوړه ځمکه اباد و. له روغتونه تر باغه پورې د ځمکې دوه پوړونه وو. په اول پوړ کښې د کانکرېټي لارې په اوږدو کښې نرۍ چمن ولاړ و. په بل پوړ کښې یو ارت او پراخ حوض و. یونیم ګز به ژور و. د حوض په ګردو د بوالونو پورې د اوبو شرشرې لګېدلې وې او په منځ کښې یې لویې ګردې ډبرې ایښوول سوې وې. د ډبرو سرونه توربخوني وو؛ خو هغه ځایونه یې چې تر اوبو لاندې پټ وو، سپینچکي وو. لکه بزګر چې اورمېږ او مخ یې لمر تور کړي او تټر یې سپین پاته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور، د حوض په شاوخوا کښې ګرځېدلو. چې سترې به سو د ګلابو او د سرو او ژېړو مرسلو په منځ کښې پر چوکیو کښېناستلو. د مازدیګر نرۍ شمال د شرشرو په منځ کښې تېرېده او د اوبو خوږ بوی یې تر مور، رارساوه. ساه مې چې اخیستله، ګومان مې کاوه چې دا خوندوره لنده هوا مې د سږو تل ته ننوځي. د نسترن سپین ګلان د درختې د زرغونو پاڼو په منځ کښې لکه ستوري په اسمان کښې ځلېدل. د اوبو شرهار او د ګلابو وږم سخت خوند راکاوه.

ډاکتر بلال د ذاکر نایک د سي ډي ګانو په کتلو روږدی کړی وم. هغه راته ځینې کتابونه هم راوړي وو. یو پکښې د ساینس او قران کتاب و. په دې کتاب کښې خورا په زړه پورې خبرې وې. هغه څه چې ساینس اوس کشف کړي، د الله په کلام کښې څوارلس سوه کاله پخوا ذکر سوي وو. د دې کتاب په لوستو مې فکر وکړ چې هغه استفاده چې باید مور، له قرانه کړې وای، نورو کړې ده.

یو څو ورځې وروسته یو ډول اوترغوندې وم. لکه یو شی چې مې ورک کړی وي. چې ښه پسې وګرځېدم، پوه سوم چې دا دوه ورځې مینه نه ده راغلې. زه دومره بدل سوی وم او پخپله هېڅ نه وم پوه سوی. ولې هغه نجلۍ چې ما پخوا ورڅخه کرکه کوله، دومره نژدې راته ښکارېده چې زه ورپسې خپه وم؟ پخوا مې هېڅکله د ونو او ګلانو پر لیدو خوند نه و اخیستی. اکا په سرای کښې د شبې ګلان کرلي وو. ما یې وږم محسوساوه؛ خو پر خوند یې نه پوهېدم. خو اوس مې په دې ټولو کښې خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

لیده. ان د مازدیګر د لمر زېړو وړانګو خوند راکاوه. چې ډېر فکر مې وکړ، ما یوازې په ماشومتوب کښې د خوند تجربه کړې وه، هغه هم خورا لنډه موده. زه چې کوچنی وم، د بیسکوټو او د ژاولو رنګه کاغذان مې راټولول، په دې کاغذانو رنګه تصویرونه وو ، له هغو څخه مې خوند اخیست. هغه چې تورکي راڅخه پټول او یا یې څیرل او ما به هغه واهه. زه په همدې چورت کښې وم چې ډاکتر عرفان راغی. ما د مینې پوښتنه ځنې وکړه چې ولې نه راځي؟ هغه وویل:

ناڅاپه چې په یاد شې چې رایاد شې نو رایاد شې

پخوا خو داسې نه و دا خو مینه راته ښکاري

هک پک سوم چې دا څه وایي؟ دی څنګه زما په مینې خبر سوی دی؟

په خندا یې وویل: دا هم د حمزه بابا شعر دیه. هر وخت چې د مینې نوم یادوم دا شعر مې ذهن ته راځي. ښه رښتیا تا د مینې پوښتنه وکړه. هغې د یوې هفتې رخصت اخیستی. ګومان کوم چې واده په مخ کې لري.

یو دم مې زړه وغورځېد. خدای خبر چې رنګ به مې څنګه الوتی و ؛ خو ښه و چې عرفان راونه کتل. زورکي خندا مې وکړه، ومې ویل: ښه نو د چا کور یې وران کړی؟

ډاکتر وویل: واده یې د ورور دیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېرته مې زړه کرار سو. ډاکتر ووت؛ خو زه له ځان سره په جنګ اخته سوم. زه په څه لګیا وم؟ ولې د هغې د واده په خبر ولړزېدم؟

په هغې پسې ولې خپه یم؟

له هغې سره مې څه دي؟

د حمزه بابا شعر مې په غوږو کښې انګازې کولې:

ناڅاپــــه چـــې پـــه یـــاد ســـې چـــې رایـــاد ســـې نـــو رایـــاد ســـې

پخوا خـــو داسې نه و دا خـــو مینه راته ښکاري

ځان مې ملامت کړ. ما وګوره دا وګوره. هغه ښاري نجلۍ ده، مکتبۍ ده، نرسه ده او زه یو کلیوال هلک. زما او د دې کله سره جوړېږي. دا به زما په شان نوکران ولري. بیا که واده هم راسره وکړي؛ نو زمیندا ورو ته به چېرې راسره ولاړه سي. نه له دې مینې څخه څه نه بود ېږي.

بیا مې فکر وکړ چې دا ګردې خبرې یوې خوا ته؛ خو دا به څنګه کړې چې ته د حکومت په نظر مجرم یې. تا به له دې ځایه جېل ته بیايي. د فکر واګې رانه تللي وو. چې هر څه مې کول، پام مې بلې خوا ته نه سو اړولی. هر شي ته چې مې کتل، د مینې سترګې پکښې ښکارېدې. ډوډۍ ته مې خوا نه کېده. تې وي مې چالانا وه؛ خو ژر یې نفس راتنګا وه. که مې کتاب راا خیست، دوه درې کرښې به مې ولوستلې، نور بیا وربانديې نه پوهېدم. یو وخت به مې پام سو چې د کتاب څو مخه مې اړولي دي؛ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو کتابونو پر ليکه نړۍ www.ketabton.com

چې تېرو مخونو ته مې کتل، هېڅ مې نه و په ياد. په باغ کښې مې هم زړه تنګېده. دا يوه هفته دا سې وه لکه څو کلونه.

د جمعې پر ورځ مې له اکا سره خبرې وکړې. هغه وويل چې ادې دې ډېره پوښتنه کوي. هره ورځ ستا هغه دسمال چې له کوټې څخه دې رالېږلی و ، پر سترګو موښي او ژاړي. مورې سبا درروانېږو.

زه نه پوهېدم چې امنيت والا به اجازه ورکړي که يه؟ اوس نو په زړه کښې مې دوې تندې وې، يوه د مينې او بله د ادې د ليدو.

ما يې ښه حساب نيولی و چې مينه به پر شنبه راځي. هغه چې راغله، نه پوهېږم پر ما څه سوي وو؟ تر روغبړ وروسته يې وويل: دا رنګ دې ولې دا سې الوتی؟

ما وويل: نه، نه پوهېږم.

ژبه مې بنديدله. په ټټر کښې مې د تشې احساس کاوه. ګومان مې کاوه چې په سينه کښې مې يو شی کم دی. سر راباندې ګرځېده. مينې د فشار اله راواخيسته. نبض او فشار يې راوکتل. ويې ويل:

اوهو دا نبض دې څنګه تېز دی؟ تبه خو به دې نه وه؟

ما وويل: يه، تبه خو مې نه وه.

ـ فشار دې کښته دی. ته ودرې چې ډاکټر راوبولم.

هغه په ډاکټر پسې ولاړه؛ خو خبره نه وه چې د دې رنځ دوا پخپله دا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس دقیقې وروسته ډاکتر عرفان راغی. په خندا یې وویل: انډیواله څه خبره ده. وایي فشار دې کښته شوی؟

هغه مې هم نبض او فشار وکتل. ویې ویل: هېڅ خبره نشته بابا. زه یې وارخطا کړم. زه پوهېږم چې ټوله ګناه د مینې ده.

حیران وم چې ډاکتر زما په مینې څه پوه سوی دی؟

وارخطا مې وویل: د مینې؟

هغه وویل: خود. دا یوه هفته چې په رخصت تللې وه، هرڅه یې هېر کړي دي. ستا فشار بېخي سم دیه. نبض دې برابر دیه، هغه وایي چې فشار یې کښته دیه.

ایله چې زړه مې خپل ځای ته راغی.

ډاکتر وویل: نن به دې د پښې اکسرې واخلو. که هرڅه سم وو؛ نو د اپراتو وخت پوره دیه وبه یې باسو.

د هغه خبرې داسې مړاوی کړم، لکه پر سکروټو چې اوبه وشیندې. زړه مې غوښتل چې نور هم په روغتون کښې پاته سم. په زړه کښې مې دعا کوله چې د هډوکي ترمیم نه وي پوره سوی. عجبه دنیا ده، سړی پر مریضۍ خوشاله وي.

وروسته مینه راغله. دوسیه یې راواخیسته، ویې ویل: درځه چې اکسرې ته ولاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

دا مخته سوه زه ورپسې. په مور پسې د امنیت والاو عسکر روان و. یوه خبره مو هم سره ونه کړه؛ خو بس پر همدې خوشاله وم چې دا راسره ده. زړه مې داسې پرې ډاډه و لکه ټوله دنیا چې راسره وي.

اکسرې سمه وختله. ډاکتر وویل چې سبا به اپرات لرې کوي. ما ورته د مور او د اکا د راتلو خبره وکړه. ورته مې وویل چې د هغوی تر راتګه دې صبر وکړي. خدای دې یې اباد لري. دغه ځوانۍ یې هم راسره وکړه.

بله ورځ مې اکا دوی راورسېدل. ډاکتر عرفان له امنیت والاو څخه د ملاقات اجازه واخیسته. دا اول ځل و چې د اکا د لاسونو مچول خوند راکړ. ادې خو په ژړاوو سترګې سرې کړې.

مینه راننوته.

سر مې کښته اچولی و. ادې ته مې وویل: دا مینه ده. زما یې ډېر خدمت کړی.

ادې ولاړه سوه. د مینې مخ یې په دواړو لاسو ونیو. شونډې یې د هغې پر تندي ولګولې. داسې یې ښکلوله چې ته وا ځو کاله وروسته یې خپله سکه لور لیدلې ده. درګرده یې وویل: بلا دې وګرځم لورې. جار دې سم. کوربان دې سم.

هم راته خندا راغلې وه، هم وېرېدم چې پر مینې بده ونه لګي. ږغ مې وکړ: ادې مه یې ځوروه.

هغه یې خوشې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینې ته مې وویل: بخښنه کوه. ادې مې کلیوالې چمونه کوي.

مینې وویل: پروا نه لري. خپله مور به هم همداسې نازولم.

ډېر یې غریو نیولی و. چې پورته مې وکتل، د مینې پر سترګو اوښکې رغړېدې. ادې هغه په غېږ کښې ټینګه کړه. ویې پوښتله: ولې لورې؟ واری دې سم ولې ژاړې؟

هغې وویل: هېڅ. همداسې، مور مې را یاده شوه.

- مسا پره ده؟

_ نه مورې. هغې سرطان درلود. پېنځه کاله مخکې

ژړا نورو خبرو ته پرې نه ښوده.

ادې هغه په غېږ پورې ونیوه، بیا یې پر سر لاس تېر کړ. د کوټې په بل سر کښې یې چوکۍ ورته کښېښوه. دواړه هورې کښېناستې. زه یې بیخي هېر سوی وم. له هغې سره یې جلا مجلس جوړ سو. ما هم د هغوی خبرو ته غوږ نیولی و، هم مې له اکا سره دا غږ ها غږ ویشته.

نیم ساعت د سترګو په رپ کښې تېر سو. امنیت والا درګاه وټکوله چې دوی باید رخصت واخلي. ډاکټر رفیع الله را ورسېد. ادې او اکا یې خپل کور ته بوتلل.

ادې د مخه ښې پر وخت په غوږ کښې را ته وویل: ډېره ښه نجلۍ ده چې خپه یې نه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ

بله ورځ ډاکتر بلال اپرات خلاص کړ. پر سبا یې زما دوسیه امنیت والاو ته سپارله. په زړه باندې مې غمونه امبار وو. نه پوهېدم چې حکومت به راسره څه وکړي؛ خو د مینې یادونو لکه د خواږه خوب اثر خوشحالولم.

هغه شپېه راورسېده چې زه یې له روغتون څخه بیولم. اکا او ادې راغلي وو. له ډاکتر رفیع الله او کاکا سالم سره تر غاړې ووتم. ډاکتر رفیع الله وویل چې په چاروا کو کښې یو څو کسان پېژني او زما سپارښتنه به ورته وکړي.

ادې په یوه کونج کښې د مینې لاس په لاس کښې نیولی او بنډار یې ورسره جوړ و. د اکا او بیا د ډاکتر عرفان لاسونه مې ښکل کړل. ډاکتر خپل لاسونه شاته کښې کړل. ویې ویل: دا څه کوې؟ ما په ګناه مه اخته کوه.

ورسره تر غاړې ووتم. ومې ویل: تا د ژوند پر مانا پوه کړم.

ادې ښه ډېره شپېه په سینې پورې لګولی وم. ما یې لاسونه ښکل کړل.

مینې ته مې وکتل د خدای پاماني د ویلو وس راکښې نه و. د هغې په لاس کښې زما هماغه دسمال و چې ادې پکښې ګلان ګنډلي وو. دا لومړی ځل و چې نېغ مو یو بل ته سره وکتل، بیخي سره سترګې په سترګو کې وو. په زړه کښې مې ورته وویل: ما ته به انتظار وکړې؟

هغې سترګې ټیټې کړې.

او ما د هو مطلب ځنې واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای

کابل ۱۳۸۸د زمري لسمه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**